شهامت

کالګڼه

زموږ برخه، په اوسني سره جګړه کې !

ووم کال شیږمه ګڼه، پرلیسي ۴۴ . جمادی الاولی ۱۴۳۵هق. مارچ ۲۰۱۴م

مطبوعاتي جنګ چا ګټلی ؟

دکالګڼې دسرلیکنې په دود څو خبرې!

دهېواد په مطبوعاتو کې دعالمانو ونډه !

امریکا له افغانستانه وځي که ...

دنني جهاد پرمخبون کې شاعرانه انځورونه !

دعوت و ارشاد کمیسیون په ۲۰۱۳ زکال ...

د تعلیم او تربیې د کمیسیون ...

په روان جهادکې دټرنم درنه ونډه !

آیا امریکا تا اخر سال ۲۰۱۴ ...

دادب په ګلبڼو دمعجزانه بهار...

د جګړې په لومړي کرښه کې ټاکنې ...

د ډاکټر ذاکر نایک په اړه داسلامي نړۍ ...

روسیه دېخواني شوروي په پله ...

وروستیو فدایي بریدونو دامریکا...

سیاسي تحلیلګر ښاغلي خبیر احمد...

آمریکا ؛ نماد استکبار و زورګویی !!!

دشهید شیخ دوست محمد رح ژوند او...

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

اووم کال شپږمه ګڼه، پرلپسې۴۴، جمادی الاولی ۱۴۳۵هق، مارچ۲۰۱۴ م

لړلیک

ګڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه	۱
۲	دجګړې په لومړۍ کرښه کې تاکنې څومره دبریالیتوب...	۴
۳	آیاامریکاتاآخرسال ۲۰۱۴ افغانستان را ترک خواهد.....	۸
۴	دهیواد په مطبوعاتو کې دعالمانو ونډه.	۱۱
۵	دنني جهاد پرمخیون کې شاعرانه انځورونه.	۱۸
۶	زمونږ برخه، په نني سره جګړه کې.	۲۴
۷	امریکاله افغانستانه وځي که دخپلې جګړې شکل بدلوي.	۲۸
۸	په روان جهاد کې دترنم درنه ونډه.	۳۹
۹	مطبوعاتي جنګ چاګټلی؟	۴۲
۱۰	دسوړ جنګ ګرم ډګر اودمسلمانانو نه دوخت غوښتنه.	۴۸
۱۱	دتعلیم اوتربیې دکمیسیون هڅې اوبریاوې.	۵۱
۱۲	ګلورینې پاڼې.	۵۶
۱۳	وروستیو فدایي بریدونو، دامریکا، ناټواو کابل رژیم ...	۵۸
۱۴	دادب په ګلبڼو دمعجزانه بهارپېر زوینې او لورینې ...	۶۰
۱۵	له لیکوال او سیاسي تحلیلګر ښاغلي خبیر احمد سره...	۶۵
۱۶	ددعوت وارشاد کمیسیون په۲۰۱۳ زکال کې.	۶۹
۱۷	دکاناډایي پرغلګرو تېښته.	۷۳
۱۸	داسلام اساسات، داصول فقه دعلم تدوین.	۷۶
۱۹	اسلامي هیوادو کې داسلامیت اومغربیت کشمکش.	۷۸
۲۰	دشهید شیخ دوست محمد رح ژوند او کارنامو ته لنډه...	۸۲
۲۱	داصول فقه اواجتهاد تاریخ.	۸۹
۲۲	ایا رښتیا داوکراین په سر دنړیوال جنګ خطر زیاتیږي؟	۹۱
۲۳	دګوانتنامو بدنام زندان اودنړیوالو چوپتیا.	۹۵
۲۴	ایثار وفداکاري در اسلام.	۹۸
۲۵	دډاکټر ذاکر نایک په اړه، داسلامي نړۍ دستر علمي ...	۱۰۱
۲۶	روسیه دپخواني شوروي په پله.	۱۰۶
۲۷	استخاره چیست وچګونه صورت میګیرد.	۱۰۹
۲۸	امریکا، نماد استکبار وزور ګویي.	۱۱۱

دامتیاز خاوند:

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسـؤل مدیر:

ابو ظهیر

کتنـپـلاوی:

شاهد "حقاني" لطیف عزم
حسن "علوي" بلال "وحید"
نعیم "صافی" عابد مجاهد
قاري حبیب

بیـه:

یوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل:

زرملوال او حقمل

یادونه

شهامت له سرمقالې پر ته دنورو لیکنو
مسؤلیت په غاړه نه اخلي

ادرس: کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان   برېښنالیک: Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

له نیکه مرغه! د مطبوعاتي نوښت او ابتکار په توګه د شهامت اووم خپرنیز کال په پای ته رسیدو او دتیرې اووه کلنې دورې دجهادي سیر، علمي، سیاسي، تاریخي او ادبي بریاوو دلمانځلو په ویاړ دادی د منان څښتن (ﷻ) د بې پایه لورینو په مرسته ،د متعهدو لوستونکو په هڅونه او د تاندو استعدادونو دعلمي ،جهادي او سیاسي روزنې دښې ودې او ښیرازۍ پخاطر د اووم کال "کالګڼه" وړاندې کوو.

فالحمد الله فی البدایة والانتهاء، والشکر له فی السراء والضراء.

ښکاره ده د انسان په شخصي ژوند کې دعمر اووه کلنۍ دوره تانده او نوخیز مرحله ده، په دغه موده کې دانساني شباب او کمال ټولې رنګینۍ، ذهني صلاحیتونه اوجسماني وړتیاوې په معصومانه پردو کې پوښلې وي ،چې دښو اوبدو ترمنځ دتمیز اوبېلتون کرښې نه پیژني او راتلونکي یې د"عدم او وجود"تر منځ معلق وي.

دلته ددې فلسفې ژوروتـه نـه ځو ،ولې دنیا دفلسفې انـدونو اونظریاتو په ځای ؛ډېره د کار اوعمل میدان ده، دولسونو په عروج او زوال کې کلونه ،نه؛ ثانیې او دقیقې هم ارزښت لري، کومو ولسو ته چې دوخت قدر معلوم دی، هغوئ سپیرې دښتې په ښو بدلولی شي، ځمکه اوفضا قبضه کولی شي، هغوئ دزماني دقیادت اورهبریت واګې لاس کې نیولی شي، نپولین په استرلایانو د خپل بـري راز داګانـه چې: "هغوئ تـه دپنځـو دقیقـو ارزښت نـه وو معلوم... او هغه هم بیا په "واټرلو" میدان کې دشکست ترخه پیاله په دې غوړپ کړه، چې دجګړې په سهار هغه او جنرال یې څو ګرانبیه دقیقې ضایع کړې اومقابل جنرال(بلوشر) څو دقیقې وړاندې میدان ته راغی، په هغو څو دقیقو کې دنپولین واکمنۍ ټغر ټول او دملیونو خلکو په بیګاه اوسبا کې بدلون راغی.

رازو دیته چې دنړۍ دبیدارو او ویښو ولسونو په ژوند کې اووه کاله نه؛ اووه ساعته او اووه دقیقې هم قدروقیمت لري او ضایع کول یې دځان وژنې مرادف عمل بولي.

پوهان وایي :دانسان له تیروتنو یوه لویه دا ده چې همیش دخپل ماحول له تاثیرنه مرعوب وي اوخپلو کمزوریو ته پام نه اړوي،دخپلو کړنو احتساب پخپله نه کوي، پکار ده، هر سړی ددینه وړاندې چې د"یمین اویسار" قلموال ورتـه خپله عمل پاڼه مخکې کړي، دڅو ثانیو او دقیقو ځنډ لپاره خپلو کړو وړو ته دمحتسب په نظر وګوري اوخپل ضمیر په مخاطب کولو ووایي :

اقرأ كتابک، كفى بنفسک اليوم عليک حسيبا(۱۷:۱۵)

دخپل عمل پاڼه ولوله! نن بل محاسب ، کاتب او شاهد ته اړتیا نشته ستا خپل ضمیر ستا (داحتساب) لپاره بس دی.

په دې ارزښتمنو پاڼو کې مونږ دماده پال لیکوالو پشان دا دعوه نه کوو چې ګواکې په تیره اووه کلنه ماضي کې مونږ، دا کارونه او خدمتونه کړي، خلک دې مونږ ته په دوه لاسي سلام راشي!! داادعاء هم نه کوو چې شهامت پخپل اووه کلن علمي او جهادي سیر کې یومخ تیروتنې او نیمګړ تیاوي نه لرلې،دالاپه هم نه کوو چې شهامت له هر پلوه مثالي او دمعیار په تول پوره وه، برعکس دبریاوو او لاسته راوړنو ترڅنګ په هغو نیمګړ تیاوو او تیروتنو، چې دهرې خپرونې او نشریې سره ملې دي، پخپل ضمیر او وجدان کې هغه حسوو او پرې اعتراف لرو، ډیر ځلي علمي اوعملي کمزوریو دبریاوو له منزل لري کړي یو، هغسي چې اړتیا وه په مضامینو ، لیکنو او تحلیلونو کې د راښکون او جالبیت تومنه، دتنوع او تفنن رنګونه کم وو، دګڼو موضوعاتو په اړه قلم پورته کول اړین وو،لیکن د نفساني کمزوریو له امله نه یوتوانیدلي...

البته که ددې ترڅنګ په دې بل اړخ هم فکر وکړو چې مونږ داسبابو په دنیا کې اوسو، وسایلو او اسبابو ته له اړتیا مستغني نه یو، پریمانه وسایل او دمجربو همکارانو شتون هغه څه دي چې وربانډې اتکا او باور کیږي له رول او تاثیره یې څوک انکارنلري ، دفکري او معنوي غورځنګ دتقویت لپاره یې اړین بولي، که دصلیبي اشغال داختناق هغه ترخې شیبې او کړ کیچن شرائط په زړه کړو چې داسلامي امارمشرتابه په امر فرهنګي چارو کمیسیون د خپلو نشراتو پیلولو تابیا وکړه او په اول قدم کې څرک اوبیا شهامت مطبوعاتي نړۍ ته را ووته، صلیبي ائتلاف دپوځي یرغل ترڅنګ له ټولو عصري و سایلو نه په ګټه دافغان مسلمان ولس دبې لارې کولو اوزمونږ په دیني، کلتوري او اخلاقي ارزښتونو دیرغل په موخه سلګونه چاپي او بریښنایي خپرونې په کار اچولې او زرګونه کرایې قلموال او کتونکي یې ګومارلي وو، ټوله زمکنۍ کره دامریکایانو دفرمایشي اوجعلي تبلیغاتو تر پوښښ لاندې وه، افغانستان کې ښکاره واقعیتونه یې معکوس اوسرچپه تعبیرول،دامریکا اوناټو وحشتونه اوجنایتونه یې له خلکو پټول.

په دې علاوه درعب او ډار خپسه دومره عامه اود هر چا له بره ختلې وه، چې په وجه یې دډیری نوماندو قلموالو ،لیکوالو اوبناوالو ژبې ګونګې ،خولې یې بندې اولاسونه یې شل وو، دهغوئ په روحیاتو د لړزې څپه دومره سوره وه، دامریکا سره جنګ ورته د غره سره سرجنګول ښکاریده: څینو ویل دا موسم !اوپکې دا تخم کرل... کله مناسب دی؟..... جهادي سبک ...جهادي لهجه ... او دازادۍ په اسلوب.... دلیکلوزمانه... تللې .... افغانستان ته نوې نړۍ راغلې.... نوی موسم... نوې هوا.... نوی تخم ... اونوې اوبه دي...

په داسي ترهیدلې فضا کې څوبادر که مجاهدو قلموالو اولیکوالو په تاندو قلمونو دمجهزې صلیبي میډیا تبلیغات او نشرات وننګول! اوپه نره یې له هغوئ سره سیالي وکړه،هغوئ په هڅاندو فکرونو دجهاد اومبارزې ریښې وغځولې ،دهیواد دازادۍ علمبردارو ته یې ددښمن په وړاندې دثبات، صبر ،اواستقامت روحیه ورکړه، ددښمن جنګي،سیاسي او تبلیغاتي دسیسې یې رسوا کړې او په مجاهدانه فکري قلموال مجاهدین اومبارزین وروزل، اسلامي استعدادونه، فکرونه او ذهنونه یې تنویر کړل، ددې بیمثاله مسولانه ګامونو په برکت، دادی دنومیالیو لیکوالو دنه همکارۍ باوجود، دامینتي اوروحي ستونزو او کړاوونو باوجود، داسبابو او وسایلو دضعف باوجود،د فني او مسلکي تجربې نشتوالي باوجود، ۲۱ پیړۍ دلوی افغان جهاد اهدافو تمثیلوونکې اوترجمانې مجلې په حیث په مطبوعاتي افق دشهامت روڼ اوځلیدونکی شتون! او په ازادۍ مین قشر کې لا مثال مقبولیت داسي کار نامه ده چې دهیواد

دمطبوعاتي تاريخ نن اوپرون دواړه يې له بېلګې وړاندې کولو نه عاجزې ښيي.

دنن اوپرون دا مقايسه داړ رابښي او ايمان مو محکموي چې حق زوال نلري!! حق پالنه اوربښتنپالنه ناکامې نلري، هر عمل اوهر کار ضايع کيږي، مګر يو عمل د﴿ اَنِي لا اُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنكم﴾ په اصل زوال نلري.

هو! پوره داړلرو چې دالله (ﷻ) دبنده ګانو له منځه رښتين پالان دشهامت په اړه نهيلي ونلري، که دشهامت تېره ماضي دشابس او مبارکۍ وړ نه بولي، خوپېرې دملامتيا غشي به هم پرې ونه وروي! او خوښ يو چې ضمير مو دستاينو اوتحسين تږى ندى.

داچې شهامت په تېره موده کې څنګه وکړاى شول ،دوامدار ترخپلو لوستوالو و رسي؟ رښتيا " دمجلې او خپرونې چلول د خپل زړه وينې څکل دي!" شهامت چلوونکي هم داسي وبولئ! هيڅ ګنه په اسانه اولنډه تر لوستونکو نده رسيدلې ! دډېرو خواريو کښلو ،زحمتونو ګاللو اودزړه په وينودتورو ليکلو وروسته يوه مجله ددې وړ کېږي چې د لوستونکو جهادي، علمي او ادبي تنده ماته کړي، په تيره موده کې له څنډ او وقفې پرته تر پرهنګپالو د شهامت رسيدل د خپرونې او نشريې په حيث دشهامت لپاره له برياوو ډک وياړدى!بل ډېرو ته دا نه ښکاري چې دمجلې هره ګڼه په څومره زيار ،څومره کوښښونو او دڅومره ستړياوو وروسته دچاپ ترمرحلې رسي؟ په دې معنى چې دليکوالو لخوا دليکنو مواد مندل، په فارغ ذهن، سرو مغزو اوهڅاند فکر هغه دليکنې داملا ئې اوانشائې مرحلو(تخطيط ، تسويد او تبييض) تيرول ،مسوده تيارول، د مختلفو ليکوالو ليکنې راغونډول ، يوه، يوه له نظر نه تيرول، دهغو د کمپوز ونې چارې سرته رسول، پروف تصحيحول، دښه او بد، د کره او کمزوري مضمون په باب پريکړه کول، هره ليکنه او شعر د پاليسۍ په ليد سانسورول، ډيزاين چارو څاراوتنظيمول، زياتره وخت دشپې تر دوه بجو ناسته او کار کول ، کله په شپو، شپو دکار اوزيارله امله ذهن ،قلم اوحوصله ټول ځواب ورکړي، کله چاپ ته په ليږدکې ځوساعته پاته وي، پکې له پنځو ترلسو مخونو پورې دليکنې اړتيا وي، د کوچنۍ تيروتنې په اړه غفلت ياتسامح دلوى زيان اوسرخوږي لامل ګرځي ، کله يوه مجله په اتيا يا نوي مخونو کې له چاپه ووځې ، که چا ته پکې لس دولس ليکنې ګټورې ښکاري او يوه نيمه ليکنه يې دمزاج نه لږ کره يا په طبعه برابره نه وه، هغه ته ټوله بې ارزښته وې !

لنډه دا دمجلې ، ورځپاڼې چلول دومره اسان کار ندى څومره چې لوستونکي په باب يې ژر قضاوت اوپريکړه کوي، فکر کوو په دې اړه دنور سرګزشت راسپړل به ضروري نه وي، ولې زمونږ مخکې دماضي په ځاى راتلونکى دى، دماضي نه قدم په قدم لرې وځو اومستقبل ته نژدې کېږو، راځئ! مستقبل ته اوګورو! دپيل هغه خبره چې دنيا دار العمل ده، زمونږ په ذمه کوم کاراو خدمت دى، هغه دبنونو او چمن په غاړو نه، بلکې داغزيو له بره تګ غواړي، مونږ سره الله (ﷻ) داوعده نده کړي چې خامخا به هغه مونږ ته ددنياوي ژوند ټول راحتونه او اسباب برابروي، ژوند دجنګ تود ډګر دى، دکار او خدمت معنى داده چې دتورو اونېزو سيوري لاندې هم ترې مخ په بله تاونکړو ، دسمندر څپو کې لامبو وهونکى ممکن ځان ته دنجات لار پيدا کړي خو دساحل په غاړه دسمندر څپوته دپاى په هيله ناست تن شايد له انتظار نه سيوا بل څه ونه مومي، دبښونکي خداى ښښلي استعدادونه ددې په ځاى چې معطل پاته وي غوره ده چې دملت دبيدارۍ او ازادۍ په ښه وکارول شي، دسمند ر څپو دپاى په هيله انتظار کولو په ځاى سمندرکې دپوريو تو تدبير اوفکرغوره دى ،په ماضي کې دبحث اوغرېدو په ځاى غورده چې د مخکې تګ او مستقبل په پړاونو فکر وشي ......!

ټاکنې څومره د بریالیتوب چانس لري؟

شاهد 'غزنیوال'

د سر خبرې :

روان میلادي کال د افغانستان د یرغل په ۱۳ کلن تاریخ کې نهایت حساس او پرْ اهمیته کال دی.

د سږ کال په اپریل کې به د یرغلګرو له دستور سره سم پلان شوې انتخاباتي درامه نمایش ته وړاندې کیږي او د همدې کال په پای کې به ټول راغلي یرغلګر په څوړ نده سر له افغانستانه وزي.

بهرني یرغلګرو چې د خپل ۱۳ کلن اشغال پرمهال په افغانستان کې په پوځي، سیاسي، فکري او فرهنګي پروژو کومه پانګونه کړې په داسې حال کې ترې په شاکیږي چې هیڅ لاسته راوړنه ترې نه لري.

له امنیتي او پوځي اړخه بهرني یرغلګر د ارګ او امریکاسفارت په تکاوبو کې ځان خوندي نه ګڼي.

له اداري اوسیاسي اړخه یې تحمیلي نظام په نړیواله کچه په فساد کې ډوب دی.

او له فکري او فرهنګي اړخه مسلمان افغانان د دوی راوړې مفکورې ته د ناولې غربي نظریې په ستر ګه ګوري

په افغانستان کې د امریکایانو، ناټو ترون او ټولو بهرنیانو د ۱۳ کلن پوځي یرغل یواځینی محصول په اصطلاح افغان ملي اردو دی کوم چې د دوی په وینایي کلنی لګښت ۶ملیارده ډالره اټکل شوی دی.

امریکایان او نور ایتلافي اندیوالان یې په هره خارجي او داخلي غونډه کې داغورې کوي چې زمونږ په لاس روزل شوی افغان ملي اردو کولای شي زمونږ په نه شتون کې د دښمن (طالبانو) مقابله وکړي، خو اوس د ضرورت پرمهال یې دهغو روزل شویو پوځیانو مجهزوالی هم مالوم شو چې له خپلو ټولو پوځي تجهیزاتو او پرمختللیو تسلیحاتو سره سره د ارګ په خوله کې د څلورو توفنګچه لرونکو مجاهدینو د مقابلې ځواب نشي ویلای، او لوړ رتبه افسرانو یې په خپله خوله اعتراف کوي چې مونږ د مجاهدینو ددغه ډول پیچلیومحاربوي تکتیکونو د مقاومت توان نه لرو.

په دغسي خطرناکو امنیتي شرائطو کې د ټاکنو تر سره کیدل څومره شوني دي؟

پر ته له دې چې انتخابات او د هغو دتر سره کولو کیفیت د اسلامي علماوو ترمنځ یوه اختلافي موضوع ده د افغانستان په اوسنیو خطرناکو امنیتي شرائطو کې د هغو تر سره کول ناممکن کار ګڼل کیږي.

څکه د انتخاباتي اصولو له مخې ولس ته باید ترهرڅه وړاندې داسې یوه پرْ امنه فضاء برابره شي چې هغوی وکړای شي په خپله خوښه د خپل مورد نظر کاندید په ګټه رأیه وکاروي، خو په افغانستان کې اوس په ټولیزه ډول ټول ولس د

بهرنيانوله لوري يرغمل دي او هيڅ څوک په خپلواکه توګه د خپلې رايې کارولو واک او صلاحيت نه لري.

د بېلګې په توګه حامد کرزی د هيواد دلومړي نمبر مشر په حيث له تيرو څلورو مياشتو راهيسې په اجباري ډول د يرغلګرو لخوا ديته اړيستل کيږي چې له هغوی سره امنيتي تړون لاسليک کړي ، دکرزی لخوا د انکار له کبله نوموړی تر سخت فشار لاندې نيول کيږي او د مرستو بندولو اختارونه ور کول کيږي، چې دا په حقيقت کې د يـر غلګرو تـر اشـغال لانـدې د ټولوافغانـانو د عدم استقلال اونه خپلواکي تر ټولو روښانه ثبوت دی.

څکه په يوه هيواد کې چې د هغه دسر سړی خپلواک اوخپل اختياره نه وي ، نو هلته به نور حکومتي منسوبين او عادي کليوال څرنګه خپلواکه وي اوڅه ډول به په خپله خوښه د خپلې خوښې

کانديد ته رايه ور کړي.

د کانديدانو ټاکل اوبريالیتوب د بهرنيانو قبلي پريکړه ده نه ولسي رأيې

په دې کې هيڅ شک نشته چې روان انتخاباتي بهير په مجموع کې د بهرنيانو ديوې قبلي پلان شوي پروسې په حيث تر سره کيږي نه دواقعې خپلواکو ،شفافو او عادلانه ټاکنو په توګه.

څکه په دې ټاکنو کې محوري کانديد زلمی رسول دی کوم چې په پوره ناخبري کې دنورو جهاتو لـه لوري ولسمشريزو انتخاباتو تـه په تحميلي ډول کانديد شوی او دی خپله د خپلې کانديتوري په برخه کې هيڅ رول نه لري.

خو د دې باوجود بياهم ټول خلګ د سر په سترګو وينې چې په دولتي سطحه د نوموړي د بريالیتوب لپاره څومره کوښښونه کيږي ، تر دې چې حامد کرزي خپل ورور قيوم کرزی مجبور کړ چې د نوموړي په ګټه تـر خپلې نوماندې تيرشي ، همداراز د ولسمشريزو ټاکنو لپاره دوه نور کانديدان جنرال عبدالرحيم وردګ او نادرنعيم هم د کرزي لخوا مأمور شول چې د زلمي رسول په ګټه له خپلې نوماندې لاس په سرشي.

کوم کسان چې تر اوسه د کرزي په مخفي دستور د زلمي رسول په ګټه تير شوي هغوی هم په سياسي اوهم په اجتماعي لحاظ تـر زلمي رسول د زيـات نفـوذ او وجاهـت خاونـدان دی ، خو داچې د پريکړو او دستور ور کولو واک د بهرنيو لورو په لاس کې دی نو هغوی بې چون اوچرا د يوه داسې چا په ګټه تر خپلې نوماندې تيريږي چې خپل د انتخاباتي بهير ملګري يې بې ناموسه او ريموټي کانديد بولي.

له زلمي رسول څخه د کرزي ملاتړ تر دې کچې رسيدلی چې د مارچ دمياشتې په ۲۳ د ټاکنو د خپلواک کميسيون وياند نورمحمد نور ازادي راډيو ته وويل چې د پکتيا ولايت چارواکي په ښکاره د زلمي رسول په ګټه له دولتي وسايلو او امکاناتو څخه استفاده کوي .

نوموړي په همدې مر که کې وويل چې په پکتيا کې د دې ولايت والي جمعه خان همدرد، دهغه سکر تر او نور دولتي کار کوونکي په ښکاره د زلمي رسول لپاره کمپاين کوي او دهغه د کمپاين لپاره له دولتي وسائلو او امکاناتو څخه کار اخلي حال

داچې د ټاکنيزو مقرراتو له مخې هيڅ دولتي چارواکی حق نه لري چې د کانديدانو په کمپاينونو کې ګډون وکړي او يا دولتي امکانات د هغوی په واک کې ور کړي.

کرزي د ولسي جرګې د نوې تقنيني دورې د پيل په مراسمو کې ويلي چې زه له بهرنيانو غواړم چې د افغانستان په انتخاباتو کې لاسوهنه ونه کړي، په همدې مهال د ولسي جرګې په تالار کې يو شمېر ناستو وکيلانو پرې ږغ کړ چې تاسو هم بايد د کوم مشخص کانديد حمايت ونه کړئ! چې دهغوی موخه له زلمي رسول څخه د کرزي ملاتړ وه.

کرزي د وکيلانو په ځواب کې ويلي چې له يوه،نيم کانديد پرته، چې په حکومت کې ملاتړ نه لري، د نورو ټولو کانديدانو ملاتړ کوونکي په حکومت کې شته.چې د کرزي دغه ځواب په حقيقت کې له زلمي رسول څخه د ده د ملاتړ ضمني اعتراف وه.

روان امنيتي وضعيت پر انتخابي بهير څومره اغيز لرلای شي.

له کله چې يوه مياشت تر مخه د ولسمشريزو ټول ټاکنو لپاره انتخاباتي سيالی پيل شوې تراوسه د هيواد په مرکز او ولايتونو کې د مجاهدينو يوځي عملياتو هم ورسره زور اخيستی تر دې چې ځينو ولايتونو ته ټاکنيز مواد په الوتکو کې وړل کيږي او رژيم له خپلو ټولو هغو ادعاګانو سره چې د انتخاباتي بهير د امنيت د تأمين لپاره يې کوي نشي کولای چې دځمکې له لارې دانتخاباتي کمپاينرانو او دهغوی دليږد وونکو تو کو امنيت خوندي کړي.

که څه هم چې دفاع او داخله وزارت د انتخاباتي بهير د امنيت ساتلو لپاره د ۴۰۰ زره امنيتي ځواکونو د توظيفولو اعلان کړی او په ټول هيواد کې د انتخاباتي مرکزونو دتأمين ذمه وهلې، خو خپله د انتخاباتو خپلواک کميسيون د هغو په خبرو باندې باور نه لري او وايي چې د انتخاباتي مرکزونو په اړه چې کوم ارقام امنيتي ارګانونو موږ ته راکړي، او په هغو کې د هيواد په بيلابيلو برخو کې نا أمنه مرکزونه مشخص کړي ول، هغه ارقام دقيق نه دي او دنا أمنه مرکزونو شمير تر هغه ډير زيات دی چې دوی موږ ته په ګوته کړي ول.

په دې اړه خپله د ټاکنو د خپلواک کميسون وياند نورمحمد نور د مارچ دمياشتي په ۲۷ له رسنيوسره په خبر ګندونو کې وويل چې د کورنيو چارو وزارت موږ تــه لــه ۶۷۷۵ مرکزونو څخه يواځې ۳۹۶ مرکزونه نا امنه معرفي کړي ول خو زموږ خپل معلومات دا دي، چې د کورنيو چارو وزارت ارقام په دې اړه دقيق نه دي،ځکه نورهم ډير داسې مرکزونه چې هغه د طالبانو لخوا ترجدي ګواښ لاندې دي.

نورمحمد نور په دې اړه له ازادی راډيوسره په مرکه کې وويل چې موږ خپل يو شمېر کتوونکي د راپې ور کولو مرکزونو د وضعيت ځيرلو لپاره سيمو ته وليږل چې دهغوی دعيني مشاهداتو ترمخه دناامنو مرکزونو شمېرډير زيات دی چې له امله يې کيدای شي د انتخاباتو په ورځ يو شمېر مرکزونه تړلي پاته شي.

د نور محمد نور د خبرو په تائيد د مارچ دمياشتې په ديرشمه د ټاکنو د کميسيون د دار الانشاء رئيس امرخيل هم وويل چې د انتخاباتو د نيټې په رانيږديکيدوسره پرېخوانيو ناأمنه مرکزونو نور هم وراضافه شوي چې مجموعي تعداد يې ۷۴۸ مرکزونو ته رسيږي او نورهم دزياتيدلو احتمال لري.

نړيوال څارونکي د نا امنيو له وجې انتخاباتي بهير نشي څارلی.

د انتخاباتي مرکزونو د امنيت د نه خونديتوب تر څنګ د انتخاباتو بهرني څارونکي او د انتخاباتو د کميسيون کار کوونکي هم د انتخاباتي بهير څارلو او په هغو کې کار کولو ته زړه نه ښه کوي.

وروسته تر دې چې د کابل په سرينا هوټل باندې د مجاهدينو د يوه تکتيکي بريد په ترڅ کې دانتخاباتو د څارونکې ډلې (اېن دي اې) يا ښنل ډيمو کريټک انسټيټيوټ نړيوالې اداري څلور بهرني غړي ووژل شول له دې سره سم د يادې مؤسسې ټول کار کوونکي له افغانستانه ووتل.

د هغه په تعقيب چې مجاهدينو د دارالأمان په سيمه کې د ټاکنو دځېلواک کميسيون پرولايتي دفتر او په شپږمه ناحيه کې د روټس اف پيس (Roots of Peace) بهرنۍ موسسې پر ميلمستون بريد وکړ نو د اروپايي اتحاديې بهرني ناظرين کوم چې لاهم د انتخاباتو د څارلو په هيله په افغانستان کې پاتې ول، له خپل تصميم څخه صرف نظر او له کابله د وتو په فکر کې شول. تر دې چې د مارچ د مياشتې په ۲۰ نيټه د ټاکنو د نظارت او څارنې لپاره د اروپايي اتحاديې د ناظرينو تر څنګ د ازادو ټاکنو لپاره د اسيايي نېټ ورک ناظرين (ANFREL)، په اروپا کې د امنيت او همکارۍ نړيوال سازمان ناظرين (OSCE) او د نورو نړيوالو سازمانونو لسګونه څارونکو له افغانستان څخه د بېرته وتو پريکړه وکړه

د بهرنيو ناظرينو د دغې پريکړې خبر د مارچ دمياشتې په ۲۰ نيټه پژواک خبري اژانس هم خپور کړ او د يادو ادارو د يوې سرچينې په حواله يې وليکل، چې د طالبانو د بريدونو له امله په بهرنيو ناظرينو کې وېره خپره شوې ده چې له همدې کبله به

په راتلونکو ورځو کې ډيرى ناظرين افغانستان پرېږدي او خپلو اړوندو هېوادونو ته به ستانه شي.

پر سرينا هوټل تر بريده وروسته د اروپايي ناظرينو ډلې ويلي وو، چې دوی له افغانستان څخه دوتلو اداره نه لري.

خو کله چې دهغه په تعقيب د مجاهدينو د عملياتو لړۍ تيزه شوه نو د نوموړي اداري کار کوونکو هم د کابل پرېښودلو تصميم ونيولی چې د غه کار د انتخاباتو د داخلي کارمندانو پر روحيه هم سخت اغيز غورځولی دی.

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ (فيفا) وياند فهيم نعيمي خبري رسنيو ته وويل، که چېرې نړيوال ناظرين له افغانستان څخه وځي، نو دا به د راتلونکو ټاکنو پر روڼوالي او د افغاني څارونکو پر روحيې سخته منفي اغېزه وکړي.

نتيجه:

په افغانستان په تيره کابل کې فوق العاده بيړني حالت ته په کتوسره سړی ويلای شي چې د يرغلګرو او د هغوی د ملاتړو لخوا د انتخاباتو ترنوم لاندې پيل کړې ډرامه مخکې تر مخکې له مطلق ناکامي سره مخ ده؛ ځکه ټول ولس ويني چې د دوی له لوري تعين شوي ټاکنيز مرکزونه انتخاباتي مرکزونه نه، بلکې د جګړې دلومړۍ کرښې مورچلونه دي چې د رژيم مورال بايللو پوځيانو دځان ساتنې په غرض ور کې يواځې ځانونه پټ کړي او نور د انتخاباتي کارمندانو او رأيه اچوونکو د امنيت هيڅ توان نه لري.

خو احمق امريکايان او دهغوی بې هدفه ګوډګيان به بيا هم د خپل حماقت له مخې د توظيف شوې ميډيا په زور دغه ناکامه پروسه يوه کامیابه او د ولس د رأیو ممثله پروسه اعلانوي او دهغې په نتيجه کې لاسته راغليو پايلو به خپلې ناکامې تکلارې ته په افغانستان کې دوام ورکوي چې هغه به په هيڅ صورت د افغانستان او افغان ولس هيڅ درد دوا نکړای شي.

کفی بالموت واعظا

آیا امریکا تا اخر سال 2014 افغانستان را ترک خواهد گفت؟

ذبیح الله مجاهد

چیزیکه به مشام میرسد:

اگرچه رئیس جمهور امریکا اوباما اعلام داشت که نیروهای اشغالگرآن کشور، تا اخر سال ۲۰۱۴م از افغانستان اخراج خواهد شدند، وبه اصطلاح سیاسیون امریکایی به جنگ افغانستان خاتمه خواهد دادند !!؟

ولی وضعیت سیاسی کشور، وضعیت سیاسی در منطقه، مطالعه دقیق از پالیسی امریکا ودرک عدم استقرار درسیاست آمریکایها چیزی دیگری را به مشام میرساند.

ورود نظامی در منطقه:

امریکایها بخاطر اهداف بسا بزرگ در لباس نظامی به منطقه وارد شده اند و میخواهند معادن نفتی در خلیج راکه روبه کاهش است درآسیای میانه تلافی نمایند، تا بدینگونه امریکا را در دراز مدت از مرگ نفتی و در کل بحران اقتصادی نجات دهند.

بعد از سقوط کمونیزم در شوروی سابق، ونیز بعد از نشانهای که در نتائج تحقیقات پیرامون ذخائرنفتی در خلیج نمایان گردید و حکایت از کمبودی روز افزون در ذخایر نفتی عربی می کرد، تشویش امریکایها نسبت به کمبود مواد نفتی در دراز مدت افزایش یافت.در تحقیقات سالهای هشتاد میلادی، کارشناسان امریکایی ثابت نمودند که بعد از هفتاد سال آینده تمام ذخایر در کشورهای عربی می خشکند و امریکا این منابع سرشار ومفت حاصل را از دست خواهد داد، پلانگذاران ارشد امریکا به دریافت ذخایر جدید تاکید داشتند که جوع نفتی امریکا را بعد از سالهای ۲۰۵۰م اشباع نماید.

منطقه آسیا میانه به شمول افغانستان تحت برسی همه جانبه کارشناسان امریکایی قرار گرفت و به گونه جدی اقدامات را زیر دست گرفتند که تا هفتاد سال آینده این منطقه سرشار نفتی، مانند کشورهای خلیج به ساحه نفوذ مستقیم امریکا مبدل گردد، و حین نیازمندی به دلخواه امریکا قابل استفاده ایالات متحده باشد.

چیزی را که باید انجام داد:

بخاطر پلان گذاریی که منتج به نفوذ امریکا از لحاظ سیاسی، نظامی و اقتصادی درآسیا میانه گردد، طراحان پالیسی خارجی امریکا از دو حزب مقتدرآن کشور (جمهوری خواهان و دیموکراتها) به کار گماشته شدند، تا تمام راه های را که امریکا را در هدف دراز مدت(حاصل نمودن نفت از آسیا میانه) یاری می نماید تحت برسی قرار دهند ونیز موانعی را که جلو نفوذ مستقیم امریکا را بر منطقه می گیرد مشخص سازند.

برچیدن خطرات:

در نتایج ریسرج کارشناسان هردو حزب متداول امریکا(جمهوری خواها و دیموکراتها)، دو کتاب تحت

عنوان(Political ـ America and Political Islam Islam and the United States) به چاپ رسید که پالیسی خارجی امریکا به خصوص دربخش اسلام سیاسی و طرق جلوگیری از آن را هرکدام به نوبه خود به احزاب خود پیشنهاد کرده بودند.

دراین کتاب ها عموما دو چیز قابل بحث بود:

۱ـ موانع بر سر راه برای تعمیل پالیسی خارجی ایالات متحده.

۲ـ اهداف مهم که باید در نتیجه پالیسی امریکا به دست آید.

ـ بعد از سقوط کمونیزم در شوروی سابق، امریکا دشمن بالفعل نه دارد، بدین گونه میتواند به شکل یکتاز درجهان، پالیسی خارجی خود را که بیشتر استعماری است تطبیق نماید، ولی دشمن بالقوه را نه باید از نظر انداخت، دشمن بالقوه برای ایالات متحده اسلام سیاسی است، به همین منظور، بحث ها در دو کتاب فوق الذکر اختصاص داده شده اند که از نامگذاری و عناوین آن واضح میگردد.

اسلام باید تقسیم و جدیدا تعریف گردد:

همچنان در یک سلسله مقاله های سیاسیون وطراحات پالیسی امریکا نیز نکات ذیل به برسی گرفته شده اند:اسلام به گونهء یک دین نه باید از آن انکار صورت گیرد، نه باید با وی چنین مخالفت کرد که موجب شورش اسلامی در جهان گردد و ما را به انجام شوروی سابق و شکست فلسفه کمونیزم دوچار نماید.

ولی اسلام را باید تقسیم کرد، اسلام نورمال و اسلام سیاسی.

ـ اسلام نورمال عبارت از اسلامی است که با منافع امریکا و غرب هیچ مشکلی ندارد، حتی سعی می نماید تا غرب گرایی را با اسلام آشتی نموده ودر خدمت ترویج فرهنگ غرب قرار گیرد، این نوع اسلام را باید بیشتر ترویج نمود، با آن اظهار دوستی وعدم مخالف کرد، وآن را باید قسمی تعریف نمود که چهارچوب نظام سیاسی در آن جای نداشته باشد، ذهنیت های پیروان آن اسلام باید قبول نمایند که اسلام مثل مسحیت دینی است که بیشتر به زندگی شخصی افراد تعلق میگیرد، ارتباط بنده را با خدا قایم می نماید ومحدوده فعالیت آن بیشتر مساجد و خانه های مسلمانان اند.

ـ دوم اسلام سیاسی است، اسلام سیاسی را باید تقبیح نمود و آن را بد جلوه داد، اسلام سیاسی را باید چیزی وانمود کرد که اصل واساس در بنیادهای دینی ندارد، زندگی بشریت را با مخاطره مواجه میسازد، خواهان سیاست بسیار خطرناک(پان اسلامیزم ـ اتحاد بین الاسلامی) است، و با غرب هیچ همگرای و آشتی را نه می پذیرد، درمورد حقوق بشر مشکلات جدی را ببار می آورد، جزاهای غیر قابل پذیرش را به مجرمین تجویز میکند، چنین اسلام را باید تا حد توان بدنام ساخت و پیروان آنرا افراطیون حتی مجرمین بین المللی دانست

موانع بیشتر:

کارشناسان امور پالیسی خارجی امریکا کشورهای چین، روسیه و ایران راکه منطقهء زیر حدقهء امریکا (آسیامیانه) را از چنگال امریکا به دور نگه میدارند، تشخیص داده اند.

ـ بخاطر ایجاد مشکلات برای کشور چین باید مسئله تایوان را بیشتر توسع داد و از آن حمایت کرد، جامعه غربی را باید با حمایت تایوان تشویق نمود، اقتصاد تایوان را تقویت بخشید و در صورت معامله با کشور چین باید از موقیت تایوان استفاده اعظمی کرد.

ـ قبلا باید روسیه را مقروض امریکا وجامعه غربی نمود، با بعضی از کشورهای منطقه که با روسیه روابط

تنگاتنگ دارند ونیز منطقهء تحت نفوذ روسیه شناخته میشوند، روابط امریکا و غرب را تقویت بخشید، بدین وسیله در حین عکس العمل روسیه در برابر پیشروی امریکا وغرب باید با روسیه معامله سیاسی نمود، ورنه توسط فشارهای بین المللی روسیه را از جلوگیری امریکا به منطقه متقاعد ساخت.

ـ ایران را هنوز هم باید تحت تحریم های اقتصادی نگهداشت، شناخت منطقوی ایران را باید محدود ساخت، نفوذ ایران را باید تحت کنترول درآورد و کشورها را علیه رژیم ایران باید بسیج نمود.

هجوم نظامی نیازمندی جدی:

ازهمه بیشتر نیرو نظامی را باید به منطقه انتقال داد، قبلا باید تمام موانع را که صد نفوذ امریکا میشوند ازمیان برداشت، سپس از مؤقیعت افغانستان باید آسیا میانه را زیر کنترول نظامی درآورد. اکنون ما درک میتوانیم که یکا یک تمام حرکات غرب به خصوص امریکابخاطر تعمیل پالیسی درازمدت آن کشور در کار است. اشغال افغانستان از قبل و حرکات مذبوحانه بخاطر تداوم جنگ در افغانستان، پا فشاری بر باقی گذاشتن نیروهای نظامی در ۹ پایگاه در افغانستان، شدت تحریم ها بالای ایران دست درازی امریکا وغرب در اوکراین، حکومت اوکراین را سرنگون ساختن و تجزیه آن کشور، اخلال مناسبات سیاسی با روسیه بر سر شبه جزیرهء کریمیا وسایر تحرکات امریکا وغرب درعموم دلالت بر آن دارد که امریکا به زودی نه میخواهد کشور ما افغانستان را ترک نماید و نظامیان اشغالگرخود را از افغانستان اخراج نمایند.

امریکا بنام جنگ علیه تروریزم دقیقا همان جنگ به ضد اسلام سیاسی را دنبال می کند.

نتیجه چه برمی آید:

از تحلیل وضعیت کنونی با انطباق سیاست دراز مدت امریکا چنین برداشت میشود که امریکایها نه میخواهندبه میل خود افغانستان را از نیروهای اشغالگر تخلیه نمایند، البته سعی دارند که ذهنیت منفی در آمریکا را نسبت به جنگ افغانستان تغیر دهد، شماری از نیروهای خود را اخراج نموده وآن را اعلام دارد.

ولی عملا تعداد زیادی از نیروهای خود را در ۹ پایگاه در خاک افغانستان باقی خواهد گذاشت، با اخذ موافقه اداره کابل ولو که بعدا از انتخابات باشد، مستقر ساختن نیروهای خود را در کشور ما قانونی خواهد دانست، حمایت بین المللی را نیز برای این هدف به دست خواهد آورد، ذهنیت منفی تعدادی زیادی از امریکایها را کی خواهان اخراج عملی نیروهای امریکا از افغانستان اند توسط تبلیغات تغیر خواهد داد، تلفات وارد شده به نیروهای امریکایی رابعد از اعلام اخر جنگ هرگز نه خواهد پذیرفت، ونیز نه خواهد گذاشت چنین خبرها به رسانه ها راه یابد.

اداره کابل به خصوص عساکر، پولیس و سائر ادارات امنیتی آن اداره را در کمربند محافظوی پایگاه های خویش قرار خواهد داد، عوض امریکایها قیمت تلفات جانی را افغانها ابخاطر کسب چند پول خواهد پرداختند، بدین گونه امریکا جنگ در افغانستان را هنوز هم به درازا خواهد کشید.

قابل درک است که افغانهای غیور هرگز مجال آرام و استراحت را به اشغالگران تحت هر عنوانی که باشد نه خواهد دادند، مگر طبعا قربانی ها در این راستا زیاتر خواهد شد.

دهېواد په مطبوعاتو کې دعالمانو ونډه

مفتي حبیب الله قاسمي
ددیني علومو مدرس اوخېړونکی

پیلیزه :

نبوي حدیثو عالمان دپیغمبرانو علیهم السلام وارثان بللي دي چې دهمدې وارثت له امله دیني لاربښوونې پر علماوو داخبره فرض بولي چې دوی به دهر پېر (عصر) مسلمانانو ته ددین ضروري احکام رسوي، ځکه خو عالمان ددغه ستر دیني مسولیت سرته رسونې ته زیات اندېښمن وي او ددین دبلنې په لاره کې له ټولو هغو لاروچارو اووسایلو کار اخلي چې له دوی سره ددغه ستر خدایي مسولیت په سرته رسولو کې مرسته کوي په دغه وسایلو کې یوه ښکلې اوسپېڅلې وسیله ((قلم)) دی چې په مرسته یې عالمان په مطبوعاتو کې په دې هیله برخه اخلي چې ددین پیغام مسلمانانو ته په ښه توګه ورسیږي

زموږ دهېواد دمطبوعاتو په تېر یونیم سل کلن ژوند کې ګڼو عالمانو دمطبوعاتو په خپرېدا ،غوړېدا او پنځېدا کې نه یوازې داچې ستره ونډه لرلې ده، بلکې په دې لاره کې یې کړاوونه هم ګاللي دي ،چې ددې ډګرپه لومړنیو مېړنیو اوبنسټ اېښودونکو کې سید جمال الدین افغان او مولوي عبد الروف خاکي یادیږي. سیدجمال الدین افغان دلومړي ځل له پاره په هېواد کې دلومړنۍ جریدې ((کابل))بنسټ کېښود اوخاکي صاحب بیادهېواد دمشهورې جریدې ((سراج الاخبار)) دتاسیس ویاړ لري .

ددوی پلونه لاړنګ نه وو چې دې ارزښناک ډګرته نور نوي ځوان عالمان دخدمت اوچوپړ له پاره په زیات اخلاص اوتوده مینه رااوتل چې نمونه یې زموږ دهېواد د دژورنالیزم په تاریخ کې نه یوازې ځلانده دي بلکې ددې ډګر لومړني مخکښان ګڼل کېږي چې ددوی دنوملړ (فهرست) په سر کې مولوي عبد الواسع کندهاري ،مولوي احمدجان سوداګر اودده زوی مولوي محمد سرور واصف ، مولوي صالح محمدهوتک ، مولوي غلام محي الدین افغان او مولوي برهان الدین کشکي نومونه یادیږي .

یادو عالمانو دهېواد دآزادۍ له پاره دسختو کړاوونو او زندانونو ګاللوترڅنګ په سختو شرایطوکې ددیني بلنې او دهېواد دخپلواکۍ له پاره نه یوازې قلمونه په مشهوره جریده ((سراج الاخبار)) اونورو جریدو کې وځلېدل بلکې ترڅنګ یې دپښتو ادب دودې اوپرمختګ له پاره بنسټیز کارونه ترسره کړي دي چې

دراتلونوکي نسل له پاره یې په دې ډگر کې لومړني بنستونه کېښودل . خدای پاک دې وبښي .

په شاهي دوره کې دغه لړۍ تردوی وروسته نورو عالمانو هم وپالله او په خپلو هڅو یې دغه ډگر ځلانده اودیني رنگ رنگین وساته چې ددې لړۍ په وروستنیو عالمانو کې ددوه عالمانو نومونه دنورو په پرتله زیات ځلانده او روښانه دي چې یو یې هم مولوی صاحب محمد یونس خلص مرحوم و چې زیاته موده دگردیز د«ورانگې» جریدې مسول مدیر پاتې شو ،دغه راز په دې ډگر نور ویاړونه هم لري . بل عالم قلموال عالم یې هم مولوي صاحب رحیم الله زرمتي دی چې هغه مهال په مطبوعاتو کې دمولوی غلام نبي زرمتي په نامه یاد شوی دی ، اودمرحوم داود خان دجمهوریت په دوره کې دعالمانو دیوه اسلامي گوند «خدام الفرقان» له پاره یې د«ندای حق» په نامه جریده په سختو ستونزمنو شرایطو کې یوازې مسلمانانو ته ددیني پیغام درسولو له پاره چلوله

اوس چې وخت زیات تیر شوی دی او زموږ نوی کول ددغوعالمانو له هڅو ناخبره دي اوډیر خلک په دې اند دي چې دمطبوعاتو په ډگر کې عالمانو هېڅ راز خدمتونه نه لري اونه هم په دوی کې څوک قلموال تیر شوی دی آن چې دژورنالیزم دډگر زده کوونکی نوی نسل هم ورسره نابلده ښکاري له همدې امله یوې داسې لیکنې ته اړتیا وه چې په دې ارزښناک ډگر کې زموږ دعالمانو هیر شوي خدمتونه بېرته وځلوي او دغه راز زموږ خپل نوي ځوانان عالمان وهڅوي چې ددعوت له دغه ارزښناک ډگره ددیني بلنې له پاره گټه پورته کړي لکه چې مشرانوعالمانو څولسیزې دمخه په ستونزمنو شرایطوکې داسې کارونه ترسره کړ دي چې په دې لار کې ستر ویاړونه لري اوهغوی ددین له پاره له دې ډگره زیات کار اخېستی دی اوس خو دغه میدان دپخوا په پرتله څوبرابره ډېر پرمختللی او آسانتیاوې پکې رامنځته شوې .اوهغه پخوانی قلم یې اوس بریښنائي شوی دی او دکمپوتر په نامه یې یادوي چې نه رنگ اونه هم کاغذ غواړي او په څو شیبو کې دانټرنیټ له لارې دنړۍ هرې برخې ته رسیږي

غواړو په دې لیکنه لومړی دهېواد لومړنۍ مشهورې جریدې په لنډ ډول دروپیژنو اوبیابه په همدې جریدو کې زموږ دعالمانو دونډې په اړه له تاسو سره خپل معلومات شریک کړو.

په افغانستان کې دمطبوعاتو شالید

دمخه یادونه وشوه چې زموږ په هېواد کې رسنۍ (مطبوعات) نژدې یونیم سل کاله تاریخ او سابقه لري، چې دسیاسي بدلونوورباندې اغېز لرلی دی، زموږ په هېواد کې دمطبوعاتو لومړنی څرک د نولسمې پیړۍ په پای (۱۲۷۵ل)کې دامیر شیرعلي خان په دوره(۱۲۴۳ل - ۱۲۵۷ل)کې دعلامه سیدجمال الدین په نوښت پیل شو. چې تردې دمه (۱۳۹۳ل دحمل میاشت ددې لیکنې ترلیکلو) یې یوه نیمه پیړۍ بشپړیږي په دې موده زیاتې جریدې خپرې شوې اومطبوعات له ډیرو پړاوونو تېر شوي دي کله له رکود اوکله هم له ازادۍ برخمن شوي دي.

ددې ډگر دلومړنی بنسټ اېښودونکی اونومیالي میړنی سید جمال الدین افغان په پله یې پل اېښې دی دخپل دغه مسیر له پاره یې زیات کړاوونه اوزندانو گاللي دي دحقیقو په خاطر یې ژوند له لاسه ورکړی دی، خوبیایې هم له کار لاس نه دی اخېستی، دوی که

څه هم په ظاهر يوازې دژورناليزم دډګر مخکښان ګڼل کيږي خو په حقيقت کې يې خپل قلم دظلم دمخنيوي اودخپلواکي دترلاسه کولو اودخلکو دذهنونو روښانه کولو له پاره چلولی دی اوهروخت يې دنړواک (استعمار) اوښکيلاک په وړاندې عام خلک پ څون ته هڅولي دي، اودسترو پښتو اتلان او شاهدان پاتې شوي دي، دوی په دې موده دخپل ګوډومات اقتصادسره سره دمطبوعاتو بهير تود ساتلی اوپاللی دی.

ددې ډګر ميړني ډير زيات دي خوځرنګه چې داليکنه په دې ډګر يوازې دعالمانو هڅو ته ځانګړې شوې ده له همدې امله ددې ډګر دنورو اتلانوله روح نه په ډيره بښنه موږ يوازې دعالمانو هڅې دلته ليکو اوخدای مه کړه معنا يې دانه ده چې موږ په دې ډګر دنورو سترو انسانانو هڅو اوخواريو ته ددرنښت په سترګه نه ګوروځکه په حقيقت کې عالمانو دهغوی په مټ دغه ستر کارونه اوويارونه ترلاسه کړي دي.[1]

دهيوادلومړنی نوم ورکې (کابل) جريده اومسول مدير يې

د((کابل)) جريده دافغانستان لومړنۍ جريده بلل کيږي او له ((شمس النهار)) جريدې دمخه خپره شوې ده.[2] که څه هم څېړونکي يې دخپريدا د نيټې په اړه يوه خوله نه دي، ځيني څېړونکي يې دخپريدا نېټه د امير محمد اعظم خان واکمنې ښيي اوځيني نور يې بيا دامير شيرعلي خان د(۱۲۴۲هـ ش - ۱۲۴۵هـ / ۱۸۶۳ـ ۱۸۶۶م) کلونو ترمنځ دوره ګڼي.[3]

((کابل)) جريده په لومړي سر کې لاس کښلې (قلمي) وه اوبيا وروسته دکابل په رسمي مطبعه کې خپره شوه اودخلکو ترمنځ يې زيات شهرت وموند، په پښتو اودری ژبويې مضامين لرل. څرنګه چې ددغې جريدې يوه نسخه هم په لاس کې نشته څکه خويې په اړه څيړونکو څه نه دي ليکلي خودومره خبره يې کړې چې: ((دغه جريده بايد دافغانستان دژورناليزم په تاريخ کې دلومړنۍ نومورکې جريده په نامه ياده کړو)).[4]

سيد جمال الدين افغان اوپه مطبوعاتي ډګر کې يې هڅې

سيدصاحب چې افغانستان اواسلامي نړۍ په کچه دمطبوعاتو او ژورناليزم دډګر بنسټګر اوميړنی ګڼل کيږي.[5] ټول څيړونکي اوتاريخ اودافغاني ژورناليزم تاريخ ليکونکي يې د((کابل)) جريدې سيد جمال الدين افغان نوښتګر اوبنسټ ايښودونکی ګڼي.[6] راځئ استاد زرين انځور ته غوږ شو: ((سيدجمال الدين افغاني د افغانستان دمطبوعاتو اوژورناليزم له لومړنيو اومخکښو څېرو څخه دی .... ده دشرق غم ځپلي اوښکيل شوي ولسونه په خپلو ليکنو

---

۱ په دې اړه ډاکتر محمدحليم تنوير دخپل ارزښناک کتاب ((دافغانستان تاريخ اوخپرونې)) په پای کې له ۷۵۹نه تر ۷۶۶ ښکلي اوپه زړه پورې اوږده ليکنه لري له ټولو سره يې خپله زما موافقه ضروري نه ده.

۲دژوناليزم مخکښان. ۴مخ. اريانا محله ۱۳۳۰ل کال دثور ګڼه ((شمس النهار))داستاد عبدالروف بينواليکنه. تاريخ معاصر افغانستان دسيد سعد الدين هاشمي ليکنه ۹۲مخ. سيد جمال الدين افغاني وافغانستان کابل ۱۳۵۵ل

۳ دافغانستان تاريخ اوخپرونې. ۱۴مخ. سير ژورناليزم درافغانستان کاظم اهنګ کابل مطبعه ۱۳۴۹ل لومړی مخ. شمس النهار مقاله اريانا مجله ۱۳۳۰ل کل دثور ګڼه ((شمس النهار))داستاد عبدالروف بينواليکنه.

۴دژوناليزم مخکښان: ۴مخ.

۵ دافغانستان خپرونې: ۱۴مخ

۲ دافغانستان تاريخ اوخپرونې دډاکتر تنوير ليکنه ۵مخ

او خپرونوکې دې راوهڅول چې دخپل وخت د فرعوني قدرت پـه وړانـدې دیرغلګـرو پرنګیـانو پـه وړانـدې ودرېږي ، له خپل حق څخه ، له خپلې آزادۍ څخه په نره ، په میړانه اوپه وینو دفاع وکړي ... دده ژورنالستیکو هلوځلو په برکت په هغه وخت کې تقریب په ټوله ختیځه نړۍ کې دژونالیزم یومبارز نهضت رامنځته شو ... د کونړ دشنې اوشکلې دره په ښکلاووکې رالوی شوی سید دخپل وطن مرکز ته راغی ... دانګریزي ښکیلاک په وړاندې یې تبلیغ وکړ اوخلک یې دهغوی دظلم په وړاندې راپاڅول داهغه وخت و چې زموږ ګران وطن اودشرق نورتې ډیرې برخې هم ددغوښکیلاک ګرو اویرغلګرو له خوا غصب شوې اولاندې شوې وې »[7]

دمطبوعاتوارزښت دسید جمال الدین افغاني له نظره .

افغاني صاحب له مطبوعات سره بې کچه مینه لرلـه ، دمطبوعاتو په ارزښت اوګټوېې ډیر څه لیکلي دي.[8] ده به ویل «هرامت باید تل داخلاقـو دساتنې اودنیکمرغي پرلـور اولـه مهلکـاتو نـه دژغـورنې اولـه غفلـت نـه یـو ووېښـوونکی اولـه ځورتیـاپوه سـاتونکی اودفضـایلو پرلوري یو هڅونکی اودکمالاتو پرلـور بوقاید اودرازیلو نه یوایسارونکی اودښو چارو لاروته یولارښوونکی ولري که چېرته لـه بصیرته کار واخلو اودعقل پـه ترازوي یې وسـنجوو . دامهـال مـوږ دغـه صـفات لـه جرایـدو او ورځپاڼوپرته په بل چا کې نه وینو .[9] »

7دژورنلیزم مخکښان : مخونه ۲،۳

8دمطبوعـاتو دارزښت پـه اړه دنومـوړي دمضـمون ژبـاړه تاسـو «دافغانستان تـاریخ اوخپرونې » کې لوستلای شئ لـه ۲۷نـه تـر ۳۱مخ پورې

9مقالات جمالیـه ۱۷مخ ،چې دسید صاحب دمقالو ژباړه پکې راټولې شوې ده چې ژباړه یې زیاته بې خونده ده اوما له کوم بدلون پرته له مخکني اثره رااخیسته

په یـوه لیـک کې نوموړي درسنیو لـه پـاره داسـې ښـکلي اصـول بیـان کـړي: «ورځپـاڼې بایـد حقـایق اودولـس پـه ګټـه شـیان خپاره کړي دهرچـا نیمګړتیـا وښیي او هـم یـې درملنـه وښـیي نـه داچـې لـه داسـې مبالغوډکه وي چې دعقل خاوند یې نه خوښوي »[10]

که موخوښه وي نور به له سید صاحب سره خدای پـه امـاني وکړواودهېـواد ددوهمـې ورځپـاڼې شـمس النهار په اړه به وغږیږو.

دهېواد دوهمه مشهوره جریده « شمس النهار»

دشـمس النهـار جریـده چـې دسـید جمـال الـدین افغـاني پـه ابتکـار اووړانـدیز دامیـر شـیرعلي خـان دواکمنۍ پرمهـال خپـره شوه.په هېـواد کـې دژورنـالیزم دلـومړني عملـي ګـام پـه توګـه ګڼـل کیـږي[11] اسـتاد عبدالروف بېنوا لیکي : «په ۱۸۶۸ـ ۱۸۶۹ع کال هغه وخت و چې سید جمال الدین افغاني ددریم ځل دپاره له خپل ګران هېواد افغانستان نه وتلو ، امیر شیرعلي خان ته ورغی اوځینې اصلاحي پروګرامونه یې امیر تـه وړانـدې کـړل . چـې یـوه مـاده یـې پـه کابـل کـې دیـوې جریدې خپرول وو اوهمدا سبب و چې امیر په ۱۲۹۰هـ ق کې دسید له هغه پیشنهاد سره موافقه وکړه اودشمس النهار دجریدې دخپرولو امر یې صادر کړ... »[12]

استاد زرین انځور دمرحوم بېنوا له مخکنیو خبرو رانقلولـو وروسـته لیکـي «لـه همدغـه ځایـه ده چـې دافغانستان دژورنالیزم دتاریخ پـه پیلامـه کـې دعلامـه سـیدجمال الـدین افغـاني دریـغ پـه ډیـره ښـه توګـه

۱۰سیدجمال الدین دطباطباتي راټولونه ۲۶۲مخ

۱۱دافغانستان تاریخ اورسنۍ. مخ

۱۲په اریانامجله کې داستاد عبدالروف بېنوا مقاله «شمس النهار » لومړی مخ

راځرګنديږي »[۱۳] اوپه دې توګه ويلا شو چې دغه جريده هم دسيدصاحب دهڅلو يوه ځلانده ډيوه وه

دشمس النهار جريدې مسول مدير

ددې جريدې مسول مدير کـه څـه هم عبدالعلي مستغني يـاديږي خو پـه دې اړه د«افغانستان تـاريخ اوخپروني» کتاب يوه نوې خبره ليکي : «شمس النهار پـه (۱۲۵۱ل / ۱۸۷۳م) کې خپره شوه دسيد يو شاګرد مولـوي عبدالروف خـاکي دهغې مسـول مـدير و ».[۱۴] ددغـې جريـدې لـومړۍ ګڼـه پـه دوه مخونـوکې پرکـال ۱۲۵۱ل / ۱۸۷۳م کې له چاپه راووتله دغه جريده په هفته کې دوه ځله دبالاحصار شمس النهار مطبعې چاپوله .[۱۵]

دغـه جريـده کـه څـه هـم څـه ناڅـه يـاديږي خودژورنـاليزم پـه ډګـر کـې د«سـراج الاخبـار» غونـدې ځلانده نوم نه لري چې تردې جريدې لـه ديـرش کلن سکوت وروسـته دعالمـانوپـه هڅـو اولاربـوونه خپره شوه اوپـه دې ډګـر کـې زيـات وياړونـه لـري اوس بـه دسراج الاخبار په اړه له تاسو معلومات شريک کړو .

دهيواد دريمه مشهوره جريده « سراج الاخبار»

«سـراج الاخبـار» جريـده چـې ځيرونکـي يـې دژورناليزم اومطبوعاتو دبيا داحياء دوره ګڼي. تردير ش کلن فرهنګي رکود اوسياسي چوپتيا وروسته دامير حبيب الله خان په دوره کې د ۱۲۸۵ل کال د مرغومي په ۲۶مه نېټه خپره شوچې دافغانستان دژورناليزم دوهمه

ارتقـايي خپرونـه بلـل کيـږي [۱۲] مرحـوم اسـتاد حبيبـي دخپلو مستندو معلوماتوپه اساس پـه خپـل ارزښناک وروستنی اثر«جنبش مشروطيت» کې ددې جريدې منځ ته راتګ په اړه دعالمانو خواري ستايلي اوليکي چې : « دهغـه مهـال دکابـل ښـار ددوه مشـهورو مدرسوشـاهي مدرسـه (دچوب فروشي جومـات ديني مدرسـه)اوحبيبه مدرسه (اوسنی حبيبه ليسه) چې په (۱۹۰۳م ـ ۱۳۲۱هـ پرانيستل شوي وه) دو ښـو او ځيرکو مدرسو عالمانو دوخت امير تـه وړانديز وکـړ چـې دپوهـانويوه ټولنـه (انجمن)دې جوړ شي چې هغه يوه پنځلس ورځنی جريده د«سراج الاخبار» په نامه خپره کړي» .

استا د حبيبي وړانـدې ليکـي : « دعالمـانو دغـه مخکنی وړانديز د ۱۳۲۳هـ دصفر په مياشت کې دامير له لوري لاسليک شو اوددې لاسليک څخه اته مياشتې وروسته دسراج الاخبار لـومړنی شماره د ۱۳۲۳هـ دذي قعدې مياشتې په ۱۵مه نېټه چې د ۱۹۰۶ ميلادي کال دجنوري دمياشتې له ۱۱مې نيټې سره يې سمون درلـود په ۳۶مخونوکې خپره شوه »[۱۷]

په «سراج الاخبار» کې دعالمانوونډه

د «سـراج الاخبـار» پـه لـومړنۍ ګڼـه اودغـه راز دخپريدا پـه دوهمـه دوره کـې زيـاتو عالمـانو ونډه لرلـه خوددې جريدې دلومړنۍ ګڼې امتيار ټول دعالمانو پـه برخه وي مشر يې مرستيال يې اومسؤل مدير يې ټول عالمـان وو اسـتاد حبيبـي وايـي : « دسـراج الاخبـار دانجمن مشر مولوي عبدالروف قندهاري خاکي وټاکل

---

[۱۳] دژورناليزم مخکښان ۷مخ
۱۴ دافغانستان تاريخ اوخپروني : ۱۴مخ
۱۵ مخکنی اخيست خای مخ ۳۸مخ

۱۲ دافغانستان تاريخ اوخپروني : ۶۵مخ داکتر محمدحليم تنويرليکنه
۱۷ جنبش مشروطيت ۲۶مخ کې .

شو چې «خاکي»[۱۸] تخلص یې کاوه چې دکابل دشاهي مدرسې مشر استاد «صدر مدرس» او په شاهي دربار کې منلی ملا و، ددې جریدې مرستیال مولوي احمدجان الکوزی و دمنشي(ایډیټر) دنده یې مولوي واصف سرور په غاړه وه »[۱۹]

دسراج الاخبار دلومړنۍ ګڼې منځپانګه اودواکمنوغبرګون

دلومړنۍ ګڼې منځپانګه کې داسلامي وېښتابه اودغه راز هغه مهال دانګریزانو داستعمار په خلاف ډېر څه لیکل شوي وو، استاد حبیبی په خپل کتاب «جنبش مشروطیت »کې ددغې جریدې دمنځپانګې په اړه لیکي : ««دسراج الاخبار دلومړی ګڼې مضامین په لاندې ډول وو. سرمقاله یې دمولوی عبدالروف له لوری لیکل شوې وه چې سرلیک یې و "یوه خطابه ، یو تمهید اوسیاسي موعظه حسنه ....". په پای کې دمولوي سرور واصف یوه وعظیه قصیده راوړل شوې چې ژبه یې زیاته فصیحه ده »)[۲۰]

دغه راز استاد حبیبي دجریدې په لومړی ګڼه دخاکي صاحب لاس کښلې سرمقاله وېښوونکې بولي ، ځکه خاکي صاحب هغه مهال هرڅه درک کړي اودنړۍ له نوې بدلون سره بلد و، نوموړي غوښتل چې له دې لارې ګڼ نوی ځوانان دانګریزانو پرخلاف وپاروي اوهغوی ته دازادي درس ورکړي ، چې ددې اخبار له خپریداسره په سیمه کې دلویې هنګامې اوغوغا جوړېدو ویره کېدله له همدې امله یې دوخت واکمن او په ځانګړي ډول یې په هند کې دبرطانوي حکومت ووېراوه اودوخت واکمن یې سمدلاسمه ددې جریدې په وړاندې غبرګون ښودلو ته وهڅول. هغه و چې دوخت واکمنو دانګریزانو په غوښتنه اواشاره ددغه جریدې دلومړۍ ګڼې له خپریدا وروسته دنورو خپریدو مخه ونیوله او دشپږو کلونو له پاره وتړل شو [۲۱]

دغه غبرګون طبعي خبره وه ځکه دغه جریدې ترشا دکابل ښار ددوو سترو مدرسو اوپه ځانګړي ډول دحبیبه مدرسې استادان ولاړ وو چې هغه مهال دآزادي ستر مرکز بلل کیده استاد پوهاند استاد رشاد مرحوم لیکي: «حبیبه دارالعلوم په افغانستان کې دسیاسي مفکوري درشد او حزبي تنظیم زانګو ده ، په دې دراالعلوم کې . . مولوي سرور واصف خان الکوزی ،مولوي غلام محي الدین افغان. . غوندې حس س اودراک استاذان وو ، دوی استعمار چیانو ته په بده سترګه کتل له ظلمه یې کرکه کوله »[۲۲]

استادحبیبي ددغې جریدې دتړل کېدا په اړه دسراج الاخبار دیوه نژدې همکار اودازادي دغورځنګ له یوه زیارکښ بابا عبدالعزیز له خولي کاږي : «سراج الاخبار لومړنۍ ګڼه دوخت دمستبد حکومت له لوري ترسخت کنترول لاندې ونیول شوه لکه چې ویل شوي دي دهند برتانوي دولت دهغې له خپریدا سره موافق نه و اوځکه یې دسراج الاخبار دنورو ګڼو دخپریدو مخه ونیوله»[۲۳]

نوکه څه هم دسراج الاخبار دلومړنۍ ګڼې وروسته ترپنځه کاله پورې خپره نه شوه خو استاد حبیبي لیکي «

---

۱۸ چې اوسمهال ښه ژباړه دخاورین په معنا راځي ځکه انسان له خاورو جوړ دی اونوموړي خپل نسبت خاوروته کړی چې زیاته دعاجزي معنا پکې پرته ده

۱۹ جنبش مشروطیت ۲۶مخ کې .

۲۰ جنبش مشروطیت ۲۸مخ. دایران چاپ .

۲۱ مخکنۍ اثر

۲۲ دپوهاند رشاد مقاله . دافغان یاد .

۲۳ جنبش مشروطیت ۳۰مخ

خاکي صاحب له دې لارې ځوانانو ته دوپښتابه اوآزادي درس ورکړ اورا تلونکو نسلونو دنومورې له دې درس څخه دآزادی الهام واخېست اودآزادي نوي غورځنګونه دنومورې دلارښوونوپه رڼاکې منځ ته راغلل .

عشق ازفریاد ما ، هنګامه ها تعمیر کرد
ورنه این بزم خموشان هیچ غوغای نداشت [۲۴]»

استاد انځورهم داستاد حبیبي خبرې په خپل کتاب "دژورنالیزم مخکښان" کې تایدوي اولیکي: «««مولوي عبدالروف خان کندهاري دهېواد دغه ستر دیني لیکوال اوشاعر دافغانستان دژورنالیزم دودوې له پاره کار هم وکړ اویوداسې چراغ یې بل کړ چې که یوازې یوه ګڼه یې هم خپره شوې خوپه ماناکې دغه څراغ خاموش نه شو اوشپږ کاله وروسته چې د«سراج الاخبار افغانیه» اساس کېښودل شو په حقیقت کې دهمدغه چراغ روښنایي وړانګې وې چې په لویه بڼه یې ظهور وکړ »[۲۵]

هو ! رښتیاهم مولوي عبدالروف خاکي دژورنالیزم په ډګر اودغه راز دخپلواکي له پاره کې یوداسې اساس کېښود چې دسراج الاخبار دوهمه دوره دمحمود طرزي ترمشري لاندې پیل شوه دی هم دخاکي صاحب پربنستونو اوپلونو ولاړ ،څکه محمود طرزی چې که څه هم آزاد خیاله سړی و ؛خو په دې ډګر کې دخاکي صاحب هڅي ستایي او دسراج الاخبار په یوه ګڼه کې خ کي صاحب د دیني علومو ستر استاد او نامتو څېړونکی یادوي اوله کچې وتلي ستاینه یې کوي اوله نوموړي زیات اغېزمن ښکاري [۲۲] ، استاد حبیبي په

۲۴مخکنی اثر مخ ۳۲او ۳۳مخونه

۲۵دژورنالیزم مخکښان : ۴۴ او ۴۵مخونه

۲۲په جنبش مشروطیت کې دخاکي صاحب په اړه دمحمود طرزي لیکنه لوستلای شئ

څېړ نامتو محقق او تاریخپوه خاکي صاحب دپښتو دري اوعربي ژبو نامتو ادیب اوستر لیکوال عالم اوشاعر معرفي کوي . [۲۷]

دسراج الاخبار دوهمه دوره

دسراج الاخبار دوهمه دوره ددیني عالمانو په هڅونه اوهلوځلو دمحمود طرزي ترمشري پیل شوه اوددغې جریدې ددوهمې دورې لومړنی ګڼه ترشپږ کلن ځنډ وروسته یوځل بیا د ۱۲۸۹ل په مرغومي کې چې د ۱۹۱۱م کال جنوري په میاشت کېدله په کابل کې له چاپه راووتله .

دجریدې ددغه تګلارې په اړه څوځله امیر حبیب الله خان دجریدې کارکوونکو اومشرانو ته اخطار ورکړ چې په سراج الاخبار کې دې سیاسي مقالې خپرې نه کړې خودجریدې مشرانو دوطن دوستي دغه اخطارونه نه شوای زغملای دهمدې اخطرونو اوننګونو په منځ کې اودجریدې دپخوا په څېر دښکیلاک ګرو په ټکونه اودخپلې خپلواکی په ترلاسه کولو کې له نورو همغږو پوهنو سره جوره روان و چې له امله یې ډېر ځله دغې جریدې تر یوې اونۍ دزیات ژوند تمه نه لرله . اوددغې جریدې داداري دشړیدو له پاره هڅې روانې وې اویوو وخت دزیاتې ویرې له امله دغه جریدې دچاپ اونور سامان یې کارونکو ته کور ته له ځان سره یو وړل اوله هغه ځایه به یې دغه جریده خپرولـه اوپه مستعارونومونو به یې پکې لیکنې کولې. [۲۸]

پاتې په بله ګڼه کې

۲۷ مخکنی اثر مخ

۲۸مخکنی اثر ۶۶مخ په ژباړه کې له یوڅه بدلون سره

دنني جهاد پر مخيون کې

شاعرانه انځورونه !

دشاهد ليکنه

دلويديځ دنابېره تاړاک پرخلاف دافغان مسلمان ولس دجهادي خوځښت ځپانده کولو او ددې خاورې دربېدلي ولس سره دنړۍ دمسلمانانو دخواخوږۍ اوهمدردۍ په هيجان کې خو په بنسټيزه توګه دجومات دمنبراو محراب دخاوندانو جوت او بې بيلګې راڼه انځورونه تر سترګو کيږي ، خو همهاله ورسره دشعر او شاعرۍ دخوږې ځپې او زړه راکښونکې نغمې بنوال خپل مرموز تخيل اوخوږ الهامي غږ غاړه غړۍ کړي ،او لکه دجومات دمحراب دامام او دمنبر دواعظ زړه تخنونکيو اسلامي لاربښوونواو دکفر دجارحيت او اشغال په خلاف يې داتومي فتواوو غوندې شاعر او دالهام بخښونکيو عواطفو انځورګرهم په خپل حماسي او رزمي جذاب او کشش آميزه غږ داسلام او هيواد دميرخمنو ځيګرونه په تېرو اوسپنيزو نيزو وهلې اودغشو د(ابابيلو)تر بوږنوونکيو ګوزارونو لاندې يې داسې ساتلي ، چې ددوئ دبزم اورزم ښکالو يې لا په ستونې وچه کړې او آن د پرمختللې ژير بخني ژورناليزم د طلسم بتکده يي هم په ژغولو ځواکمنه نده .

تاريخ ګواه دی چې دهيواد مسلمان شاعر دخپلې فناني اوهدفمندې شاعرۍ او حماسه زيږونکې شعر په خوږلنه خو صيقل شوي ژبه تل دنړيوالو ښکيلاکګرو په وړاندې دخپل روحاني مقتدايانو (علماوو او طالبانو) سره په هره دښته ، دره ،سمه او غر کې اوږه په اوږه دجهاد مورچل تود ساتلی او دولس په بيدارولو او داسلام دغليمانو دشومو پلانونو په بربنډولو کې ،بيا دې هدفمند شاعر هغه کردار ادا کړی چې دنني متمدنې نړۍ دهايکو ګانو شعرونو اورومانيت سروالان او ګرد رون آندې يې ګوته په غاښ کړي.

کـه هغـه دپيرنګيانو دپرلـه پسې درې غبرګو يرغلونو پـه خلاف دافغان ولس عمومي پاخون تـه هځول وو ،يا کـه بيا پـه(۱۳۵۷او ۱۳۵۸ل هـ ل)کال کـې دکمونستانو او روسانو پـرخلاف جهاد تـه دخلکو پاځول اويا هم کـه دهمدې زيږيزې پيړۍ پـه

لومړیو کې دناټو تر چتر لاندې دوینه څښونکیو ښکیلاګرو اشـــرباتو (امریکایـــانو او اروپایـــانو) د(۲۰۰۱ ز) کال دنابېره او نامشروع یرغل په مقابل کې دافغان مسلمان قام اغفال شوي احساسات وېښول او په خپو راوستل وو.

درزم او بزم دمیـدان دا اتـل شـاعر تـل پداسـې برخلیـک ټاکونکیو شیبوکې دخپـل ولـس سره څنګ په څنګ دریـدلی او دخپـل فطري هنـر ،روزل شوي فـن اوخواږه ترنم په لیزري وړانګو یې داسلام ، وطن او افغـان قـام دښمنانو میرځمنـو سترګې برېښـولي او دشعر په خپله نازکخیاله ژبه یې ورتـه خپـل کې پیغـام دخپـل ننګیـال نیکـه (امیـر کـروړ سـوري) دا ویاړنـه ورغبرګه کړي چې:

زه یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نشته = په هند و سند و
پرتخار او پر کابل نشته
له ما اتل نشته - بل په زابل نشته
غشی دمن مې ځي بریښنا پر میر ځمنو باندې=په ژوبله
یونیم پر غالم پر تښتیدونو باندی
په ماتیدونو باندې - له ما اتل نشته
زما دبریو پر خول تاویږي هسک په نمنځ او په ویاړ=
دآس له سومې مځکه ریږدې غرونه کاندم لتاړ
کړم ایوادونه ویجاړ - له ما اتل نشته
زما دتورې ترشپول لاندې دي هرات او جرم = غرج ،
بامیان او تخار بولې نوم زما په اودوم.....................

کـه پرون دمعاصـر افغانسـتان بنسـټګر سترفاتح اوپر دین او وطن مین (احمدشاه بابا) دخپل شعر په ژبه داسې ویل چې:

((ستادعشق له وینو ډک دي ځیګرونه
ستاپه لاره کې بایلي ځلمي سرونه
تاته راشمه زړګی زما فارغ شي
بې له تامې اندیښنې دزړه مارونه
که هرڅو مې ددنیا ملکونه ډیر شي
زما به هیر نشي دا ستا ښکلي باغونه
احمدشاه به دغه ستا قدر هیر نه کا
که ونیسي دتمام جهان ملکونه

یا که دتورې او قلم اتل خوشحال خان خټک ویل چې:

((دافغـان پـه ننـګ مـې وتړلـه تـوره /ننګیـالی دزماني خوشحال خټک یم)).

یا داچې:

لا په خوب کې په لړزه پریوزي له کټه
چې دچا تر غوږ زما دتورې شرنګ وي
لا تراوسه یې ماغزه په قرار نه دي
چا چې ما سره وهلی سر په سنګ دی

نو نن هم الحمدلله دهیواد مسلمان شاعران دیرغلګرو پـه وړانـدې خپـل مخالفـت ښـیې اودا اشغال محکوموي ،چې دبیلګې په ډول بـه ددریو شاعرانو یادونه وکړو !

دلویدیځ یرغل په مقابل کې یوازې نه ،بلکې دوو پرله پسې یرغلونو(کمونیزم اوبیا سوسیالیزم)پـه وړانـدې دبغـاوت علمبـردار، غزلبول ،ژمن او دافغانستان(حمزه) ، ټولمنلی ،ادیب شاعر استاد فضـل ولـي(ناګار)پـه ډاګـه دا یرغلونـه وغنـدل او دخپـل مجاهدانـه بغـاوت پـه غـرږ یـې دجهـاد او خپلواکۍ دلارویانو قافلې داسې بدرګه کړي چې :

دآزادۍ سبا

استادناګار

جهاد روښانه خط د پیغمبر (ص) دی، ځئ چې ځو
دخدای (ج) دازمویني خور دګر دی، ځئ چې ځو
ماشوم دبخارا په ترخوپه ست لولي قرآن
مؤمن ته بس همدا زنګ دخطر دی، ځئ چې ځو
راښوري په تعقیب دي منځني اسیایا
تکبیر کې دي غیبي غوندي اثر دی، ځئ چې ځو
افغانه! په شانه څې، خو چې ونه خورې تیندک
حساب دګر داسلام نن ستا په سر دی، ځئ چې ځو
دبدر میلمانه نه دي ختلي بیا اسمان ته
ملاتړ دي دملکولوی لښکر دی، ځئ چې ځو
اسلام له منځه وړه شي، دیهودو په مشرۍ
وهلی یې اهتمام ته روس تېر دی، ځئ چې ځو
ژوندي چې دي خبن شوی دهغه شهید بچي
له خدایه! پس یې ستا په لور نظر دی، ځئ چې ځو
هرګام دي زېږوي له رعبه ډکې هنګامې
مانیوکي دکفر شور وشر دی، ځئ چې ځو
داستاد شومه دم نوراني کړېښې دمرمۍ
دلیکو سپېد وشاته سپین سهر دی، ځئ چې ځو
ختیځ کړي په «لویدیځ چاقو» پرېښن دخپل ناسور
حیران دشرم داغ ته لروبر دی، ځئ چې ځو
پرمخ ځئ شاه زلمو! دځمکې راکاږئ تناب
محشر په هدیره کې دقیصر دی، ځئ چې ځو
ناګاره! په غزل خاره افق دي دهیواد
په شرک دآزادۍ دسبا لمر دی، ځئ چې ځو

دوو یرغلونو (روس او امریکا) پرخلاف دجهاد لارښود علمبردار، دسپین غر د دنګو مورچلونو شاهین، دبي داغه ماضي څښتن محترم مولوي محمد یونس خالص رح پداسې حال کې چې دنورو علماوو په شان یې دامریکایانو پرخلاف دجهاد اعلان وکړ، خپل یو شمیر هغه ملګري چې دده دآند خلاف یې دجهاد پرځای دیرغلګرو ملګرتوب وکړ، په خپل عالمانه اوشاعرانه غږیې ترې داسې خپل برآت وښود:

پوچ کارتوس

ما وې چې باز دی خوتپوس وختو
په د ووسانو کې دووس وختو
دزړه په وینو مې روزنه ورکړه
چې زړه ترې جوړ کړم خوپپوس وختو
ډېر مې تولنه کې دروند وتللو.
اخرکې سپک اندې دبوس وختو
په جهادي هدف یې لوبې وکړې
خدایږو دروس څخه چړوس وختو
دامریکا په ډالرو نڅېده
دخدای له مرستې نه مایوس وختو
مورږ وې دده له بخته مخکې به څو
خو دې پخپله کې منحوس وختو
خالص له بل چانه ګیله نه کوي
پوچ یې دخپل جیبه کارتوس وختو

دهیوادستره علمي پانګه، نامتو څیړونکی، ادیب او شاعر اکاډمیسن استاد عبدالشکور رشاد صیب دامریکا او ناټو یرغل د صلیبي تاړاک پیلامه بللې او دخپل شعر په ژبه یې داسې غندلې چې:

دتودو وینو حمام

تروریزم داسلام په ضد پلمه ده
داپلمه دصلیبي جنګ پیلامه ده
داتګ کې ده دابرګې ده دانېرنګ دی

په وينا مستربوش صليبي جنگ دی
د سپين برج اهريمنان د شرخدايي کا
ديزدان د پيروانو سرکوبي کا
ايل شارون دی مقتدي جارج بوش امام
غواړي ونغاړي کمبله د اسلام
توني بلېر د دغه چرچ سيانه کشيش دی
ديهود و د ترسا د گټوويش دی
سيناگوک او کليسا دی لاس يو کړی
خدای ومه کړه د مسجد به کاړي زړی
نيت لري کنبېړدي کعبې ته اتوم بم
گروبوي زموږ د مکې ښارچم په چم
مدعي د انسانانو د حقونو
دي ريښي کاړي د بشر د ژوندونو
داعجبه د بشر بشر دوستي ده
دادوستي د بشر نه ده، شر دوستي ده ....

د ژمن ترانه ويونکي ملا فقير محمد درويش، مظهري، نوبهار، شهيد انعام الله خان او نورو.....غوندې د ترنم دنړۍ معماران خو هغه دي، چې په خپلو جادوگرو غږونو او موسقيت يې د پاريس، لندن او واشنگټن د سينماگانو کنگرې ماتې او د ديموکراسۍ ډول ته دنڅيدونکيو سندرغاړو د شيطاني غږونو په جال کې دننېتو غرايزو غږوندي يې داسې وشلول، چې بيا به يې څوک کوشير نه کړای شي او نه به يې څوک په طلسم کې وننبلي.....

اودا څکه چې:

دبشريت ستر لارښود حضرت محمد مصطفی ﷺ لا څوارلس سوه کاله مخکې ديوه مسلمان شاعر ذوقي پنځونې اوله تخيل څخه رازيږيدلې حماسي کلام يا شعر ته د(حکمت) يوه جامع او له محتوی ډکه کلمه کارولې وه او هغه داسې چې:

((ان من الشعر لحکمة (بخاري شريف)) حديث پوهان ددې جوامع الکلم صلی الله عليه وسلم اطلاقات له ژورو مفاهيمو سرچينه بولي، شعر باندې چې دحکمت اطلاق شوی، دا نو هسې کومه سرسري يا تشريفاتي ښکلا يز کلام نه دی، بلکې دلته له علمي تبحر او نبوغ استازيتوب شوی، اولوی سمندر په يوه کوزه کې په حکيمانه سليقه ځايه شوی، نو څکه يې په معنی کې نه حديث پوهان يوه خوله دي، او نه يې ترجمه په يوه لفظ کې مختصر کولای شي، نو دلته ده چې ځينې داسې وايي چې:

حکمت دعلم په معنی دی، حکمت هغه رښتني وينا ده، چې له حق سره پيونده وي، حکمت عدل دی، حکمت هغه گټور کلام دی چې له جهالت څخه پکې ژوغورنه شوې وي او .....او....

همداسې به په مسجد نبوي کې حسان بن ثابت ﵁ ته د اسلام ستر پيغمبر حضرت محمد ﷺ پخپله منبر ودراوه، اوحسان ﵁ به پرې له رسول الله ﷺ څخه دشعر په ژبه دفاع کوله، اورسول الله ﷺ به دحسان بن ثابت ﵁ په هکله ويل:

چې (روح القدس) دحسان رض تایید کوي((وکان النبي صلى اللهعليه وآله وسلم ينصب لـه منبرا في المسجد ،يقوم عليه قائما ينافح عنرسول الله صلى الله عليه وآله ،ورسول الله صلى الله عليه وآلهيقول: ان الله يؤيد حسانا بروح القدس ما نافح عن رسول الله صليا الله عليه وآله))چې همدا بشارتونه ديوه مسلمان او ژمن شاعرد مقام داوچتوالي لپاره بسنه کوي او ښايي دروح القدس همدا تایید وي، چې شعریې دخلکو سینو کې ولولې اودسوزونکې اور بڅرکي ښندي.

شاعرچې کله دالهام څخه درازیږیدلي شعري څپې توري دکاغذ پر مخ دقافيي او آهنګ له مخې انځورکړي،اودا شعر بیا د ترنم په هیجاني اوپارونکې قالب کې واچول شي ،نو اغیزیې بیا لکه دسمندري څپو ویده زړونه له خوابه را ویښوي او دخپلو عواطفو په پلوشو کې یې رانغاړي ،شعر یا کومه جهادي ترانه، چې مترنم په خواږه غږ زمزمه کړي ،نو لکه دبلالي ﷺ اذان دخلکو په سترګو کې داوښکود سیندونو فواري بهوي او اوریدونکي یوې بلې دنیا ته له ځانه بوځي ،داځکه چې یوخو دا شعر هدفمند او معنوي ښکلاوې له ځانه سره لري ،بل فطرتا" خوږ غږ په اوریدونکې اغیز ښندي اوهم پکې دافغانستان غوندې دربړیدلي ولس دآهونو بارز انعکاس شوی وي ، خوسربیره پردې د خپلو اسلافو شهسواري او اتلواله یې غومې زیږوي ، اود داسې شخص په فطري غیرت کې ساه پوه کي او په اسلامي ولولویې راولي !

دیوه مجاهد شاعر حماسي او جهادي اشعار پنځول او بیا یې دکوم ترانه ویونکې لخوا په خواږه او مترنمه بڼه ویل ،یوممدوح او محمود کار ځکه دی، چې دکفارو خلاف جهاد ته دمسلمانانو په لمسولو کې عمده او رغنده رول لوبوي ،اسلامي شریعت هم داسې ترنم اوشعر په خواږه آوازسره نه یوازې یو مشروع کار بولي ، بلکې دکفارو هجوې او داسلام ننګې ته یې لاپسې تشویقوي ، دشعري ترنم دمشروعیت لپاره لاندینی روایت چې هم دصحابو و رضی الله تعالی عنهم عمل ښودل شوی او هم پکې داسلام له ستر پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه داعرابو دنشید او ترنم داوریدلو روایت راغلی ،دنوموړي مدعی د اثبات لپاره بسنه کوي ،لکه په (الاداب للبيهقي)کې راغلي چې (وروينا عن جماعة من الصحابة الترنم بالشعر ، وسمع رسول الله صلى الله عليه وسلم نشيد الأعراب ، والحداء).

که یوې خواته نن سبا ټوله میډیا دیرغلګرو په لاس کې ده او له (۸۰۰) اتو سو څخه زیاتې تبلیغاتي وسیلې لکه راډیو ،اخبار ،مجله ،تلویزون اونور دمجاهدینو پر خلاف زهرجن تبلیغات کوي ،نو بل طرف ته دجهادي ادب او اسلامي شاعرۍ مخکښان ، دحماسي ترنم بلبلان اودهسکو غرونو نغمه بول توتیان په جادوګرو غږونو دجومات دمنبر او محراب دخاوندانو غوندې، دسپین غر ،تور غر ،سور غر ،هندوکش او پامیر دنګو څوکو ته ختلي او جهادي لیکوته دځوانانو دومره کتارونه راجذبوي، چې دغربي میډیا شرابي خماریان یې ،په میلیاردونو ډالرو او دپاریس ، لندن او واشنګټن دمصنوعي ښکلاوو په نذرانو نه جذبولی شي اونه ورته ددې شومې هیلې کوم څرک لګیدای شي ، ځکه نو د دومره تلاشونو سربیره بیا هم له خپلو فعالیتونو نهیلي شوي، چې دا په حقیقت کې دهغه سپیڅلي معنوي فکر او خپلواک ذهنیت پالنه ده ،چې غربي اشغالګر ترې عاجز دي .

دې کې هم شک نشته، چې شعر او شاعري یو مسؤلیت او شاعر یو مسؤل شخص دی ،داځکه چې دټولنې رهبري خلک دشاعر سره ترې ،او دده شعري پنځونې دټولنې دسمسکي یا خدای ﷻ مکړه دبې

لاریتوب سبب بولي ،نو چې کله شاعر او دترنم دنړۍ پاچا یو مسؤل شخص شو ،نوبدیهي به وي چې دخپل نوښتګرشعر پولې او سرحدونه داسې سیمې وټاکي، چې هم پکې اسلامي اقدار پام کې نیول شوي وي او هم ولسي عنعنات !

که چیرته شاعر، نه دمقدساتو پولي پیژني اونه هم دخپل مسلمان ولس دمنل شویو روایاتو پروا وکړي، نو لیري به نوي چې شعر یې دیوه زماني مقطع په تیریدو سره دابدیت په تلپاتي خواب ویده شي ،او نوموړی شاعر د نقادانو د غشو تر باران لاندې راشي اوشاعرانه یا ادبي منزلت یې پر مخکه ولویږي ،همدې ارزښتونو ته په کتو دشاعر له اسلامي او اخلاقي دندو څخه ده ، چې دشاعرۍ دحریم په چورلیز یا محوري چم کې دخپل شعر ناوي داسې سینګار کړي، چې شعر یې د ذاتي سپیڅلتیاوو سربیره په محیطي اواخلاقي سرحداتو کې داسې ځلند وځرخي ترڅو په خپل دې هنر سره دسپیڅلو موخو (پرکند) فتح کړي.

هوځیني شاعران به داسې هم وي ،چې دشعر هوسۍ دهوس په میدانونوکې ځغلوي او دمجنون اولیلى ،خدوخال ،زلفو وکمر ،خم ،شراب وکباب .....هڅونه ،یادونه اوپالنه یي لکه دجهالت دپیر دشاعرانو دمیکدې ،مې او ساقي په مستو آهنګونو ځرخي ،چې نه یوازې داچې دا ډول شعر ته مونږ شعري انحراف وایو ، بلکې په ځرګندو ټکیو وایو ، چې دشعر دا سې جهت یا لوری ټاکل قابل مذمت دی او زمونږ دخارخپلې تولنې نني ایجابات هم نن هاغسې ندي څنګه چې پکار وو ، چې هغه دخارجي یرغل برالا محکومیدل او دخپل مقدس دین او مظلوم ولس څخه ننګه او ملاتړ دی اوبس !

خولکه څنګه مو چې پرې تصریح وکړه ،زمونږ مسلمان شاعران نه یوازې دا چې دخپل شعر په ژبه دکفري لښکرو دیرغل غندنه کوي ،بلکې ګورو چې په عملي بڼه دجهاد تودو مورچلونوکې دنورو مورچلوالو سره اوږه په اوږه دکفري لښکرو پر خلاف جهادي بهیر پلى کوي ،که یوه لاس کې دقلم څوکه ،نو بل لاس کې یې د حیدري ذوالفقار توره او ډال وي او ښه په نره داسلام دښمنانو سره ډغرې وهي او د راتلونکې ګهول اسلامي تاریخ ته خپله جهادي ننګه سپاري !

دپورتنۍ څیړنې څخه داپایله اخستلای شو :

شاعر هغه څوک دی ،چې تر هر چا یې مخکې دلویدیځوالو داشغال غوندې دروسانواو تردې مخکې دپیرنګیانو پر خلاف دبغاوت غږ پورته کړی.

شعرویل او شعر لیکل، یو اسلامي او اخلاقي مسولیت لري، چې باید په سپکه سترګه ورته ونه کتل شي.

شاعرهغه څوک دی ،چې دخپل ایماني مسولیت له مخې دهر زورګیر او جابر په وړاندې یې دبغاوت اعلان وکړي.

ژمن شاعر دټولنې قیادت اولارښوونه کولای شي اوباید دخپلواکۍ په لاره کې دعلماوو سره اوږه په اوږه مبارزه وکړي.

شاعر ته نه ښایي، چې په خپل تخیلي کلام کې ،له اسلامي او عنعنوي پولو تیری وکړي.شعر باید یوه هدفمند کلام وي ،نه داچې دا له اعجازه ډک تخیلات له مصنوعي خدوخال څخه ځار کړای شي او دشعر هوسۍ دنفسي هوس په ډګرونوکې وځغلوي.

زموږ برخه، په اوسنۍ سړه جګړه کې!

الف لام

جګړه چې جګړه وي، سرې وينې، تاوده ډګرونه، توري لوخړې، تباهي او وراني ورسره حتمي وي، مرګونه او بدې ورځې له جګړې راپيداکيږي.

خودلته يوه بله جګړه هم شته چې داهيڅ ورسره نشته اوسړه جګړه يې بولي، داسې جګړه چې انتقام اوبدل پکې ترهابلې بڼه اخيستل کيږي اودښمن يې بې چړو وژل کيږي.

کـه څـه هـم دسړې جګـړې داصـطلاح اطـلاق د دوو زبرځواکو تـرمنځ دېـټې مقـابلې اوسيالۍ پـه تـاکلې مـوده کيږي. خو دغه مقابله چې په کوم ډول ترسره کېده، په ورته سيالۍ او تقابل يې اوس اطلاق عام شوی. په هغه وخت کې هم ددواړو لوريو ترمنځ يودبل پرضد تبليغاتو ته سړه جګړه ويل کېده.

دسړې جګړې په زمانه کې به ډېری سياستوالو دافکر کاوه چې داسړه جګړه به آخر په توده جګړه اوړي، سره ددې چې زموږ په هيواد دوارساترون پرغل کړی و او توده جګړه عملاً پيل وه، خو څرنګه چې امريکا اودناټوتړون په مستقيم نه! بلکې په غيرمستقيم ډول پکې ښکېل وه. نوځکه يې بياهم ددواړو تړونونو ترمنځ روان کشمکش سړه جګړه بلله.

داچې پـه افغانسـتان کې دشوروي جګـړه دډېـرو پـه انـد دومره نه ګټل کېده چې داسيا يو کوچنی هيواد دې دوارسادتړون ترون په وړاندې مقاومت وکړای شي، ځکه يې نو دخپل حريف په وړاندې بياهم له نزاکت څخه کار اخيست اوپه افغانستان کې دمجاهدينو له مقاومت څخه ننګه يې اخلاقي ملاتړ ګاڼه.

که څه هم اوس دسړې جګړې پای ۱۹۸۹ کـال دبـرلين ددېوال ړنګېدل بلل کيږي، خوداچې ولې دبرلين دېوال ړنګ شو پخپله ددې ځواب دی چې توده جګړه پيل وه او که څنګه ؟!!.

پور ته لنډه سريزه مې ددې لپاره سر کړه چې وپوښتو اوس حالت څه ډول دی، اياوس دغه جګړه شته ؟! که وي نو دسړې جګړې دوسايلو رول پکې څه ډول دی ؟اودچا ترمنځ ده ؟

لـه کلـه نـه چې نړۍ دځواک پـه لحـاظ يـوه قطبي شوې اودوارسادتړون لـه نړېـدو سـره دناټودهوس ښلی بې مهار دی، دسړې اوتودې جګړې يوبل لوری په نښه شوی چې دتړون له غړو هاخوا ډېری رضاکار هم په دغو جګړو کې ښکېل دي، اوکه ووايونړۍ بېرته ددغوجګړو په پيل سره بيا دوه قطبي شوې نو بې ځايه به نه وي، خودومره ده چې داځل وېش په تړونونو نه! بلکې په دووفکرونو يا عقيدو شوی چې يولورته يې اسلام اوبل لور ته داسلام په مقابل کې ټولې عقيدې او ايډيالوژۍ دي.

ددې دوو لوريو او تيوريو ترمنځ درواني تبليغاتي جګړې ميدان ډېر پراخ دی اودنړۍ په هره برخه کې يې مسلمانان له ګوزاره په امن نه دي. دغه فکري اوفرهنګي يرغل اوس په يوې داسې مهلکې اوتباه کوونکې څپې اوښتی چې ټولې مسلمانې ټولنې ګواښي اوډېر جدي کوښښ کيږي ترڅو له همدې لارې مسلمانان له خپل دينه واړوي هويت يې مسخ اوهغه اصيل نسبت چې دوی من حيث مسلمان ورته منسوب دي تغير کړي. اوبالاخره ددې لامل شي چې په مسلمان امت کې پاشلتياګډه اوپه خپلو کې سره اخته شي، په دې لار کې له دومره وسايلو کاراخيستل کيږي چې په حساب کې راوستل يې ډېر ګران دي. بلکې لادابه ووايو، چې په هر څه کې اوس دفکري يرغل نښې نښانې شته اوخبره تر ډېره باريکيو رسيدلې.

متقابلاًمسلمانان هم ترخپله وسه کوښښ کوي چې ددې مقابلې په وړاندې کلک ودريږي. اوډېری خوانانو دغه مسؤليت اوس حس کړی اوپه ښه ډول خپله مبارزه پرمخ ولي. خو څومره چې مسلمانان ددې جګړې ښکار دي بايې ددين اساسات په ښه شوي او څومره يې چې دوی په خپل ځان اودين باوره کړي په مقابل کې يې دمسلمانانو دفاعي سره جګړه په هيڅ ده، په دې ډګر کې به دنورې اسلامي نړۍ له وضعيت له دې امله تېر شو چې موضوع مو پرلوستونکوخلطه نشي، بواځې په خپل هيواد کې به ددې جګړې اندول ته پام وکړو او وبه ګورو چې دلته ددې سرې جګړې اغيز څه ډول دی په تېره بيا چې له کفري نړواکګرو سره عملاًتوده جګړه هم په خرپ روانه ده.

دميديا، مطبوعاتو يا رسنيو په اهميت به ډېر څه نه وايو بواځې هغه څه ته به وګورو چې له مونږ سره په جګړه کې زمونږ دښمن له دې وسايلو په څومره اندازه کار واخيست ؟ که څه هم دغه نظردې يوڅه عمق او ژور تياوغواړي.

امريکايي سناتور ريچارډجي لوګار(.RICHARD G LUGAR)په فارين سرويس ژورنال(Foreign Service Journal)مشهوره نشريه کې امريکايي مطبوعاتوته ديوې اوږدې کتنې په ترڅ کې وايي"...چې په امريکايي سياست کې مطبوعاتو ته ځانګړی اهميت ورکول کيږي. اودعمومي دولتي پاليسۍ ديوې مهمې پشتوانې او تکميلوونکې پديدې په سترګه ورته کتل کيږي.څکه دده په وينا له دې لارې دنورو هيوادونو ولسونه له امريکايي ايډيا خبريږي او دمختلفو قشرونو خلک دداډول اړيکو په واسطه تر اغيز لاندې راځي او له امريکايي سياست او کلتور سره علاقه پيدا کوي، نوموړی وايي له همدې امله خو ددوهمې نړيوالې جګړې سره هم مهال امريکا دنړۍ دبېلابېلو اولسونو لپاره خپلې راډيويي، تيلويزوني او نورې خپروني پيل کړې ترڅو دامريکايي ګټو دترلاسه کولو لپاره له سياسي او پوځي هڅو سره يوځای خپل کار په مخ بوځي او دامريکاپه اړه نړيوال اذهان روښانه وساتي...."

ددې لپاره چې خپل مقصد ته ورلنډ يو اوزمونږ په هيواد کې له رواني تودې جګړې سره دسرې جګړې ارزونه مو کړې وي، ترټولومهمه بياداچې خپلې وندې ته مو يکې کتلې وي³ په پاته ليکنه کې يو څو پوښتنې مطرح کوو اوضمناًپه هغوعلتونو هم رڼا اچوو چې دغه پوښتنې يې راولاړې کړې:

۱= ولې دحريفو مطبوعاتو په خبر استناد کوو اوپه اهميت ورته قايل يو ؟

۲= دمطبوعاتو ازادي په کومه معنا ده ؟

۳= زمونږ مطبوعات ولې دومره مؤثر نه دي لکه نور ؟

۴= دقضيې اصلي محور چې مونږ پخپله يومطبوعات موولې له مؤثريت محروم دي؟

۵= بواځې خپله خبره کول اوخپله خپرول په خلکو منل کيږي او که دې هدف ته درسېدو نورې لارې چارې دي ؟

دمؤثري رسنۍ تعريف داسې كوي : هغه خپرندويه وسيلې دي چې ولس او واكمنو ته واقعيتونه ورسوي اوحقايق ور ته په ګوته كړي او خپل اصالت ته په ژمنتيا خپله خپلواكي اوبې طرفي وساتي .

دغه ارزښت اوتعريف ته په پام په نن وخت كې چې له دومره لوى اومكار دښمن سره ښكېل يو پر خپلو مطبوعاتو اورسنيو يوڅه تم كيږو. ضمناً داخبره هم بايد وكړو چې په هيواد كې له پرغلګرو ځواكونو سره سينه په سينه جنګ كې تر نوي '٩٠' زياته سلنه طالبان ياد اسلامي امارت ده ، نو ښكاره ده چې دمقابل لوري سره جګړه به هم تردېره دوى ته متوجه وي ، خو داچې بېر ته په مقابل كې ددوى رسنۍ څومره مؤثرې دي ؟ يوڅه پرې غږېږو او له همدې ځايه پور ته پوښتنو ته ځوابونه اوعلتونه لټوو:

داسلامي امارت په تېره برحاله دوره كې مطبوعات اورسنۍ ګونګې وې اوهيڅكله يې ونشواى كړاى چې خپل رسالت اداكړي. تردې چې دسرپرستۍ شورا مقام هم لاچاپي مطبوعات دكاغذونو ضياع وبلله اوهيڅ ترېنه راضي نه وو ، ځكه په رښتياېې هم ونشو كړاى خپل مؤثريت وښيي اوله كليشه يي توبه ووځي .



په هغه وخت كې به زمونږ دوه ځپانو خبريالانو ويل : مونږ چې دهر وزارت اورياست مقام ته دخبر اوراپور له پاره ورشو په ساعتونو انتظارباسو اومسؤلين مو خپل حضورت ته نه مني. خوچې دباندنيو اژانسونو خبريال راشي په هرمقام كې منل كيږي اوهر ګوره يې په مخ دروازه خلاصه وي .

دا په داسې حال كې وه چې ددغو رسنيو له دښمنۍ مو سرټكاوه اوزمونږ پرضد تبليغات به يې ښكاره و. خوداچې هغه ژوندۍ اوزمونږ دابې روحه وې. نوځكه به مو بياهم يوڅه تمه ورته لرله. دا په دې چې هغوى هيڅكله خپله دښمني راسره په داسې دول نه كوله چې مونږ دې ببخي ور ونه ګورو اوبالكل يې له پامه ورغورځوو. بلكې په همدې احتياج كې به يې زهر راكول اوهيڅكله ترې بې نيازه كېداى نشواى .

اوس هم همداسې ده كه په سلو كې يې زمونږ په لس فيصده حقيقت اعتراف كړي وي نو دځان لپاره يې بريا بولو اويوبل ته يې لېږو .

له دوى نه زمونږ نه استغنا يا اړتيا او نه خلاصون مونږ ته دوه خبرې په ګوته كوي : يا داچې ددغو رسنيو ازادي ومنو او ووايو چې خپلواكه او بې پرې دي اويا داچې په دې ډګر كې يې دسير اوتكامل زمانه ترمونږ مخكې او اوږده سابقه لري .

په لومړۍ داكې خو زه هم له هغو سره همفكره يم چې ډېرى نړيوالې مشهورې رسنۍ بې پرې نه بولي اوهرومرو به چاته كار كوي. لكه كړنې يې چې هم همداسې ښيي. خوداچې څه دول توانيدلي چې په خلكو يې خپله دادعوه ترډېره حده ومنلي چې مونږ خپلواكه اوبې پرې يو " يواځې خبر تيامو په مونږ اوقضاوت ستاسوخپل دى " ؟

ښه نو دغه رازېې په څه كې دى او څنګه يې خلك مهار كړي ؟!

درسنيومخكښان اوپوهان يې راپه ګوته كوي او وايي چې دلته د "....تول زما " خبره له پامه غورځول كيږي اود " كچه

لو کچه دو" پر قاعده عمل کوي یانې ګټه په تاوان کوي . یواځې خپله خبر نه ګر دانوي . تر یوڅه اندازې دبل خبره هم اخلي .

موږ چې په خپلو مطبوعاتو کې دیوچا یوره نوم اخیستل نه شو زغملای ، څه ډول بـه و کولای شو خپـل اوپـر دي دواړه مو مطبوعات وګوري ؟ اوس خو زموږ مطبوعات یواځې خپـل خلـک ګـوري اوپـه خپلـو کې هـم هغـه خلـک پـرې قایـل نـه دي چـې دمطبوعاتو هیجان اوشور ش ور ته معلوم وي .

دلته داخبره هم باید هېره نه کړو چې پـه نن وخت کې دبر پښنایي میدیا له مؤثریت او چټکتیانه انکار نه شي کېدای ، خو داچې دبر پښنایي میدیا دسر کړی پیاهم ددښمن په لاس کې ده نو زموږ پـه حق کې یـې مؤثریـت بیـا تر سوال لانـدې دی او دموقع پر وخت یې خنثی کولای شي .

ددې لپاره هم باید خپل چاپي مطبوعاتو ته ډېره پاملرنه وشي اوداسې حد ته ورسول شي چې حساب پرې وشي ، ځکه له ډېرو قیوداتو او تنګو شرایطو سره بیاهم په یونه یوشکل یې نشر زموږ په لاس کې دی .

که چېر ته په کمه بر خه قناعت وکړو اوپه یوڅه تاوان ګټـه ترلاسه کړو یاپه بله وینا یواځې خپله خبر پر چا وچه کلکه ونه منو ، بلکې دخپلو وستونکیوهم ډېر څه واخلو اوبر قاچاق پـرې ومنو؛ همـدا دمطبوعـاتو دهغې خپلـواکۍ نـوم دی چـې نـن یـې پر موږ دتورې برېښ زیات دی .

دمطبوعـاتو اوبیـان دآزادۍ هغـه تعریـف چـې نـن سبا پـه میدیا کې یادیږي پخپله همدغه میدیا هم هیڅکله ور ته ژمنه نه ده ، نود اسلامي مطبوعـاتو لپاره خوبـه دآزادۍ مطلـب هیڅکلـه هغـه نـه وي چـې اخلاقي بې بنـدوباري پـرې مر تـب او اسـلامي اقدارو ته پکې په سپکه کتل کیږي ، بلکې دلته به دمطبوعاتو له خپلواکۍ نـه مـراد هغـه ازادي او اختیـار وي چې خپـل مؤثریـت پرې ثابت کړای شي .

اوس خو موږ خپـل حقایق او واقعیتونه پرچانه شو منلی اوهغوی پر موږ له حقیقته لرې څه تېي اوپر خلکوېې مني .

او که نه ! دوهمـه خبـره ځانتـه دلیـل وګرځوو او وواېو چې ددغو غمازو مطبوعاتو ، مطبوعاتي سیر اودتکامل زمانه اوږده ده اووسائل یې زموږ پر نسبت دېر تلې ور هم نه دي ، نوداباید ومنو : هغه مو که اوچانس چې زمونږ په برخه دی نور ترېنه محروم دي ، هغـه داسې چې دقضیې اصـلي محـور موږ یو ، خو پـه مطبوعـاتي ډګر کې مدالونه او ترفیعات پر موږ نور خلـک اخلي اوپـه نړیوالـه سـویه دنظر خاونـدان هغـه مطبوعـاتي څېـرې دي چـې پر مـوږ تبصرې او تحلیلونه کوي ، خوپـه خپلـه موږ لـه دې مو کې څخـه هغسې استفاده لکه چې ښایي نه اخلو یایې نه شو اخیستلای .

لـه مطبوعاتو ګټـه داسې نـه ده لکـه دهغـه دکانـدار سـلعه اومتاع چې لـه بل سره نـه پیـداکیږي او پېرېدونکی دپلورونکي هرناز اونخره ومني تر څوخپل مقصد ترلاسه کړي ، بلکې دلته به لومړی پر خلکو ځان مني ، بیابـه پرې خپـل څه منلی شې ، نو پـه دې لار کې دتر خو حقیقتونو منل پـه حقیقت کې دځـان نـه بې اعتباره کول دي .

دغـه راز مسؤلینو تـه پـه رسـا ډول واقعیتونـه اوحقیقتونـه رسول اوهغوی خبرول نه یواځې داچې مطبوعاتي رسالت تر سره کول دي بلکې پر خلکو دځان منلو اوخپـل حیثیـت سالتو یوبل راز دی چې باید له پامه ونه غور ځول شي اوعمل پرې وشي .

درسنیو په سیالي کې دغـه یوڅو ټکي هغـه څه دي چې لـه دې پر ته پرې مقصود نه شي ترلاسه کېدلای اوپـه دې ډګر کې یې اوس هغـه مقـام خپـل کـړی چـې سـتر ګې تـرې هـم نـه شي پټېدلای ، د" شهامت " دکالګنې لـه بر کتـه مو یواځې دهمدې موخې دترلاسه کولو په غرض پورته لیکنـه وکـړه ، الله تعالی دې وکړي چې هدف ته مو ورلنډ کړي ، والله ولي التوفیق .

امریکا له افغانستانه وځي که دخپلې جګړې شکل بدلوي؟

لیکنه:مولوي عبدالهادي (مجاهد)

پدې کې نور شک ندی پاتې چې امریکا په افغانستان کې په پوځي ډګر کې ماتې خوړلې او لدې خاورې به خپل پوځونه باسي،خو یو بل حقیقت هم دهېرولو ندی او هغه داچې په تېره یوه پېړۍ کې چې دغربیانو لخوا څومره اسلامي هېوادونه اشغال شوي او بیا په ظاهره ترې آزادشوي دي دهغو په یوه کې هم بیا اسلامي نظام ندی قائم شوی،او داځکه چې غربیانو هلته دومره بچوړي وېستلي وي چې هغوئ تر اصلي غربیانو ډېر (غربیان) او داسلامي شریعت دپلي کیدلوسر سخته مخالفین وي،او په هیڅ ډول نه پرېږدي چې اسلام دې بیاپه دغو هیوادونو کې حاکم شي.ددغو هیوادونو اوسنی سیاسي،اجتماعي او نظامي وضعیت دا ښئي چې غربیانو دغه هیوادونه پرې ایښي ندي بلکه یواځې یې هلته دخپل حضور شکل بدل کړی او لنډمهالې پوځي جګړې یې په دائمي سیاسي،فکري او بالواسطه نظامي تسخیر اړولې دي.

غرب په افغانستان کې هم دهمدې تجربې تکرارول غواړي،او دهمدې کار لپاره یې پراخه آماده ګي نیولې ده،خو دافغاني مجاهدینو مشکل داوي چې له دښمن سره یې په مقابله کې توجه یوازې دپوځي جګړې لوري ته وي،او له پوځي جګړې نه دوروسته مرحلې او ددښمن دناپوځي جګړې دمقابلې لپاره یې آماده ګي او تدابیر نه وي،نو ځکه خو تقریباهر ځل تر آزادۍ وروسته داسې یو دولت او نظام منځته راشي دجهاد اهداف او دملت ارمانونه ور کې نه وي تمثیل شوي.

داسې ښکاري چې اوس امریکا هم دلاندې عواملو له امله له افغانستانه خپل پوځیان وباسي،خو خپله جګړه دلته په پوځي او نا پوځي دواړو شکلونو کې دوامداره پریښودل غواړي چې د امریکا ملګري به پرمخ بیایي او قوماندہ او تمویل به غرب پر غاړه اخلي،او دا کار به ځکه کوي چې امریکا پدې سیمه کې داوږدې مودې اهداف لري هغه چې دمستقیم اشغال په شکل کې حاصل نه شول.

امریکا ولې خپل پوځونه باسي؟

امریکا دلاندې دلائلو له امله خپل پوځونه دجګړې له میدانه وباسي:

۱-امریکایي پوځ دلته خپله جګړه بایللې ده،او دجګړې په ډګر کې یې نور پاتې کیدل ددې سبب ګرځي چې امریکایي پوځ او امریکایي جنګي تکنالوژي په نړۍ کې خپل ګټلی هیبت او برلاسی له لاسه ور کړي، چې پدې کار سره به امریکا په نړۍ کې دخپل پوځي تفوق له امتیاز څخه دتل لپاره محرومیږي.

۲-امریکا غوښتل دجنګ له لارې افغانستان او عراق تسخیر کړي،او بیا دمنځنۍ آسیا او منځني ختیځ دنفتو پر دولت داسې صنعتي او تجارتي کنترول حاصل کړي چې دټولې نړۍ خلک دتیلو په اخیستلو کې امریکاته محتاج او دهغې دشرطونو منونکي وي،او دتیلو پر منابعو دتسلط له لارې روسیه، چین،اروپا او نوره نړۍ تر خپل فشار لاندې ونیسي.

امریکا د افغانستان او عراق او بیا ورپسې د ایران نیول ځکه شوني ګڼلي ول چې د امریکا په مقابل کې هیڅوک له دغو دولتونو سره نه دریدل. او نه یې د دوئ لپاره دیوازیني زبرځواک (امریکا) دښمني پرغاړه اخیسته.

خو اوس چې په افغانستان او عراق دواړو کې د امریکا دغه ستر پلان دیوې نامتوقع جګړې او دمجاهدینو د نه ستومانه کیدونکي جهاد په نتیجه کې له ماتې سره مخ شو، نو امریکا نور پدې پلان اضافي مصرف نه کوي، او همدا علت ؤ چې عراق یې پریښود. دافغانستان دحکومت پوځ ته یې درنې وسلې، ټانګونه، هوایي او هوایي مدافع وسلې او وسائل ورنه کړل. بلکه ددې نظام د بقا لپاره یې هیڅ مالي تضمین ته هم زړه ښه نه کړ. دا چې نور امریکا خپلو اقتصادي اهدافو ته د اوس لپاره دجګړې له لارې نه رسیږي ځکه خو نور په افغانستان کې نه پوځي او نه هم ملکي اداري تقویه کوي.

۳- د امریکا داوړو ګوندونو جمهوریت پلوو (دبوش ډلې) او دیموکراتانو (د اوباما ډلې) دواړو په افغانستان کې د امریکا جګړه روانه وساتله. او د امریکایي ولس له مالیاتو څخه یې ښه ډیر ډالر پدې جګړه ولګول. خو اوس دغه داوړه ګوندونه له دې جګړې څخه داسې څه په لاس کې نه لري چې امریکایي ولس ته یې دخپلو ډیرلګښتونو دجګړې او درنو مصارفو دلاسته راوړنې په حیث وړاندې کړي.

هغه مقاصد او مبررات چې دې دواړو ګوندونو ددې جګړې لپاره لرل یو یې هم تر سره نه شول. دمثال په ډول:

نه په افغانستان کې غربي ډیموکراسي حاکمه شوه.

نه په دې وطن کې یو مستحکم غرب پلوی حکومت جوړ شو.

نه د افغانستان له لارې له منځنۍ آسیا څخه دهند سمندر ته هغه دتیلو پایپ لاین تیر شو چې ټول غرب ورته په بې صبرۍ انتظار باسي.

نه طالبان له منځه لاړل. نه یې نظریه ختمه شوه. او نه یې پوځي او بشري ځواک کمزوری شو.

القاعده هم ختمه نه شوه. بلکه درهبر له شهادته وروسته یې دنړۍ په نورو سیمو لکه عراق، یمن، مصر، تونس، لیبیا، الجزائر، صومال، مالي، سوریه، پاکستان او نورو هیوادونو کې نوره هم زوروره شوه. او د مجاهدینو شمیر یې له سلګونو څخه سلګونو زرو ته ورسید. پراخې سیمې او ښه ډیر پوځي وسائل او مادي امکانیات په لاس ورغلل.

همدارنګه د چین، روسیې او ایران دمهارولو ارمان یې هم ترسره نشو. نو ځکه خو اوس امریکایي رهبران خپل ولس ته د دې جګړې د دوادم لپاره هیڅ دلیل نه لري.

۴- امریکا که په تیرې پیړۍ کې پر خپلو او دخپلو ملګرو پر جګړو مصارف کول نو په هغه وخت کې یې یوستر هدف درلود او هغه دشوروي اتحاد دپراختیاغوښتنې مخنیوی وو چې باید په هر قیمت تر سره شوی وای. خو نن امریکا د داسې چا په مقابل کې پر جګړه درانه مصارف کوي چې اصلاً نه د پراختیا غوښتنې اجندا لري. او نه هم د دې کار لپاره د شوروي اتحاد په څیر پوځي او مالي توانایي. نو ځکه خو امریکا نور نه غواړي خپل پوځ او ولس د داسې چا په خلاف په اوږدې جګړې کې مصروف وساتي چې داروپا او امریکا لپاره کوم خطر نشي پیښولی.

۵- دافغانستان هغه اداره چې امریکا وربانديې مصرف کوي په فساد کې دومره غرقه ده چې په هیڅ صورت نشي کولی داوږدې مودې لپاره خپله بقا تضمین کړي. هغه حکومت چې هره ورځ دوبجاړیدلو او داخلي اختلافاتو پر لور روان وي او خپل ځان نشي ساتلی نو امریکا ته به څه اقتصادي، سیاسي او پوځي خدمت ترسره کړي؟

دهمدغو او نورو عواملو له امله امریکا غواړي خپل پوځونه له افغانستان څخه وباسي. او نور پر یوې لاحاصله او بایللې جګړې دخپل هغه ولس مال ونه لګوي چې لا له وړاندې له اقتصادي رکود او مالي بحران سره مخ دی. د دې جګړې دوام به امریکا دشوروي اتحاد له سرنوشت سره مخ کړي.

امریکا نور ددې جګړې اقتصادي توان نه لري. که طالبان جګړه وکړي او که یې ونه کړي امریکا به خپل پوځونه لدې خاورې وباسي.

خودیوې لنډې مودې لپاره بنایي امریکا د کابل د ادارې پر اردو یو څه نور مصرف هم وکړي. خو دا چې امریکایانو دې نتیجې ته رسیدلي چې دغه اردو یوه بیسواده، بې تخصصه، بې انګیزې او تر ډیره حده پر

قومي گرايشاتو ولاړه اردو ده، او دمليارډونو ډالرو په مصرف هم دمسلکي توب پر لاره روانه نشوه، نو ځکه خو هغوئ اوس پر دې اردو د ډېرو مصاريفو کول دخپل مال ضائع کيدل بولي، او هڅه کوي د اردو په نسبت هغو مليشو او اربکيو ته خپل پام واړوي چې په آتي ډول د دوئ دمقاصدو د تحقق لپاره دهر ډول جناياتو ترسره کولو ته زړه ښه کوي. دغه مليشې نه باسواده کولو ته ضرورت لري، نه تکنالوژي کاروي، نه د پوځي دسپلين په مراعات کولو مکلف دي، او نه هم د اردو په څير درنو مصاريفو او پوځي تسهيلاتو ته ضرورت لري.

له بل لوري همدغه اربکيان په بيلابيلو ځايونو کې د سياسي، تنظيمي او قومي جهتونو له لوري د امريکايانو په اختيار کې ور کول کيږي چې هم ورباندې سمدستي د امريکايانو توجه ځانته راواړوي، او هم به له دغو مليشو څخه دسبا ورځې لپاره دخپل محلي مسلح ځواک په حيث استفاده وکړي، او خپل مصالح به ورباندې حمايه کړي.

امريکايان بنايي د کابل په اداره کې دمطرحو جهتونو په ملاتړ د اربکيو پروژه په راتلونکي کې نوره هم ديوې مودې لپاره په تيزۍ وغځوي. ترڅو دهغوئ د وحشيانه فعاليتونو او له هغوئ څخه دمقابل لوري دانتقام اخيستونکو دعکس العملونو له لارې جنگ په افغاني ټولنه کې ښه خپور کړي، او پدې ډول له خپلو وتلو وروسته افغاني ټولنه له استقرار څخه نوره هم محرومه او په داخلي جگړو کې ښکيل کړي.

امريکا ولې په افغانستان کې په محلي ډول جگړه دوامداره ساتي؟

امريکا دلاندې دلائلو له مخې په افغانستان کې دطالبانو په مقابل کې دافغانانو په لاس جگړه دوامداره ساتل غواړي:

۱ - ددې لپاره چې په افغانستان کې بيا يو اسلامي حکومت جوړ او شريعت تطبيق نشي.

داسلامي امارت په وخت کې افغانستان دزمکې پر مخ يوازينی دولت وو چې شريعت ور کې تطبيق شوی وو او په سياسي او تقنيني لحاظ دغرب پر معيارونو روان نه وو.

همدا اوس هم په ټوله دنيا کې يو دولت او نظام داسې نشته چې په سياسي، نظامي، اقتصادي او تقنيني لحاظ دې دغرب پر معيارونو نه چليږي.

طالبان چې خپل سياست، نظام، اقتصاد، قوانين او دټولنې دتنظيمولو لپاره هر څه داسلام مطابق غواړي، او پدې لاره کې له چا سره جوړ جاړی نه کوي، نو طبيعي ده چې غرب به يې په خلاف جگړه روانه ساتي، ترڅو ونه کولی شي استقرار پيدا کړي، او داسې يو نظام جوړ کړي چې دنړيوالو پر کفري معيارونو نه بلکه داسلام پر معيارونو ولاړ وي.

که چيرې دغه ډول يو نظام رامنځته کيږي نو هغه به په اسلامي نړۍ کې دنورو مسلمانانو لپاره چې همدا اوس هم له خپلو سيکولرو حکومتونو په تنگ دي ديوې نمونې او ماډل حيثيت ولري، او دا به هم خلکو ته ور تلقين کړي چې د ريښتني بدلون يوازينۍ لار رښتيا هم يوازې جهاد دی. غرب په هيڅ ډول نه پريږدي چې دغه ډول يو مثال او ماډل دې په نړۍ کې قائم شي.

۲ - ددې لپاره چې دامريکا لخوا رامنځته شوی وضعيت او دهغې لاسته راوړنې دلته دوام وکړي.

امريکا په تيرو درې لسيزو کې او په خاص ډول دافغانستان تر اشغالولو وروسته پر افغانانو ډير مصاريف کړي چې په نتيجه کې اوسني سياسي، نظامي او فکري وضعيت رامنځته شوی دی. امريکا او ملگرو يې دلته په لسگونو سياسي احزاب جوړ کړي. داسې يو اساسي قانون يې جوړ کړی چې دغرب لپاره ترهر څه مهم دی، او د هر ډول مذاکراتو لپاره دهغه منل او په هغه کې تغيير نه راوستل اساسي شرط گڼي. ځکه چې په هغه کې دغرب ټولې غوښتنې او ارمانونه نغښتل شوي دي.

امريکا دلته سياسي او پوځي جوړښتونه جوړ کړي دي او په زرگونو خپل پلويان يې په هغو کې ځای پرځای کړي دي. همدارنگه يې په سلگونو سياسي او مدني ټولنې، مؤسسې او تشکيلات رامنځته کړي دي. په لسگونو راډيويي او تلويزوني ستيشنونه يې جوړ کړي. او په سلگونو چاپي مطبوعات يې رامنځته کړي دي چې دغرب

او دهغه دملګرو په ګټه دخلکو ذهن سازي او دغرب دلنډمهالو او اوږدمهالو پلانو دتطبيق لپاره زمينه سازي کوي.

همدارنګه امريکا دلته داسې تعليمي نصاب او نظام جوړ کړی چې راتلونکی نسل په هغه ډول تربيه کړي چې غرب يې غواړي.

امريکا او نورو غربي هيوادونو دلته دپوځي، مسلکی او عمومي زده کړو لپاره په لسګونو دلوړو زده کړومکاتب، پوهنتونونه، اکاډمۍ او نورې اداري جوړې کړې دي چې دوئ يې فارغان په افغانستان کې خپل ملګري ګڼي.

امريکاپه تيرو ديارلسو کلونو کې دزرګونو مؤسسو له لارې هڅه وکړه دافغانې ټولنې ديني، فکري، اخلاقي او اجتماعي جوړښتونه تبديل کړي، او افغانې ټولنه دغربي اجتماعي او اخلاقي معيارونو مطابق تنظيم کړي.

امريکا دافغانستان داقتصادي چارو يوه زياته برخه دخصوصي سکتور په نامه داسې اشخاصو او کمپنيو ته ورسپارلې چې هغوئ دغرب خپل خلک دي اوغواړي چې افغانستان په داسې يو اقتصادي حالت کې وساتي چې په هرڅه کې غرب ته محتاج او دهغه په بانکي او تجارتي لومو کې راګير وي.

٣- ددې لپاره چې افغانستان له غرب سره په امنيتي، استراتيژيکو، سياسي، تعليمي او فرهنګي تړونونو پورې تړلی وي، او په راتلونکی کې يې له هرچا سره هر ډول تعامل ددوئ تر کنټرول لاندې پاتې شي.

٤ـ ددې لپاره چې طالبان له نامنظمو چريکي مجاهدينو څخه په يو منظم ايډيالوژيک عسکري ځواک بدل نشي چې بيا به دغرب مصالحو ته په سيمه کې لوی تهديد وي.

امريکا په افغانستان کې دخپلې جګړې شکل ته تغيير ور کوي

که له يوې امريکايان په خپله له افغانستانه وځي او جګړه افغاني کوي نو له بلې خوا افغانستان څخه ددوئ د پوځونو وتل قطعاً پدې معنی ندي چې امريکا به دافغانانو او مجاهدينو په خلاف خپله جګړه دروي. بلکه امريکا په افغانستان کې دخپلې عسکري جګړې د ناموّثريت له امله له هغې تيرېږي او دافغانستان او افغانانو دتسخيرولو لپاره له سياسي، استخباراتي، اقتصادي فکري، فرهنګي او تعليمي وسائلو څخه دکار په اخيستلو بلې اوږدمهالې جګړې ته دوام ور کوي، ترڅو خپل پوځي شکست له ناپوځي لارو جبيره کړي، او خپلو هغو اهدافو ته په لږو مصارفو ورسيږي چې په پوځي جګړه کې دسلګونو مليار دو ډالرو په مصرف ور ونه شول رسيدلی.

ددې لپاره چې امريکا په راتلونکي کې افغانستان هم دنورو اسلامي هيوادو په څير په ځان پسې روان کړي، او پدې سيمه کې خپلو سياسي، عسکري اواقتصادي اهدافو ته دبې مقاومته رسيدلو لپاره زمينه سازي وکړي امريکا دپوځي جنګ پرځای سياسي فکري، رواني او اقتصادي جنګ ته دوام ور کوي، چې پدې لاره له لاندې وسائلو او اساليبو کار اخلي:

دناپوځي جګړې شکل او وسائل

١- دغرب ملګري په واک کې ساتل:

امريکا داسې خلک، سياسي جهتونه، احزاب، او ټولنې واک ته رسوي چې امريکا ته به دحاکم وضعيت دنه بدلولو ضمانت ور کوي، سيکولرزم به دفکر او تصور (عقيدې) او ډيمو کراسي به دنظام په حيث مني، او واک ته دررسيدلو يوازينۍ لار به انتخابات او سياسي جوړ جاړی ګڼي.

د(ډيموکرات اسلام) يا(امريکايي اسلام) پلويان دي، دجهاد، ولاء او براء، او دامت دعملي وحدت پر مفاهيمو او نظرياتو باور نه لري، په سياسي پلوراليزم، وطنيت او دنړۍ له کفارو سره ديومشترک نړيوال نظام په چوکاټ کې ګوزاره کوي، داسلام د اقتصادي نظام پرځای دکاپيټاليزم پر اقتصادی نظام چليږي، او دګلوبلايزيشن په نامه دامريکا دنړيوالې برلاسۍ په مقابل کې د اسلام په فکر او عقيده ولاړ موقف نه لري. دغه خلک به غرب ته بدا ضمانت ور کوي چې اسلامي شريعت به نه تطبيقوي، بلکه يوازې په يوڅو ظاهري شکليانو به دخلکو دتير ايستلو هڅې کوي. له امريکا، ملګرو ملتو، ناټو، نړيوال بانک او په مجموع کې ددوئ په اصطلاح له نړيوالې ټولنې سره به خپلو التزاماتو ته وفادار وي، ترڅو يې هغوي په رسميت وپيژني او ملاتړ اومرسته يې وکړي.

امریکا به هڅه وکړي دغو خلکو ته د چارو واکي ددې لپاره وروسپاري چې دلته د امریکا دخوښې مطابق حکمراني وکړي، له امریکا سره امنیتي تړون امضاء کړي، دمجاهدینو په خلاف جګړې ته زمن پاتې شي، دامریکا داشغال د تیرو دیار لسو کلونو سیاسي، او فکري لاسته راوړنې لکه ډیموکراسي، سیکولریزم، دښځو لپاره غربي ډوله آزادي، غربي بشري حقوق، دشریعت پر ځای دوضعي قوانینو تنفیذ او دغرب لپاره د افغانستان تابعیت وساتي.

دغه خلک باید دیته هم ذهني او عملي تیاری ولري چې که دافغانستان غرب، جنوب، او شرق په اوله مرحله کې دطالبانو په لاس سقوط وکړي نو دوئ باید دافغانستان په شمال کې دغرب تر حمایې لاندې بله داسې یوه اداره جوړه کړي چې تر ډیره حده دنشنلزم او سیکولریزم پر بنسټ ولاړه وي، او په منځنۍ اسیا کې به حکومتونه پدې وېروي چې که ددوئ حمایت ونه کړي نو دافغانستان لخوا به هغوئ ته داسلامي فعالیت دور غځېدلو خطر ورپېښ شي.

۲- له ناپوهې لارو دطالبانو دکمزورۍ کولو هڅې:

امریکا له سیاسي او استخباراتي لارو نوره هم هڅه کوي چې هغه خلک او کړی دمنځلارو طالبانو په حیث رامنځته کړي چې یو وخت یې دخپلو شخصي اویا تنظیمي مصالحو دخوندي کولو لپاره دطالبانو په تحریک کې ځان ځای کړی وو، خو وروسته چې د طالبانو قیادت په ټینګه دجهاد او د اسلامي شریعت پر سر له چا سره د نه جوړجاړي لاره ونیوه نو دغو په طالبانو کې ورننوتلو سیاسي لوبغاړو خپلې لارې بیلې کړې او په یوه او بل نامه یې دیر غلګرو تر وزرو لاندې ځانته ځالې جوړې کړې، او یوه په بل پسې یې له پردیو ګریوانونو سرونه راوتل.

امریکا متحدین یې، دسیمې هیوادونه او ګاونډیان هیڅکله نه غواړي چې په افغانستان کې یو واقعي اسلامي حکومت قائم او په رښتني معنی شریعت ورکې پلی شي، ځکه چې دابه بیادسیمې دنورو مسلمانانو لپاره چې دغربي ډوله فاسدو سیکولرو نظامونو له فساد او استبداد څخه کړېدلي دي یو ماډل جوړ شي چې هغوئ به یې هم په خپلو هیوادونو کې دپلي کولو مطالبې او هڅې شروع کړي. نودوئ ټول به هڅې کوي چې یا رېښتني طالبان د اسلامي حکومت او د شریعت



دنافذولو له دعوی څخه تیر او په داسې یوه نظام یې قانع کړي چې یوازې نوم یې اسلامي وي او نور هر څه ورکې دغرب په خوښه ترسره کیږي. او که رېښتني طالبان په خپلې تګلاره او(جهادي حل) ټینګار کوي نو په مقابل کې به یې له بنویدلو او خرڅو شویو اشخاصو دمعتدلو طالبانو په نامه بله سیاسي جبهه تشکیلوي چې پخواني (جهادي) او نني (دیموکرات) تنظیمونه، دروحانیت درواغجن مدّعیان، یو شمه معتدل سیکولران او دنړۍ او سیمې استخباراتي کړی به یې تر شنګ دریږي، او د اوږدې مودې لپاره به هڅه کوي چې رېښتني طالبان او د(جهادي حل) پلویان کمزوري، بدنامه او دجهادي مقاومت په افادیت باندې شکمن کړي، تر څو لدې لارې په افغانستان کې دغرب پالنې، سیکولریزم او نیمه مسلمانۍ په مقابل کې مقاوم ځواک (رېښتني طالبان) کمزوري او له غرب سره جوړجاړي ته اړ کړي.

۳- دجهادي فکر او عقیدې په خلاف منفي تبلیغات:

امریکا اوملګرو یې په افغانستان کې خپلو پلویانو ته وظیفه ور کړې چې دجهاد او مقاوم فکر په خلاف دومره ډیرې لیکنې او تبلیغات وکړي چې د اسلام ستره فریضه (جهاد) خلکو ته دوحشت،

جنایت، وراني، اقتصادي بیر ته پاتې والي، او د تمدن د نه خپلولو په معنی ور معرفي کړي. د همدې مقصد د حاصلولو لپاره امریکا او ملګري یې په افغانستان کې هغه فکري او فرهنګي اشخاص او جهتونه تمویلوي او وسائل په لاس ور کوي چې په فکري او عملي لحاظ د فساد د مخنیوي په منظور د مسلح جهاد مخالفت کوي.

امریکا له دغو خلکو سره پراخ مالي او تخنیکي ملاتړ کوي، هغوئ ته مطبوعاتي اداري، مؤسسات، پوهنتونونه او نورې تعلیمي اداري جوړوي ترڅو په پراخه پیمانه په ټولنه کې د غربي افکارو او مفاهیمو د خپرولو لپاره کار وکړي.

۴- په افغانانو کې د مقاومت روحیه له منځه وړل:

امریکا او محلي ملګري یې هڅه کوي په افغانانو کې د مقاومت روحیه له منځه یوسي، ځکه چې ترڅو د مقاومت روحیه په افغانانو کې موجوده وي نو د پردیو په مقابل کې به مقاومت هم موجود وي. د مقاومت د روحي دله منځه وړلو لپاره امریکایان اروپایان او د هغوئ محلي ملګري له هرې لارې کوښښ کوي چې ځوان نسل په لوبو، فیشن، موسیقی، اخلاقي فساد او دغربي افکارو په خپلولو مصروف کړي. همدا اوس یې لوبو ته دومره زوروړ کړی چې د (کرکټ) او (فوټبال) د مسابقو په ورځو کې یې تقریباً ټول افغانستان د میډیا له لارې دغو په کتلو مشغول کړي وي، او که په کومه لوبه کې یو څو بیسواده لندغر، له زده کړو تښتیدلي کوځه ډبي چې دوئ ور ته د ملي اتلانو نوم ور کړی له کومې بلې ډلې لوبه وګټي نو په هغه ورځ یې بیا نیم افغانستان په ګډاوو، ډول او سورنیو، بې بندوباریو او مسرفانه لمانځنو مصروف کړي وي، او ولس ته داسې روحیه ور کوي لکه چې افغانانو کومه له دین او وطن څخه ددفاع ستره معرکه ګټلې وي.

داهر څه ددې لپاره کیږي چې ځوانان او نوی نسل له تعلیم، جهاد، کار او د اولویاتو له پیژندلو او مراعاتولو څخه په داسې څه مصروف وساتي چې ګټه یې یوازې دښمن ته رسیږي.

دلوبو، موسیقۍ او د ځوانانو او پیغلو ترمنځ د فساد د خپرولو ترڅنګ امریکایان او په افغانستان کې د هغوئ ملګرو ملیونونو ځوانانو ته په مخدراتو (شرابو، چرسو، پوډرو) د اخته کیدلو زمینه هم برابره کړې ده، او داهر څه داسې په سیستماتیک ډول ترسره کیږي چې په نتیجه کې یې په ملیونونو ځوانان د کار او جهاد لپاره د فکري استعداد ترڅنګ بدني توانایي هم له لاسه ور کوي. دافغانانو د تاریخ په هیڅ دور کې دومره ځوانان او نجونې په مخدراتو او له اخلاقي فلساد او فحشاوو څخه په راپیدا شویو جسمي او رواني مرضونو نه ؤ اخته شوي لکه څومره چې د امریکایانو د اشغال په تیرو دیارلسو کلونو کې اخته شول.

د کابل ښار په خپل ټول تاریخ کې دومره پوډریان نه وو لیدلي لکه اوس چې یوازې د کابل د سیند پر غاړه هر چیرې پراته وي.

دغرب پلوې میډیا له لارې د موډ او فیشن خپلولو ته د خلکو او نوي نسل تشویقول د جهاد او مقاومت د روحیې د له منځه وړلو بله وسیله ده چې د رواني لالهاندې ترڅنګ یې افغاني ټولنې ته خورا د روند اقتصادي تاوان هم وراړولی دی، او په لکونو خلک یې پدې کار کې یو له بل سره په سیالۍ اچولي دي.

د موډ او فیشن دغه مصرف که په تعلیم او د تخنیک په زده کړه کیدای نو اوس به نوي نسل ډیر څه زده کړي وای.

۵- د تعلیم نظام او نصاب د ټولنې دغربي کولو لپاره د وسیلې په طور استعمالول:

دهغو ناپوخي وسائلو له جملې څخه چې امریکایې دجګړې په راتلونکې مرحلې لپاره کاروي یو هم تعلیم ده. امریکا د افغانانو او افغانستان د تسخیر لپاره په لاندې شکلونو کې له تعلیم څخه کار اخلي:

(الف) امریکا په تیرو دیارلسو کلونو کې درې ځلې د افغانستان په تعلیمي نصاب کې بدلون راووست. له نصاب څخه یې د جهاد، دفاع، شهادت، غیرت، ازادی، اسلامي نظام، له کفارو څخه د کرکې، د اسلامي امت د یووالي او د دیني تعلیماتو او ساینسي اکتشافاتو ترمنځ د ارتباط مفاهیم حذف کړل، او پر ځای یې د سولې، دیموکراسۍ، دغربیانو له نظره د بشر د حقوقو، د ښځو د آزادی، د ښځو او نارینه وو ترمنځ اختلاط، موسیقی، ګډا، د زړو افغاني خرافاتي انګیرنو او رواجونو د راژوندي کولو، دغربي ډوله مدني ټولنو د معرفي کولو او رائجولو، ټولو انسانانو ته په یوه سترګه د کتلو، له

کفارو سره دیو ډول سیاسي، فرهنګي، اخلاقي او ټولنیزو ارزښتونو دخپلولو او دغربي اویا غرب پلوو شخصیتونو دمعرفي کولو مفاهیم او مضامین ورځای کړل. اودتاسف ځای دادی چې داهرڅه یې دداسې خلکو په لاس وکړل چې ځانونه یې داسلامي فکر مدافعین بلل، او دجهاد او هجرت په محیط کې یې دمهاجرینو او مجاهدینو په خیراتي پیسو ماستري او دکتوراوې واخیستې خو په آخر کې له خپل ټول علم او تجربې سره داشغال دحکومت په ادارو کې دیرغلګرو تر څنګ ودرېدل.

امریکایانو دخپلې خوښې مفاهیم اکثره په ادبي، اجتماعي، تاریخي، او فرهنګیاو دمدني زده کړو په مضامینو کې ځای پرځای کړي دي ترڅو په پراخه پیمانه دنوي نسل په ذهن کې ځای ونیسي.

(ب) دامریکایانو له راتللو سره دافغانستان د تعلیمي حریم دروازه دهرچا پر مخ خلاصه شوه، او هر چا دلته دخپلې خوښې تعلیمي اداري، شخصي مکتبونه، پوهنتونونه، لندمهالي او اوږدمهالي کورسونه جوړ کړل، او په هغه کې یې خپل خپل نصابونه عملي کړل. غربي هیوادونو او مؤسساتو چې ددغو تعلیمي ادارو تر شاولاړ ول له یوې خوا د افغانستان تعلیمي نصاب له اسلامي ارزښتونو محروم کړ، او لکه چې داشغال داداري د پوهنې وزیر (فاروق وردګ) وایي په نصاب کې یې دشاملو دیني کتابونو دچاپ لپاره پیسې هم ورنه کړې، ترڅو نوی نسل دمکتب په نصاب د دیني کتابونو له شتون څخه محروم شي، او له بلې خوایې د ټولنې دشتمني طبقې اولادونه دخپلو افغاني ملګرو په توسط په شخصي تعلیمي ادارو کې احتوا کړل، او هلته یې په وار دو شو پردیو نصابونو روزي، دغه په پردیو نصابونو روزل شوی نسل به هماغه ډول افغانستان هم په راتلونکي کې افغانستان هم دپردیو پر لار روانوي لکه څنګه یې چې داسلامي نړۍ نور هیوادونه روان کړي دي.

(ج)امریکایانو دیوې سنجول شوې توطیې په ترڅ کې د افغانستان په خلکو داسې یو تعلیمي نصاب ور تحمیل کړ چې داسلوب، تعلیمي میتود او دمعلوماتو دسویې په لحاظ دافغانستان د اوسني جنګ ځپلي معارف دمعلمینو او متعلمینو له سویې او وضعیت سره مطابقت نه لري، ددې کار نتیجه دا شوه چې نه موجوده معلمین دغه د پر یو له لوري فرمایشي نصاب په سم ډول تدریسولی شي، او نه هم زده کوونکي له هغه څخه سمه استفاده کولی شي، چې په دې ډول یې معارف، معلم، شاګرد، اودهغوئ د امور اولیاء ټول له یوه ذهني اضطراب سره مخ کړل، او د دې پر ځای چې معارف ترقي وکړي ټول دتنزل په لوري روان دي. لدې ټولو سره چې د معارف او لوړو زده کړو په وزارتونو او نظام کې اداري او اخلاقي فساد هم ورسره ملګري شي نو نتیجه یې د(تعلیم) پر ځای (تجهیل) راوځي، چې همدغه دغرب اوږد مهاله هدف هم دی، ځکه چې غرب او داسلام نور دښمنان نه غواړي چې افغانان دې پر مختګ وکړي، بلکه هڅه کوي چې دتل لپاره افغانان ځانته محتاج اولاس لاندې وساتي.

۶- دمعتدل اسلام او منحرف روحانیت له پیروانو کار اخیستل:

معتدل اسلام او غرب پلوي روحانیت دوه نورې هغه خطرناکې وسیلې دي چې امریکا او دهغې متحدین یې په افغانستان کې د رښتینو مسلمانانو او دغرب په خلاف دجنګیدونکو مجاهدینو په خلاف په سیستماتیک ډول په لاندې شکلونو کاروي:

(الف) غرب دخپلو تحقیقاتي مراکز دځینو او دخپلې زورورې میډیا له لارې هڅه کوي مسلمانان هغه اسلام ته ور وبولي چې غربیانو په خپله ډیزاین کړی او (معتدل اسلام) یې بولي.

غرب دخپل معتدل اسلام لپاره دځینې سیکولرو هیوادونو لکه (ترکیې)، (اردن)، (مصر)، (تونس) او ځینې نورو غرب پلوه او له حقیقي اسلام څخه د پردیو شو هیوادونو او تعلیمي مراکزو مثالونه وړاندې کوي چې د(الازهر) پوهنتون یې په سر کې دی.

امریکا همدا اوس په افغانستان کې د بیلابیلو سیاسي او دیني مؤسسو له لارې دیوه (بې جهاده) (بې وسلې) (بې ځانګړې هویته) او (بې شریعته) اسلام دخپرولو لپاره کار کوي، او د همدې مقصد لپاره یې یدې وروستیو کې د اوقافو د وزارت د ۲۰۰۰ ملایانو روزنه او په کابل کې د(اعتدال) په نامه د دیني مرکز افتتاح تر سره کړل. امریکا ددغه ډول لندمهالو او اوږدمهالو پروژو له لارې غواړي په افغانستان کې داسلام هغه فهم له منځه یوسي چې دهغه پر اساس افغانان په افغانستان کې داسلامي نظام قائمول او دغرب په خلاف مقاومت کول غواړي.

(ب) امریکا او نور غربي هیوادونه او مشهور اشخاص په افغانستان کې له هغو تنظیمونو، دیني مراکزو، اصلاحي ټولنو ، اسلامي ډوله راډیو ګانو او ملایانو سره مرستې کوي چې دجهادي فکر مخالف دي، د(ولاء او براء) پر عقیده باور نه لري، او په افغاني ټولنه کې د(ارجائي فکر) دخپرولو لپاره کار کوي. غرب دغه جهتونه دیته هڅوي چې دغرب په خلاف جنګیدونکو مجاهدینو ته (خوارج)او(تکفیریان) ووایي، او په ډول ډول نورو هغو نومونو یې یاد

کړي چې دافغاني ټولنې خلک ورڅخه کرکه کوي.

همدغه خلک چې مجاهدینو ته (تکفیریان) او (خوارج) وایي دوئ بیا له غرب څخه د راوار دو شویو فکري فتنو لکه ډیموکراسی، سیکولریزم، لبرالیزم، هیومنیزم، نشنلزم، وضعي قوانینو او فکري ارتداد په هکله نه څه لیکي او نه یې وایي، او داځکه چې دوئ په بیلا بیلو مجالاتو کې له غرب سره فکري او عملي مشترکات او متبادل مصالح لري. امریکا غواړي دهمدوئ په واسطه دافغانانو له زړونو او ذهنونو د(جهاد) او (ولاء او براء) دعقیدې مفاهیم وباسي، او کرار کرار یې دسیاسي پلورالیزم تر څنګ دديني پلورالیزم په لار هم روان کړي.

روحانیت، معنویت ته توجه، زهد، حسن خلق او ديني ارشاد ټول په اسلام کې مطلوب او مرغوب کارونه دي چې د اسلام علماؤ او مصلحینو تل ترسره کړي دي او باید ترسره یې کړي، خو یو څه خلکو بیا دغه صفات او حیثیتونه داسلامي تاریخ په اوږدو کې په دروغو او په ټولنه کی د وجاهت د ترلاسه کولو پخاطر کارولي دي، او پدې ډول یې پر (بې علمه) او (ساده لوحه) سپین ږرو خلکو خپل تسلط ساتلی او دهغوئ شتمنی یې د نذرونو، شکرانو او قلنګونو په نامه ورڅخه تروږلي دي، او خپله یې وربانديې مست شاهانه ژوند تیر کړی دی.

داچې دغه ډول خلکو دخوندونو ژوند تیر کړی نو دخوندونو د نور تداوم لپاره یې له مشبوهو جهتونو، ګمراه حکومتونو، غربي استعمارګرو او په اسلامي هیوادونو کې له سیکولرو احزابو سره هم روابط او ایتلافونه جوړ کړي دي، او استعماري قوتونو هم د بیلابیلو سیاسي او مالي هدایاوو او رشوتونو په ورکولو د دوئ خدمات حاصل کړي او دوئ له نفوذ څخه یې د مسلمانانو په تسخیرولو او له جهاده منصرف کولو کې کار اخیستی چې مثالونه یې په عربي هیوادونو، شمالي افریقا، سوډان، د هند نیمې وچې او افغانستان کی ډیر ډیر ولیدل شول.

همدا اوس چې امریکا داسلام او مسلمانانو په خلاف یوه لویه جګړه روانه کړې ده او د مسلمانو هیوادونو ربښتیني روحانیین، مجاهدین، علماء، طالبان او با احساسه مسلمان ځوانان د غربي یرغلګرو په خلاف په ټوله اسلامي نړۍ کې په جهاد بوخت دي. په همدغه ډول حالت کې دغه د(کمرشل روحانیت) مدعیان او (سیکولر ډوله پیران) دغرب له صلیبي ایتلاف سره ملګري دي او دغربي لښکرو دصلیبي جګړې په تبلیغاتي او معنوي ډګر کې دمجاهدینو په خلاف دديني ملیشو په رول کې لوبیږي.

امریکا په تیرو دیرشو کلونو کې ډیر دغه ډول درواغجن او سیکولر روحانیین په افغانستان او سیمه کې د خپلو توطیو دعملي کولو لپاره وکارول، او لا نوریې هم د ربښتینو علماؤ، طالبانو او مسلحو مجاهدینو په خلاف کاروي.

په راتلونکي کې د طالبانو تحریک او د دوئ جهادي فکر ته ربښتني خطر هم دهمدغو دوه مخو خلکو له لوري متوجه دی، همدوئ به خلک دطالب پر جهادي مصداقیت شکمن کوي، همدوئ به امریکا او غرب ته د طالب د نرمولو او سولې ته دآماده کولو تمې ور کوي، همدوئ به د نوئ نسل ځوانان د جهاد او جدیت له افکارو او ژوند څخه خرافاتي عقائدو او له غرب سره پیوند اخیستلو ته

تشویقوي، او همدوئ به دجهاد نظریه تحریفوي او ځوانان به د جهاد له جبهاتو او دعلم له مدارسو څخه خپلو خرافاتي مراکزو ته وربولي.

که دغربي تحقیقاتي مراکزو لکه د(رند کارپوریشن) او نورو توصیو ته چې امریکا او غرب یې کړي وکتل شي نو وبه لیدل شي چې غربي پرغلګر دغو خلکو ته دخپلو دوستانو او ستراتیژیکو ملګرو په حیث ګوري، او کوښښ کوي ددوئ په وسیله دریښتیني روحانیت او جهاد دلارې لارویان له خپلې برحقې لارې منصرف او منحرف کړي.

دغه خلک په هیڅ وخت کې د طالبانو د تحریک ریښتیني ملګري او خیرخواهان ندي، دوئ پرون هم د خوندونو او منصبونو پخاطر له طالبانو سره ولاړ ول، خو کله چې خوندونه او منصبونه له لاسه ووتل نو سمدستي یې په بیلابیلو نومونو او حیثیتونو د دښمن صف ته ورټوپ کړل، امریکا غواړي یو ځل بیا له همدغې دورازې د طالب په جهادي صف کې رخنه وکړي، او له خپلې تګلارې یې واړوي.

۷ - دمیډیا له لارې د فکرونو تسخیرول:

امریکا پدې پوهیږي چې دخپلو پوځي وسائلو او جنګي لښکرو له لارې د هر افغان کور ته نشي ورسیدلی چې هلته د هغوئ په فکرونو، عقائدو او د ژوند په بڼه کې تبدیلي راولي، او هغه فطري کرکه او کینه یې له زړونو وباسي چې دغرب په خلاف یې لري. خو دغه کار بیا په ډیرې اسانۍ د میډیا له لارې کولی شي، ځکه چې تقریبا ټول خلک راډیو اوري، تلویزونونه ګوري، د موبایل ټلفونو په واسطه فلمونه او نور تصویري معلومات ویني، او یوه زیاته برخه خلک کمپیوټر او انټرنټ هم استعمالوي، او په راتلونکي کې به د دغو وسائلو استعمال نور هم ډیر شي.

همدې اهمیت ته په پام سره امریکا او ټول غرب کوښښ کوي چې خپل افکار او نظریات افغانانو ته د برقي وسائلو له لارې ورسوي، که د (نوري فایبر) پروژه ریښتیا هم په ټول افغانستان کې تطبیق شي نو امریکا به له یوې خوا ټول افغانستان په ډیرې آسانۍ تر خپل فکري او فرهنګي تهاجم لاندې ونیسي، او نوی نسل به له دیني ارزښتونو څخه پردي کړي، او له بلې خوا به د ټول افغانستان معلومات د همدې نوري فایبر (کیبل) له لارې د دوئ لاس ته ورلویږي چې دا بیا د لوی خطر خبره ده، ځکه چې افغانستان دا ظرفیت او ټکنالوژي نه لري چې خپله سایبر سیکورټي (انټرنټي امنیت) تامین کړي.

امریکا همدا اوس د۸۱ تلویزوني او ۱۷۰ راډیویي سټیشنونو په ذریعه د افغاني ټولنې په اجتماعي او اخلاقي ژوند کې دومره منفي بدلون راوستلی چې په تیره یوه پیړۍ کې یې ساری نه لیدل کیږي.

۸ - د اقلیتونو پالل او نشنلستي افکار تقویه کول:

امریکا دخپل دیارلس کلن اشغال په دور کې په افغانستان کې اقلیتونو ته ډیره توجه وکړه، هغوئ یې منظم کړل، مؤسسات او د بنه ژوند وسائل یې ور ته مهیا کړل. د افغانستان په اقتصادي او دولتي ادارو یې مسلط کړل. په سیاست کې یې دهغوئ تر اصلي حجم زیاته برخه او ځای ور ته ور کړ، او په فکري لحاظ یې د سیکولریزم او غربپالنې پر فکر او په لوړو تحصیلاتو وروزل، او امریکا دا هر څه ددې په بدل کې ور ته وکړل چې هغوئ په مطلق ډول دیرغلګرو تر څنګ ودریدل او په قطعي ډول یې داشغالګرو په خلاف مقاومت ونه کړ.

همدارنګه امریکایانو په افغاني ټولنه کې نشنلستي افکارو ته وده ورکړه، او په تیوریک لحاظ یې دافغانستان د بیلابیلو قومونو باسواده ځوانان او دفکر او قلم خاوندان پدې مصروف کړل چې تر هر څه زیات باید نشنلزم ته ارزښت ور کړي که څه هم چې د اسلامي عقیدې او احکامو سره په تصادم کې هم واقع شي.

دا چې نشنلزم یوه غربي مفکوره او نشنلستان په شعوري ډول غرب پلوي خلک دي نو امریکا همدوئ دمجاهدینو په خلاف استعمالوي او د همدوئ په توسط د اسلامي نظام د قایمیدلو مخنیوی کوي، او همدا اوس هم ټول نشنلستان چې هر قوم پورې اړه لري دیرغلګرو په صنف کې ولاړ دي.

۹ - حکومتي نقش ناحکومتي مؤسساتو ته سپارل:

دامریکا او غرب حکومتونه دافغانستان په اشغالولو کې دمستقیمې ښکیلتیا له امله دمجاهدینو لپاره مشروع اهداف ګرځیدلي دي، دهغوئ پوځیان، جاسوسان، دهغوئ محلي ملګري، دهغوئ دفاتر او هر ډول پرسونل یې په افغانستان کې په خلاص مټ فعالیت نشي کولی، ځینې هیوادونو یې خپل پوځیان ویستلي خو نا پوځي سیاسي، استخباراتي، روزنیز او دفکرونو دبدلولو اداري یې لا

تر اوسه پټ او ښکاره فعالیت کوي چې هره ورځ یې د تأثیر او فعالیت ساحه نوره هم تنګیږي. په ولسوالیو، ولایاتو او لویو ښارونو کې دمجاهدینو پراخ اوموثر حضور د غربي اوغرب پلوو ادارو لاسونه ور تړلي او کار کوونکي یې دسر دساتلو په هڅه کې دي. دې وضعیت غرب دیته اړ کړی چې دافغانستان دلاندې کولو او دلته دخپل د تأثیر دساتلو لپاره دښکاره حضور خپله استراتیژي د پټ او بالواسطه حضور په استراتیژۍ بدله کړي.

امریکا اوملګرو یې په تیرو دیارلسو کلونو کې په افغانستان کې تر ۴۰۰۰ زیاتې نادولتي مؤسسې ایجاد کړې وې. دغه مؤسسې دومره ډیرې او خپلسرې وې چې دکرزي د پخواني کابینې د پلان وزیر رمضان بشر دوست ورځغه تقریباً دوه زره مؤسسې په یوه ورځ لغوه کړې. خو دا چې افغانستان دغرب لخوا اشغال شوی او دغرب لخوا افغانستان ته تخصیص شوې ۸۰٪ فیصده پیسې دهمدې مؤسساتو له لارې دهغو اهدافو دحاصلولو لپاره مصرفیدلې چې غرب یې غواړي، نو ځکه خو ددې پر ځای چې دوزیر په امر مؤسسې له فعالیته منع شي، بالعکس وزیر دمؤسساتو په امر له وزارته برطرف کړای شو.

غربي نادولتي مؤسسې په حقیقت کې دغرب هغه لښکر دی چې پر ته له جګړې دغرب لپاره د اسلامي نړۍ حکومتونه او ولسونه تسخیروي، او په سره سینه او دوامدار فعالیت ټول هغه مقاصد حاصلوي چې پوځونه یې له حاصلولو عاجز پاتې کیږي، او دا ځکه چې پوځي فعالیت او اشغال خاوره نیسي خو دمؤسساتو فعالیت ولسونه، عقلونه، فکرونه او اقتصادونه اشغالوي . نو ځکه خو همدغه اهمیت ته په پام سره غرب په افغانستان کې دخپل پوځي عقب نشینۍ تشه په نادولتي مؤسساتو د کول غواړي.

دمؤسساتو د پټ اوخطرناک رول دوضاحت لپاره یوازې دامثال هم کافي دی چې کله طالبانو دخپل حکومت په وخت کې په کابل کې له میشتو مؤسساتو وغوښتل چې دښار له ګوټ ګوټ او دخلکو له منځه دې د کابل دښار په غرب کې دقرغې پر سړک ښکلې سیاحتي او د تازه هوا لرونکې ساحې ته دې ټول په یو ځای کې راجمع شي اوددې کار هدف داوو چې له یوې خوا ښار ددوی له فشار څخه خلاص شي او له بل لوري یې طالبانو ته نظارت آسانه شي، خو مؤسساتو د خپلو دفاترو بندولو ته

پر هغه ځای ته ور منتقل کیدلو ترجیح ور کړه، ځکه چې هلته یې بیا پټ رازونه اوپټ یاران اوملګري رسوا کیدل.

په افغاني ټولنه کې دغربي نادولتي مؤسساتو دخطرناک تأثیر تر ټولو لویه نمونه همداد اوسني نظام منځته راتلل دي. ځکه چې داوسني حکومت ډیری وزیرانو، رئیسانو، سفیرانو، لوړپوړو چارواکو، والیانو، ویاندانو، دمطبوعاتو او میدیا چلوونکو، دسنا او ولسي جرګې استازو، د تعلیمي ادارو مشرانو او د سیاسي احزابو رهبرانو او مشهورو څیرو دغرب په پروینو نادولتي مؤسساتو کې کارونه کول. او همدغو غربي نادولتي مؤسساتو په تیرو څلورو لسیزو کې په افغاني ټولنه کې دومره کار او تأثیر ګذاري کړې وه چې کله امریکا پر افغانستان دیرغل اراده وکړه نو په سلګونه زره افغانانو ور ته په یوه او بل شکل دراتلو لاره هواره کړه، چا ور ته د پلې عسکرو وظیفه اجراء کړه، چا ور ته جاسوسي وکړه، چا ور ته د میدیا له لارې دهغوئ په ګټه ذهن سازي وکړه، چا ور ته دولتي او نا دولتي ادارې وچلولې، او چا ور ته دهغوئ لپاره جنګیدونکي پوځ، پولیس، استخبارات، ملیشې او اربکیان جوړ کړل او ښه په خوند یې دغربي یرغلګرو خدمت وکړ.

غربي نادولتي مؤسساتو د کمونستانو اوروسانو په خلاف د افغانانو له جهاد سره هم یوه خطرناکه لوبه وکړه، او هغه لوبه داوه چې غربي مؤسساتو په ډیر مهارت دمجاهدینو او مهاجرین له منځه یوه، باتجربه، دلوړو تحصیلاتو لرونکي، دقومونو مخور او با نفوذه خلک، مشهور قومندانان، لیکوالان، فرهنګي او تأثیر ګذاره خلک، اود پوهنتونونو استادان او نور هغه با استعداده خلک چې باید دجهاد صف ورباندې قوي شی وای یو یو ټول کړل او په خپلو ادارو کې یې په کار وګومارل. دې کار دجهاد او هجرت صف ته دوه ستر نه جبیره کیدونکي زیانونه ورواړول ، اوهغه دا چې یو خو یې دجهاد صفوف او مهاجرین د کار اوسرپرستۍ له خلکو محروم کړل چې ددوئ ځای بیا په جبهاتو کې نا اهلو خلکو، چرسیانو، لچکانو، بې هدفه اوخر څیدونکو جنګیالیو او پاټکیانو ونیو چې هم یې جهاد بدنام کړ او هم یې ولس وکړاوه، او بل زیان یې دا وو چې د کار خلک مو څه په آګاهانه او څه هم په نا آګاهانه ډول دغرب په خدمت کې واقع شول.

امریکا اوس بیا غواړي خپل نا تکمیل شوی پوځي اشغال دهمدغو نادولتي مؤسساتو په لاس تکمل کړي. که څه هم چې دا کار

به لس پنځه لس کار نور هم واخلي، او په همدې مقصد خو امریکا د ۲۰۱۵م کال لپاره په افغانستان کې دجنګ بودیجه یوازې ۷۹ ملیونه ډالره ټاکلې، خو د ناپوځي فعالیتو د جاري ساتلو لپاره یې دوه ملیارده او شپږ سوه میلیونه ډالره تخصیص کړي او کانګرس ته یې دمنظورولو په مقصد وړلیږلې ده.

په افغانستان کې دغربي نادولتي مؤسساتو په اړه به دا یو ډېر ساده تصور وي چې یوازې هغه مؤسسې دې تر څارنې لاندې ونیول شي (نصرانیت، یهودیت او نورو باطلو نظریو ته خلک وربولي)، او داځکه چې غرب اوس دینونو ته پر دعوت ترکیز نه کوي، نصرانیت هغوئ اوس په خپله عملاً پرې ایښی دی، یهودیت یوازې د یهودانو دین دی او هغوئ نه غواړي چې بل څوک دې ور کې داخل شي، او نورو باطلو عقائدو ته غربیان په ښکاره مسلمانان نه دعوت کوي. نن دغرب لپاره تر ټولو هغه مقدس دین او ارزښتونه چې تر نصرانیته هم ور ته ډېر ارزښتمن دي هغه (ډیموکراسي، دبشر حقوق، دښځو آزادي، دوضعي قوانینو حاکمیت، سیکولریزم، لیبرل تعلیم او د کاپیټالزم اقتصادي نظام) دي، او په اسلامي نړۍ کې یې خپل ټول مؤسسات او دمدني ټولنو منظومه دهمدغو اهدافو د تحقق لپاره په کار اچولې دي، او داځکه چې هغوئ دهمدغو ارزښتونو له لارې پر اسلامي نړۍ خپل تسلط ټینګ کړی دی. نو هره هغه مؤسسه چې په هر پټ او ښکاره ډول ددغو اهدافو لپاره کار او فعالیت کوي هغه خطرناکې مؤسسې دي چې مسلمانان باید ددښمن په سترګه ورته وګوري او پداسې ډول استفاده ورڅخه وکړي لکه له اور څخه یې چې کوي.

امریکا له تیرو دوو کلونو دداسې پلانونو پر جوړولو کار کوي چې څنګه خپلې پروژې او پروګرامونه دمحلي قراردادیانو، ملکانو، روحاني ډوله مشرانو او د خصوصي تعلیمي ادارو دچلوونکو له لارې عملي کړي.

دغربي هیوادونو او امریکا پټو او ښکاره توطیو او داسلامي نړۍ دهیوادونو د ما بعد الاستقلال پیچلي او په غرب پورې تړلي وضعیت ته په کتلو او په افغانستان او سیمه کې د امریکا اقتصادي او استراتیژیکو اهدافو ته په سره په زغرده داویلی شو چې امریکا په آسانه دافغانستان په یو مخیز ډول پرېښودلو ته زړه نه ښه کوي، او له افغانستانه دقواوو ویستل یې په پوځي جګړه کې د شکست حقیقت ته دتسلیمېدلو او دخپل جګړه ځپلي اقتصاد له رګونو د نورې وینې د

درولو دعملي هڅې په معنی دي. پدې کار سره امریکا یوازې د جګړې له لاور او ستوماني څان هوسا کوي، خو له افغانانو څخه دخپلې ماتې د انتقام داخیستلو لپاره به خپلې ناپوځي جګړې او په افغانستان کې داسلامي نظام د مخنیوي هڅو ته نور هم زور ور کوي.

غرب داسلامي هیوادونو دنیولو او دمسلمانانو د تسخیرولو اوږده تجربه لري چې له صلیبي جګړو شروع شوې او داندلس د سقوط، استعماري جګړو، استشراقي څېړنو، پر اسلامي نړۍ د سیکولرو او مستبدو نظامونو د تحمیل، نوي نړیوال نظام د تسلیط او دنړۍ نیونې په مقصد د ګلوبلایزشن د نظریې دجبري تنفیذ په څېر مراحل یې طې کړي دي، او لا نور هم دغرب فکري او څېړنیز مراکز د مسلمانانو د تسخیرولو په مقصد د پلانونو او دسیسو په جوړولو شپه او ورځ کار کوي.

دغرب په اړه زموږ درک ډېر ساده دی، موږ مقابله او بریا یوازې دجګړې په ډګر کې ګڼو، او لدې ناخبره یو چې غرب څنګه په خپل سیاسي او استخباراتي استعداد او مهارت زموږ د پخواني جهاد تنظیمونه، په لکونو مسلح مقاومت کوونکي، جهادي رهبران او د تیر جهاد قهرمانان په خپل صف کې ودرول، خپل ټوپک یې دهغوئ پر اوږه کښېښود او دغرب په خلاف جنګېدونکي ریښتیني مجاهدین یې هدف وګرځول؟

داوسني روان جهاد رهبرانو ته په کار ده چې دغربي پرغلګرو او دهغوئ د پالیسیو په اړه کافي مطالعه ولري او ټولې هغه لارې وپېژني چې دښمن له هغو څخه راداخلیږي. تر څو داسې نشي چې دښمن د دروازې له لارې ووځي خو د کړکۍ له لارې بیر ته رانوځي.

په روان جهاد کې دترنم درنه ونډه !

خبیراحمد م

امریکااودیرغل متحدین یې په افغانستان کې تنهاددې لپاره نه وو راغلي چې هغه افغانان به ختموي اویابه یې مهاروي چې دغیرت اومیړانې علمبرداران دي اوپه رګونو کې یې داسلام اوجهادتوده وینه چلیږي ، بلکې دهغه ویاړمن اصیل افغاني فرهنګ دبیخکنی لپاره یې هم ستړې حربي اوپلانونه له ځان سره راوړي و . له کومه چې په نوموړي فرهنګ کې دافغانانودیني اوملي اقدار سل په سله نغښتي اوسره روح اوجسددي.

خودالله تعالی کارونواولورینوته ګوره ، لکه څنګه چې امریکا ، ناټو اونورکفري شیطانان یې په پوځي میدان کې دبې وسو ،بې پیسو اوبې وسلومجاهدینودمخلصانه قربانیواوفداکاریو په نتیجه کې ګونډه مال وګرځیدل اوکوکاري یې ټولې نړۍ ته ورسیدي، دغه ډول متعال رب جل جلاله ، دمجاهدینو دفرهنګي ډګر دګوته په شمیروقلموالو ، مجاهدوشاعرانواودحماسو دخوږالحانه بلبلانودغږ اوحنجرې په توره هم دغرب ، امریکا اوهندوستان له بربند اوحیواني تهذیب څخه داسې غچ اوانتقام واخیست او توبه ګار یې وګرځاوو ، چې دامریکادلوی شیطاني لوډسپیکر (ازادي راډیو) دیوتحقیقاتي راپورپه مټ چې دعامو افغانانوله څرګندونو یې برابرکړی دې حقیقت ته غاړه کیښوده چې دطالبانو فرهنګي هڅې له مقابل لوري څخه څوچنده وسیعې ، چټکې اوولس ته محبوبې دي.

نوموړې راډیوکټ مټ داخبره کړې چې که څه هم د طالبانورژیم د سقوط څخه له یوې لسیزې زیات کلونه کیږي ، خودترانواونظمونو مینه وال یې نه داچې په لیرې پرتوسیموکې شتون لري، بلکې ان په پلازمینه کابل کې هم ددوی د ترانو انګازې اوریدل کیږي.

راپورزیاتوي ،دا ترانې د کومې راډیو او یا کومې بلې خاصې رسنۍ له خوا نه خپریږي، خو ځوانان اوعام خلک یې له ځانو سره په ګرځنده تیلیفونونو اوموټرونوکې اوري او له دې لارې یې نورو مینه والو ته لیږدوي !

که دیرغلګرودفرهنګي هجوم په مقابل کې دمجاهدو قلموالو ، ادیبانواوترانه ویونکو شمیره امکانات اووسایل وسنجول شي مقایسه یې هیڅکله هم نشي کیدلای ، ځکه یرغلګر هره ورځ په میلونوډالر په زرګونورسنیوخاص ددې لپاره لګوي چې دطالبانوغږ اومیړانه څوک وانه وري اوله جهادي تکتیکونو څخه یې څوک خبرونکړي.

خو الله تعالی دنوموړي ټولې په قلمونو ، استعدادونو ، ذهنونو ، حنجرواوهنرونوکې دومره اغیزاوقوت ولوراوه چې غلیم یې حیران دریان کړ چې طالبان اخیرکومه تکنالوژي اوحکمت کاروي چې دیوې جهادي ترانې اونظم په اوریدلوسره په پرګنوکې دومره اثرغورځوي چې ځوان ، بوډا ،ښځه اوماشوم

تول یاد سرقربانی ته تیاریږي ، یاد مال او یاد مجاهد په حق کې الله ته سرسرتوري او دهغوی دکامیابی لپاره بهترینې دعاګانې غواړي.

مونږ ولیدل چې امریکا او شیطاني باندې ، زرګونه چاپي او برښنایي رسنۍ ، چې په هغو کې ورځپاڼې ، اونیزې ، تلویزونونه ، راډیوګانې اوبې شمیره تولنې او بنستونه راځي تاسیس کړل او دفن او قلم لرونکي یې تول پکې راغونډ او مصروف وګرځول ، ترڅو هیچاته دافرصت او مجال په لاس ورنشي چې دامریکایي یرغل اوناولو موخو په باب یې خوله پرانیزي او دافغان مظلوم ولس مظلومیتونه اوکړاوونه ښکاره او برالا کړي.

داسې هم پیښ شوي چې کوم لیکوال اوشاعر دیته ندی اماده شوی څو په امریکایي فرهنګي اداړې کې عملا کار وکړي ، نو دهغه کس لپاره یې دپریمانه ډالرو په مقابل کې شیطاني پروژه اوپلان کورته ورلیږلی ، څوذهن اوقلم یې په هغه مصروفه شي او په همدې وسیله خپل ضمیر او احساس ته قلف واچوي.

همداډول د استعمارلښکرو دخپل ناولي اومبتذل فرهنګ دخپرولو لپاره په لیري پرتو سیمو کې له ټانګونو څخه په میلونو شمسي راډیوګانې په وړیا ډول خلکوته وویشلي ، ترڅوهغوی شپه اوورځ صرف اسلام دښمنه تبلیغاتو اوبې بندوباره موسیقی ته غوږ کیږدي اودجهاد او خپلواکی جذبه یې خدای مکړه خاموشه وګرځي.

ولې په مقابل کې الله تعالی دمجاهدینو په تبلیغاتي وسایلو او په خاص ډول دجهادي صحنو او حماسي ترانو او نظمونو په نشر او تبلیغ کې دومره برکات او تاثیرات واچول چې ددښمن دزرګونو رسنیو او منحرفو نشراتو تول خپاره شوي زهر او اوفواهات یې ګام په ګام شنډ ، اوبې تاثیره وګرځول.

دجهادي ترنم اتلانو ، دخپلو پاکو حنجرو په قوت داویاړ او افتخار وګاټه چې دافغانانو لویه برخه دکفر له ابتذال او دلغړي موسیقی له اوریدو اولیدلو څخه وژغوري ، داسلام پتنګانو خپل مجاهد ولس ته زرګونه دلنشیني او پرکیفه ترانې او موزون شعرونه دترنم په لحن اوژبه ډالی کړي ، دجهاد سپیڅلي پیغام یې ورته ورساوه ، دیرغلګرودپټو اوښکاره حربو څخه یې خبرکړل اودخپل مظلوم ولس دقربانیو او اتلولیو له عبرت ډک داستانونه اوحکایتونه یې ورته په خوږه ژبه وړاندې کړل.

زمونږ ددغو جهادي بلبلانو ، ځانګړتیا داده چې کوم شهرت الله تعالی ورکړی اودافغان ولس په زړونو کې یې محبوبیت غزوني کړي ، علت یې دا ندی چې خلکو دهغوی څیرې دتلویزونو او اشتهاري پوسترونو په پردو کتلی ، بلکې دادوی له ایماني اهنګ نه ډکي حنجرې اوملکوتي غږونه وو چې دولس زړونه یې ځانته مایل اوخپل وګرځول.

همدغه دیني مینه اومحبت دی چې دترنم درویشانو اوبې ریا غازیانو دمحدودو وسایلو او سرچینو په مټ دومره لوی رسالت اداکړ ،چې کله نن ورځ دهر مومن افغان کمپیوټر او موبایل سرې ووینې نو دجهاد دغو علمبردارانو په پکې په سوونه خواږه اوازونه اوله اسلامي سوزه ډکې ترانې پرتې اوموجودې وي.

ماخوداهم اوریدلي چې دکفارو اویرغلګرو په مقابل کې چې څومره فدایانو خپلې قیمتي ککرۍ نذرانه کړي اویايي کوي ،دزیاترو په یادښتونو کې یې داخبره راغلي چې ترتولو رومبي پرې حماسي ترانو اغیزکړي ، بیايي دیني مطالعه کړي اوورسته دالله په لارکې دسرسربازی ته اماده شوي .

دیوه مجاهدورورحکایت دی چې یوفدایي اتل یې له قرباني ورسته په داسې حالت کې په خوب کې وکوت چې دجنت په بهترینومانیو اومقاماتو کې ګرځیده ، خوپه دواړو لاسونو کې یې دوه شیان پورته نیولي وو اوماته یې راښوول چې زه ورته څیرشوم په یوه لاس کې یې فدایي واسکټ و اوپه بل لاس کې یې دجهادي فلمونو اوترانویوهارډیسک نیولی و.

دنوموړي خوب په باب زماخپل تعبیرداوه چې فدایي خو الله تعالی دخپل جهادي عزم اوواسکټ په زریعه دجنت لوړومانیواودرجوته ورساوه ، خو دجهادي صحنواوترانوهارډیسک (پرزه) موښ ته داپیغام راکوي چې ددغو نازولودقربانیواوسربښندنو نشراو اشاعت په دې نیت چې اسلامي امت پرې خبرشي اوهغو ته دغیرت اوشجاعت پیغام ورسیږي اودکفاروزړونه پرې وچووي ، له شک پرته چې لوی اومقبول جهاددی .

زه دفرهنګي مورچل غازیانو اوپه خاص ډول دترنم دبن بلبلانوته که هغه مشران دي که کشران، مشهوردي ، که غیرمشهوردازیری ورکوم چې ستاسي دغه جهاد دکفرموروربوره کړي ،دشیطان ټول مزامیراولهولعب مودړې وړې کړي اود۱۴۹ اسلام دښمنه هیوادونوغیري مستقیم فرهنګي یرغل تـه موپه محدودوامکاناتوتل پاتې ماتې ورکړې ؛نوډاډه اوسی که دالله تعالی مرسته اوفضل درسره وپه اخرت کې به مودرجې سختې لوړې اوله فدایانوڅخه هیڅکله کمې نه وي.

دلیل دادی چې دالله نازولي استاځي حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په خپل مبارک ارشادکې دخپل دورفرهنګي اتلانو اومجاهدوشاعرانوته داسې مبارک ارشادکړی: چې دکفاروهجوي اوقبایح بیانوي(«والذي نفس محمد بیده فکانها تنهضونهم بالنبل») (مسند امام احمد جلد ۳ صفحه ۴۶۰)زمادې په هغه ذات سوګندوي چې دمحمد(ص) ځان اونفس دهغه په اختیارکې دی چې دکفاروپه مقابل کې ستاسې شعرونه داسې لګیږي اواثرلري لکه دغیصي دګوزارپه څیر) اویالکه چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم خپل صحابي حضرت حسان رض ته وایي ، " اهجهم وروح القدس معک " په خپل کلام اوشعرکې دکفارو بدي بیانوه ، ځکه حضرت جبرائیل له تاسره په دغه کارکې یوځای اوملګری دی.

کعب بن مالک چې جلیل القدرصحابي او شاعرو حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دهغه دیوې پوښتنې په ځواب کې داسې وایي «انّ المؤمن یجاهد بسیفه و لسانه ، والذي نفسي بیده لکأنما ترمونهم(رواه أحمد والطبراني : په تحقیق سره چې مومن به یاجهادکوي په توره اویاپه ژبې سره اوزمادې سوګندوي په هغه ذات چې زمانفس دهغه په اختیارکې دی چې ستاسې جهادپه ژبې اوشعرسره په کفارو داسې موثراوزیان اړونکی پریوزي لکه دغیسی وار) علمای کرام وایي چې لام په لکأنما کې دقسم دتاکیدلپاره راوړل شوی.

په پای کې دالله تعالی دربارته لاس اوچتوم چې زموږ دجهادي فرهنګي سنګردخدمت ګارانو ، مخلصینواوپه خاص ډول هغومیړنیو ته چې خپل لحن اوغږیې داسلام دفاع ته توره اوسپر ګرځولی ، دجهادزمزمي اوانګازي خپروي ، دشهیدانوکارنامي اوتلولی بیانوي ، دشهیدانوکورنیو ته دتسلیت پیغام رسوي اوددوی ددغه ستر رسالت په مقابل پرته له الله نه له بل هیڅ مکافات اوانعامات هم نه غواړي ، نوهماغه ذات دې ددوی ټولو حافظ ،ناصر اوډټولوحوایجو اودیني ارزوګانومددګاراوپالونکی وګرځي اومذید خلوص دې پرې ولوروي ، امین

مطبوعاتي جنګ څا ګټلی؟

قاري حبیب

نبايي په دې خو به ټول متيقن ياستو چې د نظامي جنګ په ميدان کې د اسلامي امارت مجاهدينو امريکا او متحدينو ته يې کلک شکشت ورکړی او تيښتې ته يې مجبور کړي دي، امريکا چې په خپله اعتراف لري چې شاوخوا له ۸۰۰ پوځي اډو څخه تښتيدلي او طالبانو ته يې پرې ايښي معنی يې داده چې شکست يې خوړلی دی.

مګر دا يوازې پوځي ميدان نه دی چې امريکا په کې د سختې رسوايي او شکست خوند څکلی د جګړې په بل اړخ (تبليغاتي / رواني جنګ) کې هم مجاهدين د الله تعالی د نصرت په برکت په دښمن برلاسي شوي او له دښمن څخه يې لوری ورک کړی دی.

رواني جنګ د جګړې يو مهم محاذ بلل کيږي، ډير ځله د جګړې ګټل او بايلل له همدې ځايه پيليږي، په جګړه کې وسلې په انساني اعضاوو چليږي. اعضاء د زړه او دماغ تابع دي، کله چې د دښمن په زړه ګوزار وشي، حوصله يې ووژل شي، د بريا فکر يې له منځه يوووړل شي، اعصاب يې ګډوډ او وځپل شي، نو بيا لاسونه شل او وسله يې سره او سپنه ګرځي.

د دوهم نړيوال جنګ وتلی قومندان فيلډ مارشال مانت ګمري په دې نظر وو چې د جګړې په ګټلو او بايللو کې تر ټولو اساسي عامل د جنګيدونکي کس روحيه او مورال دی، هغه مورال چې يوازې د تبليغاتو په توسط لوړيږي او نړيږي، د فرانسوي امپراطور ناپليون د سترو فتحو راز دا بلل کيږي چې نوموړي هم په خپل صف او هم د دښمن په جبهه کې د تبليغاتو پياوړې دستګاه درلوده، چې په توسط يې د خپلو کسانو مورال لوړ ساته او د دښمن مورال يې له ګډوډۍ سره مخامخ کاوو.

د طالبانو بريالی تبليغاتي ماشين

دا مريکا په ضد د دوولس کلن جهاد په اوږدو کې که څه هم د دښمن تبليغاتي ماشين خورا پراخ او هر اړخيز او مجاهدين په تبليغاتي يا رسانه يي برخه کې له ډيرو مشکلاتو او خنډونو سره مخامخ وو، مګر بيا هم لله الحمد د موثريت له اړخه د مجاهدينو مطبوعاتي مبارزه د دښمن په نسبت بريالۍ او اغيزمنه بلل شوې ده.

دا زموږ برداشت نه دی، بلکې خپله دښمن او بې طرفه تحليلګران په دې باور دي، چې مجاهدين په خپلو محدودو تبليغاتي وسايلو توانيدلي چې له دښمن څخه د پوځي ميدان غوندې د ساړه جنګ ميدان هم وګټي.

دا مریکا یوې وتلې رسنۍ فارین پالیسي د ۲۰۰۹ م کال په جون میاشت کې په لومړي ځل دیوه تحقیقاتي سروې په ترځ کې وموندل چې د کرزي د حکومت او امریکایي تبلیغاتي ماشین په نسبت د طالبانو مطبوعاتي جنګ خورا منظم، مؤثر او بریالی دی.

دغه مقاله چې وتلي امریکایي لیکوال رابرت هادیک Robert Hadik لیکلې وه په یوه برخه کې یې راغلي وو:

امریکایانو ته په کار دی چې له طالبانو سره د تبلیغاتي اونشراتي جګړې په ډګر کې نور مؤثر او اغیزمن تکتیکونه وکاروي ځکه په دغو موجوده تکتیکونو کې طالبان په بشپړه توګه په امریکایانو غښتلي دي.

د هاردیک په باور طالبان خپل خبرونه او خپل تول پوځي فعالیتونه په ډېرې چټکتیا سره تر نړیوالو خبري رسنیو پورې رسوي او خبري رسنۍ هم د پېښو په اړه د هغوئ نوي او تازه خبرونه په ډېرې لیوالتیا سره اخلي. دمثال په توګه د روان کال د مې میاشت کې چې کله د امریکایي پوځیانو لخوا د فراه ولایت د بالابلوک په ولسوالۍ کې له سلو نه زیات ملکي وګړي ووژل شول طالبانو سمدستي په امریکایي بمبارۍ کې د ملکي وګړو د وژل کېدو او د پېښې ټول جریان ښه په تفصیل سره خپور کړ.

خو بالمقابل امریکایي چارواکو د نو موړي پېښې او په هغه کې د وژل شویو وګړو د شمېر په اړه ۱۲ ورځې وروسته یعنې د مې په شلمه نېټه یو نیمګړی رپوټ خپور کړ.

Robert Hadik لیکي: ښايي د امریکایي تحقیقاتي مقاماتو لپاره د جګړې په ډګر کې د یوې پېښې او د هغې د نتایجو ترمنځ د غه ۱۲ ورځنۍ موده کم وخت وبلل شي خو په تبلیغاتي او نشراتي ډګر کې بیا د امریکایانو لپاره دا یو داسې ځنډنۍ حرکت دی چې په دې ډګر کې د طالبانو تبلیغاتي ورانـدې والي ډېر په ښکاره ترې جوتېږي.

د فارین پالیسي له اعتراف وروسته هغه مهال دامریکا د بهرنیو اړیکو مرکز (Council on Foreign Relations) هم په خپله یو پلټنه کې په همدې حقیقت اعتراف وکړ او په یوه راپور کې یې ولیکل: طالبان ځکه په خپله تبلیغاتي فعالیتونو کې مخکې دي چې هغوئ هیڅکله هم د یوې پېښې د سپیناوي لپاره ۱۲ ورځې وخت انتظار نه کوي؛ بلکې د هرې حادثې له پېښېدو وروسته سمدستي د هغې د خپراوي په هکله اقدام کوي.

د مجاهدینو د تبلیغاتي برترۍ په اړه د دښمن د اعتراف یو بل ښه مثال د امریکا د دفاع د پخواني مرستیال وزیر میچل دوران Michel Duran څرګندونې دي چې په دې اړه یې فارین پالیسي ته ویلي: هغوئ (طالبان) د خپلو فعالیتونو د ښه توجیه کولو او پروخت خپرولو کې ډېر چټک دي، هغوئ چې کله هم زمونږ د ځواکونو خلاف کوم پوځي برید ترسره کړي نو ۲۲ دقیقې وروسته سمدستي بیا د هغه خبر د نړیوالو تلویزوني چینلونو له خوا نشر او د بي بي سي په شمول د ټولو تلویزوني شبکو په لاندنۍ سره پټه کې په مکرره توګه ګرځي راګرځي

هغه وایي: طالبان نه یواځې دا چې د خبرپه رسولو او نشرولو کې چټک دي بلکې د هغه ترڅنګ په خپلو فرهنګي فعالیتونو کې هم ډېر منظم دي؛ مثلا هغوئ د خپلو ټولو پوځي فعالیتونو خبرونه په هماغه شیبه کې له پښتو او فارسي څخه عربي انګلیسي او اردو ژبو ته ژباړي او بیایې د خپلو نشراتي وسائلو ویب پاڼو، اخبارونو او شریعت غږ راډیو له لارې خپروي.

عرب وایي (والحق ماشهدت به الاعداء) حق هغه دی چې حتی دښمن ورباندې اعتراف وکړي، نو دا چې

دمجاهدینو په مطبوعاتي برترۍ دښمنان له خپل تول کبر او غرور سره اعتراف کوي معنی یې دا ده چې دا یو داسې ځلند حقیقت دی چې دښمن نور نشي کولای تر تبلیغاتي غبار لاندې یې پټ کړي نو ځکه وربانـدې مجبورا اقرار کوي او مني یې.

دامریکا او مزدور رژیم ناکامې هڅې

په ۲۰۰۹ م کال کې چې په افغانستان کې دامریکا په خلاف جهاد دپراختیا وروستي حدته ورسید ورسره دمجاهدینو مطبوعاتي هلې ځلې هم پراخې شوې، د مجاهدینو دتبلیغاتي فعالیت په وړاندې د مقابلې لپاره امریکایانو په کندهار کې د کیمک په نامه یوه مجهز مطبوعاتي مرکز جوړ کړ، ترڅو دمجاهدینو په وړاندې دتبلیغاتي جنګ موازنه برابره وساتي، خو د ۲۰۱۳ م کال د مارچ په میاشت کې دامریکا غږ اشنا راډیو ددې مرکز په اړه یوه راپور کې وویل، چې دې مرکز د ډیرو پیسو له مصرف سره سره کوم ځرګنده لاسته راوړنه نه ده درلودلې ،راپوردیلګې په توګه ولیکل: څه موده وړاندې چې په کندهار کې دناټو هلیکوفتر راوغورځید له کیمک مرکز هڅه وکړه، خلکو ته وښیي، چې چورلکه دهوا دخرابۍ له امله رانسکوره شوې، خو طالبان ارام نه وو ناست، بلکې هغوی ددې پیښې له وقوع څو شیبې وروسته په خپل انټرنیټ پاڼه لیکلي وو، چې په کندهار کې یې دناټو یوه څرخکه د توغندي په ګوزار راغورځولې ده.

د کندهار دوالي ویاند جاوید فیصل او امریکایي مشاور ریچارډ مک نیتن چې ددې مرکز په رغولو کې یې اساسي ونډه درلوده، داشنا راډیو خبریال ته یې ویلي، چې دوی کیمک مرکز ددې لپاره جوړ کړی وو چې دطالبانو سره په مطبوعاتي جګړه کې تري استفاده وکړي، خو دطالبانو د پیغام خپرولو تګلارې ډیرې ساده، سریعې او مؤثرې دي، چې دهرې پیښې په اړه له وقوع وروسته سمدستي خپل نظر ځرګندوي او خپل دریځ ته په پام سره یې په خپله ګټه تعبیروي.

د کندهار دتبلیغاتي مرکز غونډې امریکایانو او ملګرو یې په پلازمینه کابل او نورو ولایاتو کې هم ګڼ شمیر معلوماتي / تبلیغاتي مراکز رامنځته کړل، چې له دې جملې د ارګ دمطبوعاتو مرکز، دملي امنیت ترسرپرستۍ لاندې دروانې جنګ ریاست او دمختلفو اداراتو دعامه اړیکو مراکز دیادولو وړ دي.

څرنګه چې دمجاهدینو زیاتره بیانات او اخبار د انټرنیټ له لارې نشریدل امریکایانو په انټرنیټي نړۍ کې له مجاهدینو سره د دمقابلې لپاره دامریکایي پوځ دمرکزي قومندانۍ (سینټکام) په تشکیلاتو کې دانلاین خبرو اترو تر عنوان لاندې ګڼ شمیر افغان اجیر لیکوالان او مبلغین وګومارل ترڅو په دې برخه کې دمجاهدینو دفعالیت ځواب ووایي.

خو لله الحمد مجاهدینو په خپل پایدار مقاومت سره د سینټکام دتبلیغاتي اجیرانو له مخونو نقابونه لوځ کړل او په ټولنیزو شبکو کې یې ددوی فعالیت عاموافغانانو ته رسوا کړ، تردې چې په دوی عامه باور له منځه لاړ او دغه هڅې یې ناکامې شوې.

په ټوله کې چې امریکایانو دمجاهدینو په خلاف دتبلیغاتي جنګ کوم مراکز پرانیستلي دي، تراوسه یې دفعالیت کوم مؤثر څرک نه ښکاري، چې په دې خبره خپله دښمن هم اعتراف لري.

د مطبوعاتي مقابلې پرتلیز جاج

ما چې همدا مقاله لیکله، په ایمیل یوه ملګري یو مطلب راولیږه، چې له همدې بحث سره یې عجیب تړاو درلود، مطلب دخپرپاڼې په نامه دیوې نوې پښتو انټرنیټي صفحې لخوا خپور شوی، خبرپاڼه ویب پاڼې

ځو ورځې وړاندې په فعالیت پیل وکړ چې غواړي دافغانستان پېښو ته خبري پوښښ ورکړي ، خبرپاڼې ویب پاڼې هڅه کړې له ټولو خواوو سره په تماس کې شي ، ترڅو ورسره خبري معلومات شریک کړي ، خو په ځو ورځو کې ورته ځرګنده شوې چې ځوک په خبري برخه کې فعال او ځوک غیرفعال دي ، راځئ دلته دخبرپاڼې سایټ لخوا دلیکل شوې تبصرې ځیني برخې ولولو چې همدا پرتلنه ښه راته واضحه کړي.

دخبرپاڼې چلوونکي لیکي (د خبرپاڼې ویبپاڼې ایله یوه اونۍ کیږي چې په کار یې پیل کړی، خو له کومې ورځې څخه چې یې په کار پیل کړی، د هغې ورځې څخه یې چې څو مره ایمیلونه او د ویب پاڼو ادرسونه پیدا کولای شوای، هغومره یې پیدا کړل او دغو ټولو ته یې خپل د پرانیستنې خبرتیا ولېږله، چې ځینو ویبپاڼو لکه دعوت میډیا او نن ټکی آسیا په خپلو درنو ویبپاڼو کې نشر هم کړل.

ددې خبرتیا د نشر سره سم ځینو پښتو فرهنګي ملګرو د خبرپاڼې سره اړیکه ونیوله، او ځینو په فیس بوک کې پیغامونه راته پرېښودل، خو خبرپاڼه لکه څرنګه چې د نامه څخه ښکاري توقع درلودله، چې هغه دولتي ارګانونه، وزارتونه او نور تنظیمونه او د افغانستان په قضیه کې دخیل اړخونه به خپلې خبرپاڼې او خبرونه ورته لیږي، خو له ډېره بده مرغه دا یو هم نه وشول، یوازې طالبان دي چې دلومړۍ ورځې څخه یې خبرپاڼې ته په مسلسله توګه خپل خبرپاڼې او خبرونه په مکرره توګه رالیږلي، چې ځیني یې د خبرپاڼي له لوري نشر ته سپارل شوي هم دي

ددې څخه دا راته جوتیږي چې دولت او د هغوی وسلوال مخالفین طالبان میډیا ته څومره اهمیت ورکوي، او څرنګه هڅه کوي چې د هیواد تر ټولو رسنیو په وخت خپل ځان او خبر ورسوي، او په دې توګه خپل ځان ثابت کړي او د افغانانو په اذهانو کې خپل وجود ثابت کړي، هغوی ښه پوهیږي، چې یوه رسنۍ هم ددوی خبرپاڼي او خبرونه هغه ډول نه نشروي لکه څرنګه چې یې دوی غواړي خو بیا هم نه ستړي کیږي، نه مایوسه کیږي، او نه پرشا کیږي، بیا بیا خبرپاڼي، خبرونه او خپل اړوند رسنیز مطالب او ویډیوګانې تر رسنیو پر وخت رسوي، او د هغوی څخه د نشر هیله کوي.

خو بل اړخ ته په ډېر افسوس سره باید ووایو چې د افغانستان هر وزارت ځانته فرهنګي څانګه، ویاند او اداره لري، خو په دغو ادارو کې کارکونکې که څه هم لوی لوی معاشونه اخلي، دفترونه لري، کورونه لري، او موټر یې په خدمت کې دي، کمپیوټر، د انټرنیټ اسانتیاوې او نور زیات اسایشونو څخه برخمن دي، خو ددې ټولو سره سره دوی د طالبانو په پرتله څوک چې نه په هیواد کې دننه ځای لري، او نه هیواد څخه بهر یې ژوند په ارامه دی، ډېر کم کار کوي. بلکې ډېر وخت چې ددغو کسانو اړوند مسائلو کې د ژورنالستانو په کار شي او اړیکه نیولو هڅه ورسره وکړي، دکار په وخت یې موبایل بند وي، یا ورته ویل کیږي چې صاحب په میټنګ کې دی، یا د وزیر صاحب سره چیرته په سفر تللی، او یا نور څه، خو ویاند صاحب او نور فرهنګي ملګري به یې په فیس بوک کې خپل د اولادونو، خپل د مرفه موټرونو، خپل د کوچونو څخه د ډک مجلسونو او المارۍ عکسونه شهر کوي، او د افغانانو په کړېدلي حالت به نور هم مالګه دوړوي)

لوړې خبرې دافغانستان د یوې بې طرفه خبرې ادارې قضاوت دی چې به واضحه توګه دمجاهدینو او دښمن دمطبوعاتي فعالیت په اړه نتیجه ترې اخیستلای شو.

د مجاهدينو ميډيا که څه هم بشري ځواک يې کم، امکانات يې محدود، کاري چاپيريال يې ستونزمن او له يو عالم ستونزو سره لاس او ګريوان دي، مګر بيا هم د اعلامي مجاهدينو د اخلاص، قربانۍ او نه ستړي کيدونکو هلو ځلو له امله توانيدلي چې د پوځي جنګ غوندې په دې برخه کې هم دښمن ته شکست ورکړي.

د ۲۰۱۳ ميلادي کال دمې په ۲۳ نيټه په کابل کې د (هماهنګي سخنګويان ارشد دولتي) ترعنوان لاندې د مهمو وزارتونو دوياندويانو لخوا يو کانفرانس جوړ شو، چې ددفاع، داخله وزارت، ملي امنيت او نورو اداراتو وياندويانو په کې ګډون درلود په دې مراسمو کې ددفاع وزارت وياند ظاهرعظيمي په خپله اعتراف وکړ چې دطالبانو وياندويان تر دوی ډير خپلې وظيفې ته ژمن او په کار کې موفق دي.

په دې غونډه کې دافغانستان دازادو رسنيو د بنسټ مشر صديق الله توحيدي هم وويل چې دطالبانو وياندويان هميشه له خبريالانو سره دمعلوماتو په شريکولو کې همکار پاته شوي، له هرې پيښې وروسته په ډير سرعت له رسنيو سره خپل دريځ او معلومات شريکوي، خو دولتي وياندويان په خپل کار کې هميشه تنبل ثابت شوي دي.

دا يوازې خبري برخه نه ده چې مجاهدين په کې ددښمن په پرتله په برلاس دريځ کې دي، بلکې په نورو تبليغاتي او نشراتي برخو کې هم مجاهدين له دښمن څخه مخکې دي، مجاهدينو د صوتي، تصويري او چاپي رسنيو له لارې هميشه خپل پيغامونه، برياوې، ددشمن تلفات، مظالم او رسوايي په ډير مهارت او راښکوونکي کيفيت سره تر افغانانو رسولي دي، هغه څه چې دښمن ددا ډول هر اړخيز فعاليت لپاره تر اوسه کوم چوکاټ نه دی جوړ کړی.

دکرزي د رژيم د کرنې وزارت وياند په همدې موضوع يو مطلب ليکلی چې عنوان يې دی (کمزوري ارتباطات، بېړا نظام او تروخت تېر پروتوکولونه)



دا مطلب چې د ماشهدت به الاعداء بنه مثال ورته ويلی شو په يوه برخه کې يې دوه طرفه تبليغاتي پرتلې ته داسې اشاره کوي (د نظام د ارتباطاتو د ستراتيژۍ د کمزورتيا يوه عمده بنه د مخالفينو د ناوړه کارونو نه تبليغبدل دي په دې برخه کې مخالفين د دولت په پرتله څو چنده زيات غښتلي دي مخالفينو د شمال د جنسي تېريو پېښې يوه يوه په تبليغاتي ويډيوګانو کې کارولي، خو نظام د مخالفينو له جنايتونو څخه لږ تبليغاتي ګټه هم نه ده اخيستې، د هغوی هر نظامي ګروپ پر عصري ويډيويي او تصويري کامرو سمبال دی، او په دې نظام کې لا شته داسې وزارتونه چې تر اوسه د عکاسۍ عصري کامرې نه لري لنډه دا چې د تبليغاتو په برخه کې نظام تتر، او مخالفين د بلبلانو غوندې په سلو ژبو ګويان دي)

له لورو حقائقو او ددښمن له اعترافو په ځرګنده معلوميږي، چې دمجاهدينو مطبوعاتي فعاليتونه ددښمن په نسبت بريالي، اغيزمن او منسجم دي، چې دښمن يې تر اوسه دمقابلې مخ نه دی موندلی.

دسوړ جنګ ګرم پګراو د مسلمانانو نه دوخت غوښتنه

شهید زوی

مطبوعاتو یا رسنیو ته څکه د دولت څلورمه ستنیا رکن وایې چې دا د دولت ۳ کونو نورو قوو یانې قضائیه قوې مقننه قوې او اجرائیه قوې تر منځ ربط ساتي ؛ ولس ددې ادارو د فعالیت نه خبروي او د ولس ستونزې او مشکلات د دولت تر غوږو رسوي.

دا چې رسنۍ د دولت څلورم رکن دی هیڅوك ترې انکار نه کوي بلکې دا هم هرڅوك منی چې دې جملې اوس نړیوال حیثیت غوره کړیدی خو دا چې دې دور ته د رسنیو یا میدیا دور ویل کېږي او همدې رسنیو نړۍ ته دیو کلي حیثیت ورېښلی دی او نړۍ په هر کوډ کې چې کومه پېښه رامنځته کېږي په بل کوډ کې ترې نه یواځې دا چې هر څوك خبرېږي بلکې د انټرنیټ او تلویزونونو په پردو بې څو دقیقې پس په خپلو سترګو وینې هم ، او دا چې د همدې رسنیو له لارې د نړۍ د هر قنج وکنار د حالاتو نه په ډېرې اسانی هرڅوك ځان خبرولای شي نو اوس خبره د دولتونو د څلورم رکن نه وړاندې نړیوالتوب ته تللی ده ؛ اهمیت یې نړیوال دی او اغېزې یې هم نړیوالی دی نو څکه رسنۍ نن د اهدافو او مقاصدو د تر لاسه کولو لپاره تر ټولو ستره ، مهمه او کامیابه وسیله ګڼل کېږي.

نو یقیني خبره ده چې کله چېرې د نړۍ خلکو په اتفاق د انساني اقدارو د احیاء او بقا او د ټولو انسانانو تر منځ د مشترکو ، غوره او مثبتو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره رسنۍ په کار اچولې وای او د شومو اهدافو د حصول کار ترې نه وای اخستل شوی نو انساني ټولنه به په اخلاقي او معنوي لحاظ دومره تنزل نه وای کړی څومره یې چې وکړ ؛ جنګونه او بدامني به نه وای ، بداخلاقي به نه خپریدای ؛ دمذاهبو او ملتونو ترمنځ به منافرت نه وای ؛ د زېرمو د غصب او د خاورو د اشغال په موخه به په کمزورو ولسونو جنګونه نه مسلط کېدای ؛ په یو جنګ کې به په ملیونونو کمزوري بې ګناه انسانان نه وژل کېدای ؛ او نه به هم په جنګونو یانې د انسانانو په وژلو او د ابادو کورونو او ښارو په ورانولو په ملیاردونو ډالر مصرفېدای ، د هر چا مال ځان او عزت به په امن کې وای ، انساني اخلاق او کردار به ژوندي وای ، بشریت ته به دقدر او احترام په نظر کتل کېدای ، انساني همدردي به عامه وای ، د ابادو کلو او ښارونو په ورانولو او د انسانانو په وژلو چې کومې پیسې لګېږي دابه د نړۍ په ابادولو ، د علم په خپرولو ، د ورو انسانانو په مړولو ، د علمی او تحقیقاتی او صحی مرکزونو په جوړولو ، د بې وزلو مریضانو په درملنې ، د یتیمانو او غریبو کوچنیانو په پالنې او د سواد نه د محرومو ولسونو په علمي روزنې او د انسانانو ترمنځ د مینې او محبت خپرولو په لار کې لګېدای.

خو متاسفانه ! دغه وسیله چې انساني ټولنې ته د ډېر لوی خیر د رسولو کار ترې اخستل کېدای شو اوس ترې په نړیواله سطحه د ډېر لوی شر خپرېږي او د چاچې پرې قبضه ده

يواځې د همغوی د شوموا هدافو د لاسته راوړلو لپاره په ډېر ناوړه ډول کارول کېږي.

غم تول له دی ځای نه جوړ دی چې لویدیځ چې په سر کې یې امریکا ده پر ټولې نړۍ خپله باداري؛ د ټولې نړۍ په وسایلو خپله قبضه؛ او د نورې ټولې نړۍ خلك خپل ذهني غلامان کول غواړي چې بدبختانه دې ټولو هیلو ته د رسېدو یواځینی لار دوی پر نړۍ د خپل غربي کلتور مسلط کول کښي او د دې لارې یواځنی خنډ حقیقي اسلام؛ ربښتوني مسلمانان؛ په نړۍ کې د اسلام سریع اشاعت ؛داسلامي فکروده؛ اسلامي تهذیب و تمدن؛ اسلامي ټولنیز نظام او اسلامي حاکمیت بولي نو ځکه یې چې د دې ټولو پر ضد پراخه عسکري جنګ پیل کړی نوترڅنګ یې د رسنیو په وساطت ډېر وسیع او خطرناك تبلیغاتي جنګ هم روان ساتلی دی.

د اسلام او مسلمانانو پر ضد داعلان شوی جنګ په لړ کې چې امریکا او متحدین یې په هر اسلامي هېواد یرغل کوي لومړی یې پر ضد دومره منفي تبلیغات وکړي چې کله پرې فوځي یرغل کېږي نو دا یرغل هر څوك پر ځای عمل بولي او په بهر نړۍ کې یو هېواد یا ولس دا ناروا مسلط شوی جنګ نه کښي.

د مسلمانانو پر ضد پدې روان جنګ کې د رسنیو ونډه ډېره بنستېزه ده؛ موږ وینو چې د اسلامي هېوادونو د اشغالولو او خپلو شومو اهدافو ته د رسېدو لپاره امریکا او نورلویدیځ د کمزورو او مظلومو انسانانو پر ضد ډېر بې دریغه طاقت کاروي؛ د خطرناکو وسلو پرمټ عامه وژنې کوي؛ عام المنفعه تاسیسات له منځه وړي؛ اباد کورونه په کنډوالو بدلوي؛ کن شمېر بې ګناه انسانان د زندانونو د تورو تمبو شاته غورځوي خو دنړیوالو رسنیو کمال دی چې سره ددې ستر ظلم او وحشت دا ظالمان سپین بازان وي او دا مظلوم، مقهور او مجبوره وګړي ظالمان جابران او تروریستان ګڼلی شي.

ډېر مخ تللو او عصري ټیکنالوژۍ پر مټ سیمې او هېوادونه قبضه کولی شي خو د رسنیو د تبلیغاتو له لارې د خلکو د زړونو، تمدن، تهذیب، قومي اقدارو او کلتور د مسخ کولو مخې کېږي، او د همدې رسنیو د زهرجنو تبلیغاتو له لارې د ولسونو د نوو نسلونو د ذهنونو او د دماغو د مفلوج کولو او په فکري لحاظ یې د غلام جوړولو کوششونه کېږي، ځکه چې رسنۍ د مافی الضمیرد اظهارنه بلکې د رسنیو د مافی الضمیر سره د خلکو د ذهنونو او فکرونو د برابرولو یواځنی کامیابه او مؤثره وسیله ده.

همدا میډیا یا تبلیغاتي وسیله ده چې کوم شخص، اداره، ګوند بلکې د یو هېواد پوره ولس د قبولیت معراج ته رسوي او د مقبولو اشخاصو، ادارو ګوندونو او ولسونو څېرې نړۍ ته منفورې وړاندې کوي؛ په شپو شپو کې د ګیدړانو نه اتلان او د اتلانو نه ګیدړان جوړول د میډیا د پټو سترګو کار دي.

ټولنې رسنیو د خپل داسې اثرلاندې راوستې دي چې په نا شعوري ډول خلکو خپل ذهنونه د رسنیو تابع کړځولي دي، په بل عبارت خلك د رسنیو له فکر نه فکر کول، له سترګو نه یې لیدل او د رسنیو په ترازو تلل پیل کړیدي چې دا ډېر د فکر وړ خبره ده.

د ۱۱ ستمبر نه پس لویدیځ د رسنیو مؤثر کولو او تقویه کولو ته ډېره زیاته توجه کړیده او پدې لار کې زښت زیات مصارف کوي؛ د وسله وال جنګ ترڅنګ تبلیغاتي جنګ هم مستقله بنه غوره کړیده او دایقیني خبره ده چې اوس په مقابلې کې د وسله وال جنګ بریا لیتوب او شکست د همدې مطبوعاتي جنګ د بریالیتوب او شکست سره تړلی شویدی، ځکه چې جنګونه په زیاتو

پیسو ،دېرو وسلو او وسایلو نه کټل کېږي بلکه جنګونه د ولسونو او جنګیالو په لوړ مورال ،نه ستری کېدونکي حوصلې او دینی احساس کټل کېږي ، او کټل یې هغه مهال لا پسې یقیني کېږي کله چې مقابل لوري مورال وبایلي.

خکه خوپه غربي رسنیو کې شپه او ورځ ددې لپاره تبلیغات روان دي چې د مسلمانانو حوصلې ماتې شي ، مورال یې وغورځېږي په هر ډګر کې ماتې ومني او بر عکس غربي ولسونه او جنګیالي مورال ونه بایلي ، حوصلې یې ماتی نه شي او ژرماتې خوړلو ته تیار نه شي ؛ دابیا بیله خبره ده چې پدې څو کې دوئ ته هغه بریالیتوب نه وریه برخه کېږي دکوم چې تمه کوي او سره ددې زهر جنو تبلیغاتو ، د کامیابی د سترو دعوو او مسلمانانو ته د ماتې ورکولو د لویولاپو هم د مسلمانو شازلمو مورال د هندوکش له غره نه لوړ او د غرب د ولسونو او جنګیالو مورال د ټیټوالي په هغه حدودو کې دی چې شاید لاندی به ترې بله مرتبه نه وی.

دا سمه ده چې اسلام د داسی فاحش ، زهرجن ، باطل پرست او ظالم پرست ، نفرت خپرونکي او اشخاصو ،دلو، او کوندونو ته سپکاوی کونکي مطبوعات رد وي او هیڅکله خپلو متبعینو ته دا اجازه نه ورکوي چې د دروغجنو او زهرجنو تبلیغاتو له لارې خپلو اهدافو ته د رسېدلو هڅې وکړي.

خو داهم یو حقیقت دی چې پدې دین کې د ابلاغ دېر لوی ارزښت دی ، اسلام د حق او صداقت خپراوی او د باطل مخنیوي او خلك ورته خبرول د هر مسلمان مسئولیت ګڼي. دا له هیچا هم پټه نده چې داسلام بنسټیز هدف د کلمة الله اعلاء ده چې دا دوه جزونه لري یو احقاقِ حق اویل ابطالِ باطل ؛ اسلام پدې دواړو ډګرونو کې د مؤثرو او کامیابو وسایلو د کارولو حکم کوي چې طبعا مؤثره او کامیابه وسیله رسنۍ دي البته رسنۍ به د همدې عالي اهدافو او مقاصدو لپاره کارول کېږي چې اسلامي اصول، مبادي اواخلاق به پکې هیڅکله له پامه نه غورځول کېږي.

په رسنیو د اسلام او مسلمانانو د دښمنانو او د مغزی د فکري غلامانو له لوري په اوسنی قبضې باندې یواځې غم او افسوس ښکاره کول او دکر اغیارو ته پرېښودل د مسئلې حل ندی بلکې پدې حساس وخت کې ددې خبرې دېره زیاته ارتیا لیدل کېږي چې ذی استعداد ټول مسلمانان درد او قبول خود ساخته معیارونو ته شا کړي ؛ مادي ګټې ، عزت او شهرت له نظرونو وغورځوي او ((قطره قطره بهم شود دریا)) په اصولو د عمل له لارې به په اخلاص د مقابلې ډګر ته راووځي اوژردلوېدېخ ددې سیلاب مخه ونیسي.

نن پر نړیوالو رسنیو د یهودو او مسیحیانو قبضه ده ، دوئ چې کله هم د اسلامي نړۍ پر کومې برخې یرغل کول غواړي د رسنیو پر مټ دیرغل نه دمخه د یرغل لپاره پوره زمینه سازي کوي چې پکې تقریبا کامیابېږي هم ، دا چې بیا د مسلمانو شاځلمو په مقابل کې په ډګر کې نشي ټینګېدای او د شرمونکي ماتی سره مخامخ کېږي هغه بیله خبره ده خو رسنۍ چې د کوم هدف دلاسته راوړلو لپاره کار وي نو پکې بریالي دي.

دا هم بایدومنوچې داسلام اومسلمانانو پرضد یې چې کوم زهرجن تبلیغات پیل کړیدي له امله یې داسلام او مسلمانانو دلوړو اخلاقو ، مثبت سیاست ، ټولنېزو مثبتو انقلابي بدلونونو، بشري همدردیو، تهذیب ، ثقافت ، تمدن او صالحه افکارونه نه یواځې دا چې نړۍ بی خبره او محرومه پاتې ده بلکې د نړیوالو افکار داسلام اومسلمانانو په اړه بیخي د حقیقت معکوس ګرځېدلي دي نو ځکه د مسلمانانو د خپلو رسنیو سره دا هیلې ترل کېدای شي چې د

اسلامي عالي اخلاقو ، سياسي ، تهذيبي او ثقافتي اقدارو او خوبيا نو سم اشاعت او نكراني به وكړي او د اسلام پر ضد د تبليغاتو غابن ماتونكي جواب به وركړي.

داهم بايد له ياده ونه باسو چې زمونږ داسلامي نړۍ په ټولنيز ژوند اوس د مطبوعاتو اغېزې ډېرى جوړې دي ، د فحاشۍ په خپرولو او د اسلام د عملي ، فكري ، تهذيبي او لوړ اخلاقي تشخص نه د مسلمانو خوانانو د لرې كولو لپاره غربي ميديا شپه او ورځ پر خان يوه كړيده ؛ چې ددې دجالي پروګرامونو مخه هم يواځې د مسلمانانو خپلې رسنۍ نيولى شي.

داخبره هم ډېره دتوجو وړ ده چې په اسلامي نړۍ كې تش په نامه كڼ داسې پوهان شته چې دماديانو په بدل كې داغيارو د لاس آله ګرځيدلي دي او د خپلو ليكنو ، مركو او د رسنيو د نورو پروګرامونو له لارې د اسلام د اصل روح د مسخ كولو او د عامو ساده مسلمانانو د بې لارې كولو كوششونه كوي چې د دوى مقابله يواځې د شريعت د اصل روح او مزاج نه خبر هغه زيرك ديني عالمان كولى شي چې د دښمن شومو پلانونو ته متوجې وي او په رسنيو كې په ځاى پيداكولو او مقام جوړولو توانيدلي وي.

د نړۍ په مختلفو برخو كې د كفارو ياد هغوىٰ د لاسپوڅو ديكتاتورانو له لورې پر مسلمانانو ډېر ستر ظلمونه او وحشتونه روان دي خو نړيوالې رسنۍ ددې مظلومو مسلمانانو په حالت ستركې پټوي او د ظلم او وحشت كوم خبر او حالت چې نشي پټېداى هغه د يو عام خبر په صورت كې وړاندې او پر حقيقي صورت يې پردې را اچوي نو په داسې حالت كې د مسلمانانو په لاس كې د خپلو داسې رسنيو اړتيا ده چې لږ تر لږه ددې مظلومو مسلمانانو د مظلوميت غږ پورته ؛ د اصل حالت نه يې نړۍ خبره او د ظالمانو حقيقي وحشي څېره نړۍ ته ښكاره

كړي. څه پدې پوهېږم چې اوس مسلمانان پدې ډګر كې ډېر وروسته پاتې دي ؛ لايې ډېر اوږد سفر پر مخ دى او ډېر زيات كوښښونه وريه غاړه دي خو پدې هم پوهېږم چې هوښيارو ، دردمنو او زيركو مسلمانانو د مطبوعاتو د اهميت په درك كولو اوس دې ډګر ته رادانګلي دي چې دا ډېر لوى غنيمت دى ؛ ډېره كته يې كړيده چې دښمن يې هم ورخطا كړيدى ، او د امريكا په نوم هغه سترفرعون چې دنړۍ په ټولو رسنيو يې قبضه ده داسلامي امارت د محدودو خو د حق او صداقت د علمبردارو رسنيو په مقابل كې د خپل شكست اعتراف كولو ته اړ شوى.

دمسلمانانو خپل دا اخبارونه ، ديني رسالې ، جرائد ، مجلې او ويب پاڼې ماته د باران هغه ړومبۍ قطره ښكاري چې له ځان سره يې د رحمت داوږد باران زيرى راوړي وي ، درحمت دا باران به بيا الله ددښمن لپاره په داسې زحمت بدل كړي چې ټولې هيلې او شوم پلانونه به يې د خاوروسره خاورې كړي.

هو ! مونږ چې د وروستي حق اسماني دين پيروان يواو ددې دين لاربښونو ته پوره ژمنتيا د ټولو برياليتوبونو سرچينه ګڼو نو قدم په قدم په ټولو چاروكې دروا اوناروا تر منځ تميز ډېر ضروري ګڼو او خپلو اهدافو ته د رسېدلو لپاره د ټولو هغو وسايلو په كار اچول روا نه ګڼو كوم چې زمونږ پر ضد دښمن په كاراچوى خو پدې پوهېږو چې ددښمن پرضد ددښمن خپله وسله كارول ستر كمال دى؛ اميد دى چې مسلمانان به د مقابلې پدې ډګر كې دا حقيقت له پامه نه غورځوي.

دافغانستان اسلامي امارت

دتعلیم اوتربیې دکمیسیون هڅې اوبریاوې

حامداً ومصلیاً: څرنګه چې د افغانستان اسلامي امارت بنسټ د مدرسو د طالبانو لخوا ایښودل شوی ، او همدا امارت وه چې د ظهور په اوائلو کې د طالبانو د اسلامي تحریک په نوم یادیده. د طالب دلفظ څخه د علم اوپوهې رڼا څر ګندیږي، دا حقیقت هر چا ته معلوم دی چې د دغه سپیڅلي انقلابي پاڅون مرکزي جوړښت د پیله تر اوسه پورې علم اوپوهې ته له منسوبو اشخاصو طالب، مُلا او عالم نه جوړ شوی دی او طبعي ده چې دحق ددې قافلې ټول لاروي او شریک وال به علم او پوهې ته زیات مخلص او وفادار وي او د تعلیم د ترقۍ او ودې په کوشش کې به وي.

په همدې اساس دطالبانو اسلامي تحریک دخپل ظهور په لومړیو بیا اسلامي امارت د خپلې واکمنۍ پر مهال علم او تعلیم ته زاته وده ور کړه،د(الناس علی دین ملو کهم) په مصداق هیواد کې دعلم دزده کړې لور ته دهیوادوالو میلان په زیاتیدو دخوان نسل له منځه لوی شمیر دعلم لارې لارویان شول

دمدرسو او دار الحفاظونو یو بل وروسته جوړولو او لوی شمیر بنو ونځیو د تاسیس بهیر داسې تعبیر ولی شو چې داسلامي امارت دعلم پالونکي پالیسۍ په نتیجه کې په سیمه کې دعلم واوتعلیم په بڼ کې انقلاب راغی ، کله چې صلیبي دارہ مارانو دافغانستان په پاک

حریم باندې په تیري کولوسره دطالبانو او عالمانو دپاکو وینو په بر کت جوړ اسلامي امارت نه واک غصب کړ ، نو د افغانانو تر څنګ د ټولې سیمې په مسلمانانو کې د مقدّس جهاد پاڅون تر څنګ دعلم اوتعلیم لور پاملرنه نوره هم ډیره شوه، د مدرسو جوړولو رجحان زیات شو هم په مدرسو کې دطالبانو د داخلې دفیصدي ګراف په دومره لوړه شو چې وړاندې یې ساری نه لاره.

دافغانستان اسلامي امارت چې لور ته دیر غلګرو صلیبیانو او ددوی د اجیرانو په وړاندې په مسلح جهاد کې مصروف و،ورسره دعلم داهمیت ته په پام او دهیواد خلکو لپاره د سوچه تعلیمي ماحول برابرولو او د نوي نسل دسالمې تربیې په غرض یې د تعلیم او تربیې په اړه ځانګړی کمیسیون جوړ کړ.

دتعلیم اوتربیې کمیسیون ته د کار دپیل وروسته دپام وړ بریاوې او لاسته راوړنې په برخه شوې . کومې چې د کمیسیون خپرونو ځانګه په لنډ ډول داسې وړاندې کوي.

څو د صلیبیانو دا مطبوعاتي درواغ جواب شي چې وایي: طالبان د تعلیم مخه نیسي او د مکتبو مخالف دي او دبلې خوا ټولو هیوادوالو ته دتسلی او داد پیغام شي.

(۱) د اسلامي امارت د تعليم او تربيې د کميسيون د اړونده چارو د بنه تنظيم او په اصولي توګه د إجراءاتو د ترسره کولو لپاره په (۱۰۱) يوسلو يو مادو کې لاتحه جوړه شوې ده چې د اسلامي امارت د مقام د منظورۍ څخه پس د هيواد ټولو ولاياتو او ولسواليو ته رسول شوې ده، د تعليم او تربيې اړونده چارې د کميسيون د مؤظفينو او کارمندانو لخوا ددې لائحې په رڼا کې پرمخ بيول کېږي. او د لائحې تطبيق ته جدي توجه کېږي او د عملي کولو څارنه يې د کميسيون د رياست د مقام او مسؤلينو لخوا وخت په وخت ترسره کېږي.

(۲) د کميسيون د لائحې د دوهم فصل د (۲۱) مادې په اساس د تعليم او تربيې کميسيون د ټول هيواد په کچه پراخ اداري تشکيل لري په دغه تشکيل کې د مرکزي عالي کميسيون رئيس او څو تنه اعضاء او د هر ولايت لپاره يو د تعليم او تربيې رئيس او د ولايتي رئيس لپاره يو معاون که په کوم ولايت کې د کار حجم زيات وي بيا د ولايتي رئيس لپاره دوه معاوبين او د ټولو ولاياتو د هرې ولسوالۍ لپاره يو يو مديريت منظور شوی دی. د اداري تشکيل په دغه بستونو کې د اوس لپاره د کميسيون د رئيس او مرکزي اعضاؤ څخه علاوه د ولاياتو د رئيسانو او معاونينو شميره؟ (٦٦) تنه دی او په ولسواليو کې (۴۰۸) مديران تعين شوي دي. ددې ترڅنګ د کميسيون په چوکاټ کې د مدارسو د نصاب د ترتيب او د نظر ثاني کولو او د اسې نورو اړونده تدريسي چارو د ترسره کولو او انسجام لپاره د هيواد د جيّدو او مشهورو علماء کرامو او مشائخو عظامو څخه (۱٦) کسيزه علمي بورډ ((شورئ)) هم جوړه ده . او دغه راز د کميسيون اړونده د عالي تحصيلاتو په برخه کې څو تنه مؤظفين کار کوي چې ددې ټولو سره د کميسيون اړوند مقرر شوو مؤظفينو تعداد (۴۳۱) تنو ته رسېږي.

(۳) د کميسيون د علمي بورډ لخوا د مسلکي ماهرانو په مشوره ورو کلي والو مدرسو لپاره درې کلن تعليمي نصاب او لويو ديني مدارسو لپاره بنه مضبوط او جامع واحد تعليمي نصاب جوړ شوی.

چې دغه نصاب د کميسيون لخوا د اسلامي امارت د مقام څخه د منظورۍ اخستلو وروسته د هيواد په دننه کې د ولاياتو د تعليم او تربيې د اړونده رياستونو په توسط او همدا راز د هيواد څخه بهر د هجرت په ديار کې افغاني ديني مدرسو ته ورسول شو.

چې لله الحمد دغه نصاب د الله تعالی په توفيق او د مدرسو د مهتممينو او مسئولينو او استاذانو د همکارۍ او موافقې په اساس تر ډېره حده عملي شوی دی. او د مزيد او مکمل عملي کولو لپاره يې د کميسيون لخوا په دوام داره توګه هلې ځلې روانې دي. او هم يې د کميسيون لخوا د څارنې د مؤظف هيئت په توسط وخت په وخت مراقبت کېږي.

(۴) د ديني مدارسو د اداري او تدريسي چارو د اصلاح او بنه تنظيم په منظور د کميسيون لخوا د ديني مدارسو د مسئولينو او استاذانو د مشورو په پام کې نيولو سره په (۴۰) مادو کې هدايات. اصول او ضوابط جوړ او ترتيب شول.

. په دغو هداياتو کې د طالبانو د تعليمي سويې او علمي کيفيت لوړوالي، د دوی د استعدادونو د بحال کولو. د دوی د اخلاقي اقدارو د ساتنې. او د دوی په روزانه اسباقو او په امتحاناتو کې د حاضرۍ د پابندۍ کولو په شمول نور ضروري او مفيد هدايات ورته په ګوته شوې دي چې دغه (۲۰) مادې د علمي بورډ لخوا تاييد او تصويب کولو پس د عملي کولو لپاره د متحد المال مکتوب په ذريعه په هيواد کې دننه او د هيواد څخه بهر د هجرت په ديار کې ټولو افغاني ديني مدرسو ته رسول شوې چې د تطبيق څارنه يې د اړونده مؤظفينو لخوا وخت په وخت ترسره کېږي.

(۵) د ديني مدارسو لپاره د منظور شوو هداياتو او ضوابطو په اساس او د تعليمي نصاب په رڼا کې د تعليم او تربيې کميسيون د نظارت د لاندې په ټولو ديني مدارسو کې په هر تعليمي کال کې درې امتحانونه اخستل کېږي ((درې مياشتنی. شپږ مياشتنی. کلنی)) چې د دورې او لوې دورې کلنی امتحان په مشترک ډول اخيستل کېږي او د دغه کلني امتحان لپاره مشترک پارچې هم د کميسيون د علمي شورئ (بورډ) لخوا جوړېږي.

تېر تعليمي کال د ټولو ديني مدرسو څخه درې واړه امتحانونه د کميسيون د مؤظف هيئت د نظارت لاندې واخستل شول.

د دورې او لوې دورې د طالبانو څخه کلني امتحان په يو مهال په مخصوصو امتحان هالونو کې پخپله د کميسيون لخوا واخستل شوه. چې د بلوچستان اړوند مدرسو څخه پکې (۴۲۳) تنو طالبانو او خيبر پختونخوا کې اړوند مدرسو څخه پکې (۱۳۲) تنو طالبانو شرکت وکړ

په دغه امتحان کې دبلوچستان مربوط (۳۵۸) تنه طالبان او دخیبر پښتونخوا مربوط (۱۲۰) تنه طالبان کامیاب شول چې دغو دغه ټولو (۴۷۸) تنو کامیابو طالبانو ته د کمیسیون لخوا ښه معیاري او معتبر سندونه ((شهادتنامې)) ور کړل شول.

د تیر کال په شان روان تعلیمي کال درې میاشتنی امتحان په ټولو مدرسو کې په تحریري ډول د محرم الحرام په (۲۶) شروع او په شپږ ورځو کې پای ته ورسید او شپږ میاشتنی امتحان د ربیع الثاني په (۱) او (۲) دوه ورځو کې په تقریري ډول واخستل شو چې ددې دواړو امتحانونو دبهیر څارنه د تعلیم او تربیې دمؤظف کمیسیون لخوا په دوام داره توګه ترسره کېده او ټاکل شوې ده چې کلني امتحان به ان شاء الله تعالیٰ د رجب المرجب په (۱۸) شروع او په شپږ ورځو کې به مکمل واخیستل شي.

د تیر کال په شان به سږ کال هم د ورې او لوې دورو د کلني امتحان سوالونو د مشترکو پرچو په شکل جوړې کړی شي اودغه امتحان به هم مستقیماً د کمیسیون لخوا په مخصوصو امتحان هالونو کې واخستل شي.

ددغه کلني امتحان د انعقاداو تاریخ په هکله د کمیسیون لخوا ټولو اړونده مدرسو ته د ربیع الاول په (۱۹) دمتحدالمال مکتوب په ذریعه خبر ور کول شوی دی او د مکتوب سره ضمیمه په امتحان کې دګډون کونکو طالبانو لپاره مخصوصې فورمې هم دغو ټولو مدرسو ته ور رسول شوې دي. او دغو مدرسو ته په تاکید سره لیکل شوي دي چې د خپلو هغو طالبانو چې په کلني امتحان کې ګډون کولو اهلیت ولري مکمل کوائف ددې فورمو په ډکولو سره د کمیسیون مرکز ته دجمادی الثاني تر (۱۵) پورې راولېږي ترڅو دهغه تعداد سره سم کمیسیون د امتحان هالونو او په امتحان کې د کیناستلو ((رقم الجلوس)) انتظام او اهتمام وکړي او بیر ته یې مدرسو ته پخپل وخت ور ولېږي.

(۱) د دیني مدرسو او طالبانو لپاره په (۲۰) مادو کې د تیار کړل شوو هدایاتو په رڼا کې دا دوه کاله (یعنې تیر تعلیمي کال او روان تعلیمي کال) د دیني مدارسو د طالبانو ترمینځ تقریري مقابلې د کمیسیون لخوا ترتیب او په بریالیتوب سره ترسره شوې. چې تیر کال تقریري مقابله د سیرة النبي ((صلی الله علیه وسلم)) په موضوع باندې دشپږمې درجې د طالبانو ترمنځ وشوه دغه مقابله د بلوچستان اړوند دیني مدرسو د طالبانو ترمنځ د کوټې په ښار کې ترسره او پکې د(   )مدرسو(
) تنو طالبانو برخه اخستې وه او دخیبر پښتونخوا اړوند مدرسو د طالبانو ترمنځ د مردان په ښار کې ترسره شوه چې د(۵۸) مدرسو پکې (۵۸) تنو طالبانو برخه واخسته د تیر کال مقابلې په مدرسو او طالبانو کې ډیر ې ښې پایلې ولرلې او طالبانو پکې په ډیر شوق او پوره تیاري کولو سره شرکت وکړ.

د تعلیم او تربیې کمیسیون د تیر کال پشان سږ کال بیا د تقریري مقابلې اهتمام وکړ داخل دغه تقریري مقابله د موقوف علیه درجې د طالبانو ترمنځ په ((په شریعت کې کې د فقهې اهمیت او ضرورت)) په موضوع د بلوچستان او خیبر پښتونخوا اړوند مدرسو د طالبانو ترمینځ هم مهال ترسره شوه چې دخیبر پښتونخوا اړوند (۲۸) مدرسو څخه پکې (۲۸) تنو طالبانو ګډون وکړ او دبلوچستان اړوند (۴۳) مدرسو څخه پکې (۴۳) تنو طالبانو شرکت وکړ په دغه مقابلو کې شریکو ټولو طالبانو ښه په زړه پورې تقاریر وکړل په عربي، پښتو او فارسي ژبو کې چې: په دې اساس ټول ګډون کونکي پکې کامیاب وشمېرل شول.

البته د اول څخه تر لسم نمبر پورې د ښو نمبرو اخیستونکي طالبان د انعاماتو مستحق وبلل شول چې د کمیسیون لخوا ور ته په انعاماتو کې د کتابونو او نقدي مکافاتو ترڅنګ د تحسین نامو تقدیر لیکونه هم ور کړل شول.

څرنګه چې د مدرسو دمسئولینو، استاذانو او طالبانو لخوا د دغو مقابلو ښه استقبال وشو او ښې پایلې یې ولرلې نو په دې اساس د تعلیم او تربیې کمیسیون هوډ لري چې دغه قسم مقابلې په نیزدې راتلونکي کې د دار الحفاظونو دطالبانو ترمینځ په حفظ او حُسن قرائت کې او هم د مکتبونو د شاګردانو ترمینځ په مناسبو موضوعاتو او اړوند مضامینو کې ترتیب او ترسره کړي اودغه لړۍ دهیواد په داخل کې ټولو تعلیمي ادارو ته هم وغزول شي.

او پـه دې هکلـه د ولايـاتو د تعليـم او تربيـې رياسـتونو تـه هدايات ور کړل شوي دي چې د دغه مقابلو انتظام او اهتمام د داخل په مدرسو، دار الحفاظو او مکتبونو کې هم وکړي.

(۷) د تعليم او تربيې کميسيون دلائحې د(۹۳) مادې په اساس د دار الحفـاظونو دانسـجام پـه غـرض د تعليم او تربيې د کميسيون لخوا دار الحفاظونو د مديرانو او دحفظ او تجويد په برخه کې د تجربه لرونکو مشهور استاذانو يو ورځينى سيمينار جوړ او ترسره شو. تر څو ددوى د تجربو، رأيو او مشورو په رڼا کې د دار الحفـاظونو د ښـه مـنظم کولو پـه منظور يو طرز العمل او يو لړ اصول او ضوابط وضع کړل شي چې دهغو پـه رڼـا کـې دار الحفـاظونو کـې زده کونکـو طالبـانو تـه دحفـظ او تجويـد د پخنتگی سره سره د ديني ضروري فقهي اوعقيـدوي مسائلو، خط کتابت او حساب د وربښودلو اهتمام هم وشي، چې په دې برخه کې هم تر ډيره حده کار شوى دى.

په نژدې راتلونکې کې به ان شاء الله تعالى دغه طرز العمل او مقررات جوړ او د ذيصلاح مقاماتو څخه دمنظورۍ نه پس بـه د تطبيق او عملي کولو لپاره ټولو دار الحفاظونو ته ور سول شي.

او په همدې اساس د تعليم او تربيې کميسيون په نظر کې لري چې ان شاء الله تعالى د روان تعليمي کال پـه پـاى کـې د (۱۱) رجب المرجب څخـه شروع ديـوې هفتې پـه جريـان کـې د ټولـو دار الحفاظونو د کامل الحفظ فارغانو څخه مشترک امتحان واخلي او بيا په دغه امتحان کې کامياب فارغانو تـه دحفظ ښـه معيـاري او معتبر سندونه ((شهادت نامې)) هم ور کړل شي دهمدې مطلب پـه هکلـه پــه (۲۰) د ربيــع الثــاني ټولـو اړونــد دار الحفاظونــه تــه دمتحدالمال مکتوب په ذريعه خبر ور کړل شوى دى او دمکتوب سره ضميمه په دې امتحان کې دطالبانو دداخلې مخصوصې فورمې هم ور اسـتول شـوې دي چې دار الحفـاظونو بـه يـې دخپلـو فـارغو طالبانو د کوائفو سره سم ډک کړي او دنورو اجراآتو لپاره به يې د کميسيون مرکز ته را ولېږي.

(۸) د تعليم او تربيې کميسيون د لائحې د (۸۲ – ۸۳) مادو په اساس په مکتبونو کې د مروجه تعليمي نصاب د اصلاح په منظور د کميسيون لخوا د دغه نصاب د ټولو صنفونو د ټولو مضامينو کره کتنه تر سره شوې ده اصلاحات يـې راوسـتل شوې دي د کتـابونو کوم مضامين او مباحث او چې د شريعت مطهره د اساساتو يا افغاني دود او دستور سره متصادم ول هغه د يو مرتب جدول په شکل کې مشخص کړل شوي او شاګردانو ته يې لوستل منعه ګرزول شوي.

او د داسې قسم مضامينو پرځاى نور داسې ضروري او مفيـد مضامين متعين او ور ته په ګوته کړل شوي دي چې پرې دمکتب دشاګردانو علمي سويه او مسلکي معيارونه اوچتېږي او ددوى په ضروري مضامينو کې مهارتونه غښتلي کېږي.

چې دغه اصلاحات او ورسره اړوند جدولونه په (۱۳) ورقو کې ترتيب او تيار کړل شوي او دهيواد او دهيواد څخه بهر دهجرت په ديار کې مکاتبو تـه د تعليم او تربيې د کميسيون د مؤظف هيئت لخوا ور سول شوي او د تطبيق او عملي کېدلو چارې يې ترجدي څارنې لاندې دي.

(۹) د تعليم او تربيې کميسيون د لائحې د (۸۷) مـادې پـه اسـاس د مکتبونـو د ښـه مـنظم کولـو او داسـتاذانو او شـاګردانو د اصلاح او رهنمايي پـه منظور د کميسيون لخوا پـه (۱۹) مـادو کې اصلاحي هدايات او ضوابط مرتب شوي چې په دغو اصلاحاتو کې دمکتبونو دشاګردانو په مسلکي مضامينو کې دمهارت سره سره ددوى پـه دينـي او اسـلامي روحيـه تربيـت او ددينـي مضـامينو د ضروري مضامينو په حيث د رائج کولو او په دغه تعليمي ادارو کې دصالحو مسلکي ماهرو استاذانو دمقرر کولو په شمول د شاګردانو ديو نيفارم او لباس پـه اسلامي بڼـه او افغـاني دود او دستور برابـر سـاتل او د اوسـنى حـالاتو سره مطابق داسې نور ضـروري او اهـم هدايات شامل دي. چې دغه هدايات په داخل د هيواد کې او دهيواد څخه بهر په ديار د هجرت کې موجودو مکتبونو تـه د کميسيون د اړوند مؤظفينو لخوا ور سول شوې دي. د تطبيق او عملي کولو جدي څارنـه يـې د اړونـده مـديرانو، مسـئولينو او د کميسـيون د مؤظـف هيئت لخوا وخت په وخت ترسره کېږي.

(۱۰) د تعليم او تربيې کميسيون د لائحې د (۹٦) مـادې پـه اساس د کميسيون لخوا دعصري علومو ابتدائي او ثانوي مکاتبو او

عالي تحصيلاتو اړوند تعليمي ادارو او پوهنتونو کې د کار کولو لپاره دمسلکي کدرونو په شمول اشخاص مؤظف کړل شوي دي چې دغه اشخاصو دخپل مسئوليت له مخې د کار په ساحه کې يو لړ پروګرامونه ترتيب او جاري کړې دي.

په همدې سلسله کې دهيواد په داخل او دهيواد څخه بهر اکثرو پوهنتونو کې دمحصلينو حلقې او ټولنې جوړې کړې شوي دي. چې پکې اسلامي امارت سره مخلص او وفادار محصلين تنظيم شوي دي. چې همدغه محصلين پخپلو ساحو کې داسلامي امارت د سپيڅلو ديني اهدافو لپاره کار کوي، او د کميسيون لخوا دمؤظف هيئت په توسط د عالي کميسيون سره هر وخت په تماس او رابطه کې وي چې د کميسيون لخوا رهبري کېږي او ور ته لازم او مناسب هدايات ور کول کېږي.

دغه مؤظف هيئت دپوهنتونو تر څنګ دهجرت په ديار کې په لويو ښارونو او مهاجر کيمپونو کې موجود افغاني مکاتبو سره هم په دوام داره توګه په تماس کې وي، رابطې ورسره لري هلته ورځي دنږدې څخه ورسره مجالس او ليدنې تر سره کوي هغوی ادارو پشنهادات اخلي او مشورې ورسره شريکوي په ستونزو يې ځان خبروي، او د اسلامي امارت لخوا چې ددوی سره په کومو برخو کې همکاري ممکن وي کومک ورسره کوي.

د ټولو مکاتبو د اداري مسئولينو، استاذانو او شاګردانو لخوا د کميسيون ددې پلاوي هر کلی او استقبال کېږي او په ورتلو يې ډير د خوشحالی اظهار کوي او هيئت ته دخپلې خوا څخه د لوائحو او مقرراتو په تطبيق کې رضامندي ښکاره کوي او په دې برخه کې دپوره همکارۍ او اطاعت ډاډ ور کوي.

(۱۱) د تعليم او تربيې د کميسيون لخوا د روان مقدس جهاد دپاکو شهيدانو د يتيمانو لپاره دوه دارالايتامونه جوړ کړل شوي دي چې يو يې په کوټه او بل په پيښور کې موقعيت لري.

په دغه دار الايتامونو کې يتيمانو ته ديو اساسي او منظم تعليمي پروګرام مطابق د ماهرو استاذانو لخوا سبقونه ويل کېږي چې ورسره يې دسالمې روزنې لپاره هم پوره او خصوصي توجه هم کېږي. او په دغو دار الايتامونو کې د استوګنو يتيمانو د اعاشې او هم اباتې په شمول ټول ضروريات حل شوي دي او ور ته د هر موسم مطابق مناسب اسباب، وسائل او امکانات برابر کړی شوي دي چې په دواړو دارالايتامو کې دا وخت د سلګونو يتيمانو تعليم، تربيت او کفالت کېږي. په دې وروستيو کې د کوټې دارالايتام لپاره څه دپاسه (۱۴) جريبه ځمکه هم اخستل شوې ده چې ان شاء الله تعالی په نيزدې راتلونکې کې به په دغه ځمکه په اساسي ډول ښه مجهز او په اوسني عصري وسائلو سمبال دار الايتام کړل شي.

د تعليم او تربيې کميسيون په نظر کې لري چې په دا ډول ځمکه او تعمير د پيښور دار الايتام لپاره هم برابر کړي. په دواړو دار الايتامونو کې د موجودو يتيمانو سره وخت په وخت د کورونو لپاره يوه اندازه مالي کومک هم کېږي.

قدرمنو!

داوه د اسلامي امارت د تعليم او تربيې کميسيون د فعاليتونو څو نمونې چې ستاسو محترمو حضور ته په اجمالي توګه وړاندې کړی شوې په پای کې: د تعليم او تربيې کميسيون دا واضحه کوي چې ديوې خوا د تعليم او تربيې اړونده چارې ډيرې لويې او پراخه ساحه لري، او ډير کار کول غواړي او دبلې خوا په پوره اندازه د کار لپاره مناسب او ضروري وسائل او هم ميسر ندي.

نو لکه څنګه چې خو د کميسيون مسئولين او مؤظفين په فعلي شرائطو کې د خپلو امکاناتو مطابق د کار کولو کوشش کوي او په دې هڅه کې دي چې د تعليم او تربيې چارې تر ډيره حده ښې، منظمې او په صحيح توګه تر سره شي.

که چا سره هم د تعليمي چارو په هکله کومه صائبه رأيه، صحيح مشوره او سالم تنقيد وي د تعليم او تربيې کميسيون سره دې شريک کړي کميسيون يې هر کلی کوي.

و من الله التوفيق

د افغانستان اسلامي امارت د تعليم او تربيې کميسيون

گلورینې پاڼې

نسیم ته !

ملا اسدالله حنیفي

ته چې ځې د سبا باده د یثرب لور ته په تلوار
څو سلګۍ درسره ملې کړه، څو یادونه درسره کړه

څومره ښایې، څومره ښایې چې روان یې مدینې ته
د معصوم له کور کهول نه سلامونه درسره کړه

د مهجور زړګي له تله څو زګیروي درسره یوسه
د هجرت له کاشانې نه فریادونه درسره کړه

په زارو درته زاري کړم ته چې ځې د سبا باده
د مجنون له بې بانه څو سوالونه درسره کړه

څومره بخت درکړی رب دي چې یثرب ته روانیږې
د پردیسو له کوڅې نه څو یادونه درسره کړه

دغه بخت دې بختوره دغه بخت دې مبارک شه
چې ورځې د یار حرم ته دا ویرونه درسره کړه

دا سید د غرو له څوکو روانیږې چې حجاز ته
دا د اوښکو قافلې او کاروانونه درسره کړه

ته چې ځې د سبا باده دردیار د پیغمبر ته
د افغان له ورانه کوره پیغامونه درسره کړه

ورشه عرض وکړه حبیب ته د بې وزله یتیمانو
ننواتې ورته یوسه پیغامونه درسره کړه

دا والي «ه» حنیفي «ده د جانان لور ته یې لیږي
له سرو وینو ډک ډک دا جامونه درسره کړه

لاسونه

مولوي عبدالاحد حماد

ګنهم راتاو مې تر دعاء دي دا امین لاسونه
چې راچاپیر دې دي تر غاړه مرمرین لاسونه

پریږدئ دا ځانګه، دا ګلدان او دا مالیار بې پریږدئ
هسې نه غوڅ کړئ ترې ناپامه ګلورین لاسونه

شهید شفقه انتقام دې بیګا ستورو واخیست
خوني ماښام اوس ښکلوي دلمر زرین لاسونه

شاید سپرلی وي د غزا آسونه وششنېدل
چې شازلمي وهي په بریتو یا په زین لاسونه

دجال به بیرته بیا شړي له سره ونښلوي
په آریانا کې ترې غوڅ شوي دي لعین لاسونه

زیری، بلبله! مسته زرکه! بغدادي کوترې!
د پامیر ځنو ته غځیږي د نسرین لاسونه

رنګین ګلاب، زخمي غاټول او بې پروا سنځلې
شهید ګودر نه بیا راتاو کړو عنبرین لاسونه

خدای خو دې راوله طالبه یاره سترې مه شې
کابل ویلو راکړه ښکل دې کړمه سپین لاسونه

عشقه ترڅو یې کړوې لادې ارمان ونه خوت
په حماد شنه شولو دغم او دناورین لاسونه

غشي او ليندۍ

سميع الله ترون

دمجاهد استا چې غشى له ليندۍ ووځي
هغه شيبه د يو ظالم له ككرۍ ووځي

چې د جهاد جذبه په کوم اولس کې نه وي پاتې
هغه اولس له ژوندانه او نيكمرغۍ ووزي

دشهيدخورې ستا په وير کې دومره زور پروت دى
لکه دخولې نه چې ټپه د ملالۍ ووځي

چې په كابل ، برما ، بغداد او كشمير نه شو خپه
نو فلسطين به خامخا له ازادۍ ووځي

چې دوطن دناوې شال څوک په پرديو پلوري
هغه سرونه له شملو او له بګړۍ ووزي

مور دې نړۍ كې يوه بله شان نړۍ جوړوو
اعلان به وکړو دا نړۍ دې له نړۍ ووزي

په زنګنونو كې د هغه چا پښې غوځوو
د چا پښې چې له څادر او له شړۍ ووزي

د چې غشي دې بيا مخې ته په راوله
په خداى قسم دى كه ترون له شاعرۍ ووزي

دانقلاب ملګري

محمدالياس "فاتح"

راته يادېږي هم په ويښه هم په خوب ملګري
خداى زده چې چېرته رانه ورک شوي جناب ملګري

دخپل وطن له غېږې وشكول دېرزرمجبورى
پردي وطن كې تېروي شپې دشباب ملګري

دنګې ځوانۍ يې دجنګونوبلاوخوړلې
شول دبمونوپه انګار كباب كباب ملګري

هسې خوټول جهان په رنګه رنګ ملګروډک دى
خوزنده باداوزنده باددانقلاب ملګري

چېرته چې خړه مدرسه اوخړ جومات وګورم
دسترګوړنډ كې مې غوپه شي دكتاب ملګري

دزړه له تله چې دمېنې زندګي تېروي
هابه دژوندپه امتحان كې وي كامياب ملګري

دانقلاب خزانه ! دومره زياتي ولې كوې
چې رانه وړې ښاپسته ښاپسته ګلاب ګلاب ملګري

په وطن ننګ دى بياورځي فاتح دجنګ ډګرته
تياروي مستوزلموكې انتخاب ملګري



(اسم امید)

وروستيو فدايي بریدونو

دامریکا، ناټو او کابل رژیم پښې ولړزولې...

د معمول خلاف لا تراوسه دهېواد غرونه په سپینو وارو پوښلي او ساړه ژمي خپله کمبل نده ټوله کړي، د هېواد په لر او بر کې دګرمو عملياتو غړونه پورته شول

دمارچ په ۲۰مه دختيځ دلوی ښار (جلال آباد) په زړه کې دننه دولايت په مقام، د قصر په ماڼۍ او په لومړۍ امنيتي حوزه څلور فدايي قهرمانانو په حيراوونکي دقيق او کامياب بريد دکفرپال او صليب پال ائتلاف دګوډاګيانو سينو کې زړونه وچول.

بريښې چې ددغه هدفمن بريد اهداف په پوره پوځي مهارت او دقت ټاکل شوي وو، دخبرې سرچينو په وينا: دغه بريد سهار پنځه بجې شاو خوا پيل او تر پنځه ساعته کامياب مقاومت وروسته دفدايانو په شهادت پای ته ورسيد.

دمحترم ذبيح الله مجاهد له لوري سنيو ته په استول شوې خبر پاڼه کې ددغه بريد په اړه راغلي: دبريد پيل کې فدايي مجاهد (عبدالله کند هاري) له چاوېدونکو توکيو نه ډک مازدا موټر دلومړۍ امنيتي حوزې له ودانۍ سره وجنګاوه، ورپسې جوخت په سپکو اودرنو وسلو مجهز او سمبال درې تنه مجاهدين (دننګر هار عبدالرحمان، دکابل محمد ايوب او دلوګر رحيم الله) دودانۍ درې يم پوړ ته د ختلو سره يوځای د دښمن په عسکرو، د ولايت مقام په ودانۍ او دقصر په ماڼۍ دخپلو وسلو خولې ورتاوکړې او په لږ وخت کې يې ګڼ شمېر پوليسو او دلاسپوڅي دولت مامورينو ته درنه مرګ ژوبله واړوله، کله چې دغلام رژيم کومکي ځواکونو غوښتل چې دبريد ځای ته ولاړشي، په خاصه توګه واکنش په نوم قطعې دبريد ځای ته درسيدو سره سم په هغوئ د ځانګړې پوځي تاکتيک نه په کار اخيستو، چې په اړه يې آماده ګې له وړاندې نيول شوې وه دجلال آباد ښار والی ته څېرمه پښتونستان واټ کې او دقصر دماڼۍ په مخکې په درنو چا ودنو سره لويه مرګ ژوبله ورپېښه شوه، په دې سره ټول کومکي عسکر په شاه وتښتيدل. تر پنځه ساعته کامياب مقاومت وروسته جنګ ددرې واړو فدايانو په شهادت پای ته ورسيد، دمجاهد په وينا: دلومړي لاس معلومات دادي: چې دلومړی امنيتي حوزې دآمر، دواکنش قطعې معاون په ګډون ۲۹ پوليس مړه او ۴۳ ټپيان، هم دا راز ګڼو دولتي ودانيو ته زيان واوښت.

جلال آباد کې دياد بريد لوځړې ختې، په ورته ډول پلازمينه (کابل) کې ماسخوتن ۹ بجې په سرينا هوټل څو زړورو غازيانو په بريالي بريد کې کې ګڼ بهرنيان او کورنې غلامان مړه او ټپيان کړل

دیادونې وړده چې سرینا هوټل دارګ تر زنې لاندې پروت دی او یکې دخارجي ځواکونو لوړرتبه او ټیټ رتبه عسکر په عیاشیو، مستیو اوبد اخلاقیو او ساعت تیریو بوخت وي په دې وجه چې ارګ ته لنډ واقع دی، دامنیتې پلوه دنورو هوټلونو په نسبت دبهر نیانو دتفریح لپاره یوځه خوندي ځای ګڼل کیده اوتردېره بهرنیان په امنیت یې ډاډمن وو، خو مجاهدینو په برید کولو وښوده چې د خار جیانواو دهغوئ دغلامانو لپاره هیڅ ځای خوندي او ډاډمن نه دی او دمجاهدینو دپولادي عزم په وړاندې ټول امنیتي تدابیر، پلانونه او کمربندونه مات او بیکاره دي دخبري راپورونو له مخې: د سرینا په برید کې په لوی شمیر بهر نیانو او کورنیو اجیرانو ته مر ګ ژوبه رسیدلې، هم دا راز جوته شوه چې دکابل رژیم ټوله مشنرۍ له کاره لوېدلې، دا توان نه لري چې دمجاهدینو تندریزو بریدونو تاب راوړي او بهرنیان هم ښکاري چې دپښو ټینګولو په ځای زیات پام دپښو ویستلو ته لري.

په ورته تو ګه دکاپیساه په تګاب کې ددښمن په لوی کتار یوې درنې چاودنې دخوست ولایت په علیشیرو کې په کمپاین برید، دکونړ په مرکز اسعد آباد کې ددښمن په معاش اخیستونکو پولیسو برید دسر درانه زیانونه اړولي ، بیا دهېوادپه پلازمینه (کابل) دشیرپور مې حوزې اړوند کار ته سه کې دمنسوخ عیسوي دین په یوه کلیسا برید هم دښمن ته درانه زیانونه واړول، کوم چې دامریکا سفارت له لورې منسسوخ عیسوي دین ته دافغانانو ددعوتولو چارې د مختلفو نومو نو اوپلمو پر مخبیول، دکلیساه له و دانۍ سره دفدایې مجاهد(محمد زمان(پکتیا) دچاودیدونکو تو کیو د ډک موټر دجنګولو وروسته درې فدایې مجاهدینو (دمیدان وردګ زبیح الله ، دلوګر محمد اسماعیل او دکندز عبید الله) چې په سپکو اودرنو وسلو سمبال وو ودانۍ ته ننو تل او هلته په راټول شویو بهر نیانو یې دالله اکبر په ملکوتي ناره برید پیل کړ چې له امله یې لوی شمیر خارجیان مړه اوټپیان شول، داشان دنهمې حوزې اړوند په پکیتا کوڅ سیمه کې دروانو تحمیلي ټولټاکنو دکمیسیون په عمومي دفتر په یوه هدفمن برید کې درې تنو زړورو مجاهدینو (دزابل ملا محمد قاسم، حافظ قدرت الله او محمد اقبال) لخوا په برید کې ددغه کمیسیون ټول اسناد، ډیپوګان او هلته ولاړ نقلیه وسایط داو ر په لمبو کې وسول، هم په لوی شمېر د کمیسیون مامورینو ته مر ګ ژوبه واوښته.

دا یو اځې دځو په شمار بریدونو سرسري یادونه او یادابښت دی چې تر ې دا نتیجه اخیستل اسان دي چې دامریکا اوناټو یرغل په بشپړ ډول ناکام شوی دی، هغوئ چې دکومو بدو عزایمو په موخه راغلي هغه یې ترلاسه نکړل، اوس دادی دتیر دولس کلن جهاد اومقاومت په برکت دهېواد دازادۍ سپین سباون په راختو دی، غلیم دخپل ټول سازو سامان او دبدبې سره افغانان دځان غلامان نکړای شول، دیوځي کارپوهانو په وینا: که راتلونکي دوبې کې هم مجاهدینو دخپلو تعرضي بریدونو لړۍ هم داسي روانه وساتله څنګه چې په دې لنډه موده کې ولیدل شول نو حتمي او یقیني ښکاري چې بهرنیان به خامخا وتلو ته او دکابل رژیم دسقوط ته اړ کېږي لیکن دابه راتلونکي وښیي چې مجاهدین څومره کولی خپل بریدونه داسي روان او جارې وساتي، په دې اړه سرله اوس نه څه ویل ګران دي، باید مجاهدین دیته ښه ځیر اووسي چې راتلونکی بر ی تر دقیقو او هدفمنو عملیاتو پورې تړلی دی که دوئ هم داسي په دښمن دژوند کړی تنګه وساتله نو داهیله مندې ډېره لرلی شوچې خدای (ﷻ) کول افغانستان به له دې غلامانه حالت نه نجات ومومي.

دادب په ګلبڼو

دمعجزانه بهار پیروزینې او لورینې...

شمس، م.ر

پوهان وایي: ژبه مقصود اوهدف نده، بلکې دپوهاوي او ابلاغ دپاره وسیله ده، چې د ظاهري او معنوي دواړو له پلوه لوی اهمیت لري، نړۍ کې خپلواک او ازاد ولسونه اوقومونه چې د کومو ځانګړ تیاوو او صفاتو په لرلو له نورو جلا پېژندل شوي، په هغو کې یوه ژبه هم ده، د ژبې په واسطه انسان خپل "مافی الضمیر" څرګندوي او له دې لارې خپلو سوچونو اوفکرونو ته دلفظونو قالب وراغوندي.

نن سبا دژبو اهمیت نور هم زیات شوی، په دې چې د تاریخ او ماضي نه دیوه ولس دپریکون اوقطع کولو لپاره تر ټولو لنډه او اسانه لار داټاکل شوې چې له هغه نه خپله ژبه هېر کړای شي اوپه ځای یې پردۍ ژبه وربانديې تحمیل کړای شي، مشهور مؤرخ "ټاین بي" پخپل کتاب (مطالعه تهذیب) کې لیکلي: پخوا څو پاچایانو د مخالفو هېوادو اشغالولو وروسته دهغوئ کتابتونونه و سېزل مثلا: اندلس کې عیسایانو دمسلمانانو ستر و کتابتونو اوعلمي خزانو ته اور واچاوه، ددې نه به دهغوئ موخه د خپلې ماضي اوتاریخ نه دولسونو پریکون اوبېلتون وو، خو ترکیه کې مصطفی کمال (اتاترک) ددې هدف ته درسیدو لپاره بنه آسانه لار غوره کړه، دکتابتونو سېزلو دتور اخیستو په ځای هغه دترکي ژبې لیکدود (رسم الخط) بدل کړ، که څه هم کتابتونونه یې خوندي پرېښودل، خو راتلونکي کې له هغو د څو سپین ږیرو پرته بل چا ګټه نشوای پورته کولی.

نن سبا دمصطفی کمال دلارې نه هم ډېره خطرلرونکې لار غوره شوې، هغه داچې کتابتونونه به پخپل حالت خوندي پاته وي، لیکدود به هم هغه وي، لیکن دخلکو لپاره به په خپله ژبه لیک لوست اوخبرې اجنبي وي، دخپلې ژبې دعلمي او ادبي الفاظو په لیکلو او لوستلو کې به یومخ کمزورې حسوي، له خپلو علمي او ادبي سرچینو نه به ګټه نشي پورته کولی، څنګه چې نن په زیاترو اسلامي هېوادو کې مسلمانانو دخپلو مورنیو او سیمیزو ژبو په ځای دانګریزي لیک لوست ته په مخه کولو، په عامو خبرواترو کې انګریزي کلمې بیدریغه کاروي اوپرې ویاړې هم.

بنکاره ده چې هر کله یو ولس له خپل تاریخ او ماضي نه جلا شوی، هغه د خپلو تاریخي او کلتوري میراثونو نه محروم شوی، له خپل ملي هویت او قدارونه یې لاسونه وینځلي اوعملاً د پردي هویت قالب ته په لوېدو دمر ګ تر کومې لاړ دی او دملي ژوند نبضونه یې دتل لپاره درېدلي، دترک مصطفی کمال مثال وړاندې تیر شو، هغه ددې لپاره چې له ځانه لوېدیځوال خوشاله کړي، دترک قام ددین اوملي اقدارو سره د مخه بنې کولو پخاطر دترکي ژبې لیکدود تغیر کړ، دتعجب وړ داچې هغه دا ګام دترکانو دملي هویت خوندي ساتلو په پلمه پورته کړ، حقیقت کې هغه دترک ولس په ملي هویت اودیني ارزښتونو خاورې امبار کړې، چې له امله یې تر ننه دترکانو په تندو د خوارۍ او رسوایۍ داغ پاته دی دهغه دغلامانه کردار داحشر شو چې ترکانو لوېدیځ ته دسوال خولې غوړولې اوترې د ناټو په سازمان کې غړیتوب غواړي، په منتو نو او زاریو یې لوېدیځوالو ځانونه کانه کړي کله یې په یوه او کله په بله پلمه تیرباسي، عظیم الشان قرآن څومره ربنتیا وېلي:

ها أنتم هؤلاء تحبونهم ولايحبونكم

هغوئ هغه خلک دي چې تاسي دوئ غواړئ ليکن هغوئ تاسي نه غواړي.

له پورته تمهيد وروسته را به شو ديته چې د ژبو ساتنه داسلامي شريعت داحکامو په رڼا کې څه ډول ارزښت لري؟ او اسلام داد ب دودې او ترقي لپاره څه کړي؟

په ټوله کې علوم دوه ډوله دي، ۱- ديني ۲- مادي.

دديني علومو غرض او غايت دمادي علومو دغرض او غايت نه جلا دي.

دديني علومو غرض دالله (جل جلاله) درضاحاصلولو سربيره دبشريت سمه رهنمائي او ورته سهي لار ښودل دي .هر چې مادي علوم دي! دهغو غرض د واضع او جوړونکي دذهن زيږنده دى . که دهغه ذهن سالم وي، علم هم سالم زيږي او که ذهن يې خراب وي علم هم خراب زيږي . په بله ژبه:دبشر له ذهن تراشلي علوم دغرض اوغايت له پلوه ياددين سره متصادم وي او يا موافق. که متصادم وو، د حکم له پلوه پکې اشتغال ناروادى، لکه موسيقي چې نن سبايې دهنريت په نوم دجلا فن بڼه موندلې. پکې اشتغال داسلامي شريعت لارښوونو له مخې ناروادى، که موافق وو لکه: رياضي، منطق، فلسفه، ادب، شعرو شاعري، نثر ليکل اوداسي نور... يادول او پکې اشتغال روادى، تردې که يو تن پورته ياد علوم ددين تقويه کولو په نيت حاصلوي،غوره (مستحسن) عمل دى.

بل نن سبا زياته اړينه ده چې مسلمانان دديني علومو ترڅنګ دمادي او دنياوي علومو وسله هم پخپل لاس کې ولري. څنګه چې اسهغهلام نړيوال دين دى. دنړۍ په هرقوم او هرې ژبه غږيدونکو له منځه لوى شمير خلک مسلمانان دي،په خاصه تو ګه هغه ژبې چې ټول ويوونکي يې مسلمانان دي،دهغو ساتنه، پالنه او پکې داسلامي علومو خدمت شرعي مسوليت او وجيبه ده.بايد مسلمانان دهغو په ساتنه کې داستطاعت ترحده ونډه واخلي، د اسلامي نړۍ ثقه عالم مولانا اشرف علي تنهانوي (رحمه الله) ته په هندوستان کې دارد و ژبې کانفرانس جوړونکو په کانفرانس کې دګډون بلنه ورکړه،نوموړي هغوئ ته پخپل يوليک کې وليکل:

ستاسي ليک په لوستو مې زړه کې خوښښت راغی، چې درسره دې خدمت کې برخه واخلم، ليکن د عملي خدمتو نو صلاحيت او قوت په ځان کې نه وينم ، غالباً يو خاص خدمت چې هغه ته چا پام ندی اړولی، دادی چې:ددې تحريک شرعي درجه څه ده؟ ددې ضرورت له مخې چې دې مسلې دتمدن او قوميت په ځای دېره دمذهب بڼه موندلې . فکرمې وکړ، چې په لنډو دول څه وليکم او تاسو ته يې درواستوم:

په ليک کې دڅو اياتونو ،دحديث اوفقهي روايتونو راوړو وروسته يې د شرعي حيثيت په اړه نتايج اخذ کړي. دتمهيداو سريزې وروسته حضرت رحمه الله ليکي:معلومه شوه چې دارد و حفاظت (دارد و ژبو لپاره)ددين حفاظت دى. په دې وجه دغه حفاظت داستطاعت تربريد طاعت او واجب دى. دقدرت باوجود په په اړه يې غفلت او سستي معصيت او په اخرت کې دمواخذې موجب ګرځي (امداد الفتاوى ۴ټوک ۲۵۵مخ)

معلومه شوه چې دمسلمانانو دژبو ساتنه ددې لپاره چې پکې ددين حفاظت اوساتنه هدف وي، په ليک لوست او ترقي کې يې ونډه دوس تر حده شرعي وجيبه اومسوليت دى.

روښانه ده چې داسلام وراندې عربانو خپل اولادونه له ښارو بيرون کليوالو سيمو ته ددې لپاره استول ،څو هغوئ د کليوال چاپيريال نه په ګټه سوچه عربي ياده کړي . دښارونو په نسبت د کليو الو سيمو ژبه د نورو ژبو سره له خلط ملط نه پاکه وې، دعرب کوچنيان چې کله په خبرو راتلل شاوخواچاپيريال به ورته خالص عربي او دنورو ژبو له اغيز صاف وو، دې لړ کې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) هم دحضرت حليمه (رضي الله عنها) سره له مکي نه ليږل شوی و. څو هلته په خالص عربي چاپيريال کې عربي ژبه ياده کړه.

کله چې درسول الله (صلى الله عليه وسلم) بعثت وشو، په عربو کې يواځې هغه سړی ممتاز او محترم وو ، چې هغه به په ادب کې ترنورو پيو اوماهرو، په ټولنه او خلکو کې يې درناوي زيات و. کوم سړی به چې له ادبي پوهې نه محروم اوبې برخې و. هغه ته يې په سپک نظر سره کتل. په ټولنه او خلکو کې چندان حيثيت يې نه لاره اګر که نور به هوښيار ،عقلمند، زيرک او له ډول ډول صلاحيتونو نه برخمن وه. دعزت منصبونه يواځې هغه چا لپاره وو چې هغه په ادب کې نوميالی او وتلی وه.څنګه چې ددې لاندې کيسي معلوميږي:

درسول الله (صلى الله عليه وسلم) نيکه عبد المطلب اويو بل رئس ترمنځ په مشر تابه سيالي وه، هغه بل تن ويل زه له تا اهل يم. دواړو ترمنځ

دمناظرې اوبحث ورځ تعين شوه او پرېکړه وشوه که هر يوه خپل سيال ته په خبرو او ادب کې ماته ورکړه هغه به دقوم سردار اومشروي، دمناظرې او بحث وروسته، درېمګړي عبد المطلب دمناظرې وروتکی اعلان کړ اومقابل تن ته يې وويل:

ايا ته دداسي شخص سره دسيالي کوي، چي دادب روان سمندر او عربي ژبه يې دکاله وينزه ده؟

ادب سره عربو دزياتې مينې په وجه دومره ترقي ورکړې چې په هره قبيله، هر کلي ،هره تپه او هره سيمه کې ادبي بندارونه جوړول، دشاعرانو ترمنځ سيالی او مقابلې کېدې، مقابلو کې برې موندونکي شاعران دېشارونو مقابلو ته بيول کېدل، د"عکاظ" مشهور بازار دهمدې شعري او ادبي مقابلو لړۍ وه، دديني مدرسو په درس نظامي کې مروج کتاب "سبعه معلقه" (اووه قصيدې) ترننه دهمدې ادبي بازار (سوق عکاظ) محصول اوياد ګار دی.

کله چې رسول الله (ﷺ) دالله (ﷻ) داستازي په حيث هغوئ خپلې اتباع ته وبلل، دود سره سم هغوئ دمعجزانه ادب غوښتنه وکړه، الله (ﷻ) درسول الله په ژبه داسي کلام نازل کړ، چې دادبي شان يې په وړاندې عرب عاجزشول، دډېرو په زړونو کې دمقابلې فکرونه ګرځېدل، خوله وس يې پوره نه وه، تردې چې عظيم الشان قرآن ټول انسانان اوپيريان چيلنج کړل:

قل لئن اجتمعت الانس والجن على ان يأتوا بِمِثلِ هذا القرآن لايأ تون بمِثله ولو كان بعضهم لبعضٍ ظهيرا...

که انسانان او پيريان جمع شي په دې چې د(قرآن) مثل راوړي، هيڅکله به يې رانه وړای شي اګر که له يوبل ملاتړي وي (بني اسرايل ۸۸ايت)

هم دارنګ دهود سوره ۱۳ ايت، او دبقره سوره ۲۴، ۲۳ايتونو کې دعربو ټول اديبان او شاعران ننګول شوي، که دوئ ته شک وي، په هغه کلام کې چې مونږ پخپل بنده نازل کړی دی نويوسورت دې دهغه پشان راوړئ، خو دعظيم الشان قرآن دمعجزانه اثر په وړاندې دعربو ټول شاعران او اديبان مخ په سجده شول، تردې چې په ډېرو دومره زيات اثر وشو، چې دشعرويلو نه يې توبه ووېسته، لکه نوميالی عرب شاعر "وليد بن ربيعه" چې دخپلې معر کة الارا معلقې په وجه په ټولو عربو کې شهرت لاره، کله چې قرآن پاک هغه واريده، دومره متاثر شو چې دقرآن په مقابله کې دکلام راوړل خولړي خبره دشعر ويلو يې توبه ووېسته اوياته ځلويښت کلونه يې په اسلام تير کړل په دغه موده کې يې يواځې يو شعر وليکه هغه دادی:

ماعاتَبَ الحر الکريم کنفسه
والمرء يصلحه الجليس الصالح

او داغاني په روايت:

الحمد الله اذ لم يأتني اجلي
حتي لبست من الاسلام سربالا

ددېنه علاوه داسلام راوړو وروسته په ټول ژوند کې شعر ندی ويلی هر کله به چي ترې دشعر ويلو غوښتنه وشوه دعظيم الشان قرآن تلاوت به يې شروع کاوه او فرمايل به يې... ابد لني الله خير أمنه.

دوينا سمندر:

دعظيم الشان قرآن دمعجزانه صنعت اعجاز نه علاوه پخپله رسول الله (ﷺ) دطبعي فصاحت روان سمندر وه په هره خبره اوجمله يې دفصاحت او بلاغت نوی، نوی باب ليکه اوفرمايل يې: اوتِيتُ جوامع الکلم... زه له جامعو کلمو اوجملونه برخمن ګرځول شوی يم. اودعربي مشهورې متولې (کيفما کان الکبير صار صغير علی أثره...) ته په پام: درسول الله (ﷺ) ملګري (صحابه هم دادبي محفلونو نوميالي وو، دعربو شاعرانه سياليو او دعکاظ بازار ادبي بهير په وجه دهغوئ دننه دادب ذوق راټو کېدل طبعي وو ،رسول الله (ﷺ) دهغوئ ددې ذوق هڅونه اوقدرونه کوله لکه يوه ورځ يو ه صحابي "کعب بن زهير" (رضي الله عنه) درسول الله (ﷺ) په ستاينه کې قصيده ويله کله چې هغه دا بيت ووايه:

ان الرسول لسيف يستضاء به
مهند من سيوف الله مسلول

بيشکه رسول الله (ﷺ) يوه داسي توره ده، چي ورنه رڼا اخستل کېږي او دکفارو لپاره له تيکي وتلې.

رسول الله (ﷺ) هغه ته په انعام کې خپل څادر ورکړ، کوم چې بيا له هغه نه حضرت معاويه (رضي الله عنه) په شل زره درهمه واخيست (مسند حاکم) نويه دې ډول به رسول الله (ﷺ) دهغو صحابه وو هڅونه کوله چي دشعر له ويلو او ادب سره دهغوئ مينه وه. البته رسول الله (ﷺ) به هغوئ ترغيبول چې بامعنی اشعار ووايي، دهغو شعرونو له ويلو ډډه وکړي چې تش مقفه او مسجع الفاظ وي خو بې معنی ! په دې اړه دحديثو په

ذخیره کې درسول الله (ﷺ) لخوا مدحیه کلمات او الفاظ موندل کېږي، مثلاً:

(ان من الشعر لحکمة..... الحدیث)

بیشکه ځینې اشعار بامعنی وي

(ان من البیان لسحرا الحدیث...)

له شبهې پرته په ځینو ویناوو کې دجادو اثر وي.

ددې نتیجه دا شوه چې دادب په میدان کې صحابه وو بامعنی اشعار ویل، په دې سره یې دجاهلیت د دورې ډېر لوی نومیالي شاعران او خطیبان هم له ځان وروسته پرېښودل، په دې لړ کې دصحابه وو هغه مناظرې، قلمي معرکې، اوادبي بحثونه که راټول شي باور دی چې کاغذ به ختم اوقلم به ستړی بشپړ به نشي. دنهج البلاغه مصنف دحضرت علي (رضی) دویناوو ټولګه لیکل پیلکړه ترې پنځه ضخیم ټوکونه تیار شول.

ددې څخه خپله اندازه کېږي چې داسلام په لومړي دور کې ادب ته څومره پاملرنه شوې، او صحابه وو دخپلو ګڼو مصروفیتونو باوجود ور ته څومره وخت ور کړی وو؟ هم داراز دقلمي جهاد په میدان کې صحابه وو کومې کار نامې تر سره کړې؟ او څومره معر کې کړي؟ په دې اړه بحث اوږدول شاید دلته شونی نه وي. البته دیوې واقعې په راوړو اکتفا کوو:

دهجرت په نهم کال محرم میاشت وه رسول الله (ﷺ) بشیر بن سفیان عدوی (رضی) دز کاتونو راټولولو لپاره یوې سیمې ته واستاوه، دهغه ځای خلک ور کولو ته تیار شول خو بنو تمیم مزاحم شول هغوئ و ویل: په الله سوګند چې له دې ځایه به یو اوښ هم بونه ځي، او له توروسره راووتل، بشیر ددې په لیدو راغی، رسول الله (ﷺ) د "عیینه بن حصن فزاري" (رضی) په مشرۍ پنځوس کسان دسټیا په نوم سیمې ته ولیږل چیرې چې بنو تمیم اوسیدل، داسیمه له "جحفه" نه اوولس میله په فاصله پر ته وه، دشپې صحابه وو په هغوئ چاپه واچوله، یوولس سړي، یویشت میرمنې اودیرش کوچنیان یې ونیول او مدینې ته یې بوتلل، بنو تمیم مجبور شول او دلس تنو وفد یې رسول الله (ﷺ) ته واستاوه، کله چې مدینې ته ورسیدل درسول الله (ﷺ) دحجرې له شاه نه یې غږ وکړ اې محمد (ﷺ) راووزه! مونږ سره په شعر کې مقابله وکړه زمونږ مدح زینت ده او ذم مو عیب دی، رسول الله (ﷺ) وفرمایل: دا خو دالله شان دی، بیا رسول الله (ﷺ) لمونځ وکړ، دلمانځه وروسته هغوئ رسول الله (ﷺ) ته وویل: مونږ دمفاخرې لپاره راغلي یو ته زمونږ شاعر او خطیب ته دوینا موقع ور کړه، رسول الله (ﷺ) وفرمایل: اجازه ده، دبنو تمیم عطاربن حاجب پورته شو هغه فصیحه اوبلیغه وینا وکړه، بیا رسول الله (ﷺ) ثابت بن قیس انصاري (رضی) ته وویل پور ته شه دوئ ته ځواب ووایه، سملاسي ثابت (رضی) ودرید فی البدیهه یې اوږده وینا وکړه او دبنو تمیم دخطیب په ټولو دعوو یې مدلل نقد وکړ.

بیا "زبرقان بن بدر" یوه قصیده کې خپل مناقب او ویاړونه بیان کړل، رسول الله (ﷺ) حضرت حسان (رضی) ته وفرمایل: ته دوئ ته ځواب ووایه! حضرت حسان (رضی) هم فی البدیهه قصیده وویله، په دې سره په هغوئ دمسلمانانو رعب پریوت او "اقرع بن حابس" پور ته شو هغه وویل: سو ګند په الله! ستاسو خطیب زمونږ له خطیب اوستاسي شاعر زمونږ دشاعر نه لوی شاعر دی بیا ټولو اسلام قبول کړ، رسول الله (ﷺ) ټولو ته ډالۍ ور کړې اوهم یې دهغوئ ټول قیدیان ازاد کړل (زرقاني ۳ټو ک ۴۵،۲۴مخ)

درسول الله (ﷺ) ددې لوړینو په نتیجه کې داسلامي خلافت په ټولو دورو کې دادیبانو قدرونه کېده تر دې چې دبنو امیه وو دربار ته دنورو نومیالیو ادیبانو دټولو اتلو سربیره مشهور نصراني ادیب او شاعر "اخطل" هم راته او په هر کلي بدرګه کېده او دهغه مهال په مقربو درباریانو کې شماره، دعبد الملک بن مروان په څېر پاچا ته "اخطل" داذن غوښتو پرته ننوت، هم داشان "فرزدق" او "جریر" ددغه پیر دادب ځلاند ستوري وو، داسلامي نړۍ تر هر کونج او برخې دهغوئ دشهرت هنګامه خوره وه، هغوئ ته دادبي استفادې لپاره دلرې لرې سیمو نه دشعر او ادب مینوال راتلل، په حکومتي تشکیلاتو کې "دیوان الانشاء والرسائل" په نوم څانګې اداره وه، چې دتقابل اصولو ته پرېام نومیالي او لوی ادب پوهان اوشاعران ګومارلي وو، هغوئ به په شعر، نثر، بلاغت، معاني، بیان او په خطاطۍ کې ځوان استعدو دادونه روزل، هغوئ په شعر، نثر او ادب کې وخت په وخت نوښتونه راوستل، په زړه پورې اسلوبونه اوسبکونه یې په ګوته کول، دادبي اصولو اوقواعدو جوړولو لړ کې یې بېلابیل نظرونه ور کول، نومیالي قواعد پوه "عبد الحمید" هم په دې څانګه کې دنده سرته رسوله، د امیه وو له زوال پسې دعباسیانو دوره کې دعربي ادب ترڅنګ دعجمي ادب دترقۍ اوپر مختګ هڅې هم پیل شوې اودخلافت تر څارنې لاندې دسیمزو عجمي ژبو دادبي ودې او ترقۍ لړۍ پیل شوه، په دې توګه دعربي ادب ترڅنګ عجمي ادب هم دترقۍ پړاوونه ووهل، په خاصه توګه فارسي

ژبه او ادب خو ډېر وځلول شو. ایراني مسلمانانو دخطاطی، فن او فارسي ادب دعروج اسمان ته ورساوه، له همدلته نه دعربې ژبې او ادب وروسته فارسي او ایراني ادب دخلافت تر بیرغ لاندې ګڼو ښارونو اوسیمو ته تیت اوخور شو، هم دا راز دفارسي سربیره تر کې ژبې او ادب هم دعباسیانو په دربار کې دتر کانو دځواکمن نفوذ او واک په وجه د ارتقاء په لور یون پیل کړ، ګڼ تر کي ادیبان او مفکران یې پیدا کړل.

پښتو ژبې او ادب هم املائي ،انشائي او علمي پانګه داسلام او عربي ژبې موندلې، اسلامي دورې ور ته ګڼې ظاهري او معنوي ښکلاوې ښښلي او ډېر څه یې له اسلامه ترلاسه اویاد کړل له دې وجې دپښتو په املاء او انشاء کې دیني او عربي رنګ جوت تر ستر ګو کېږي، روحاني بزر ګانو اومشایخو په پښتو کې دخپلو اصلاحي موعظو او ارشاداتو بهیر په پیلو لو یومخ دپښتو ادب په ترقي، کې د مخکښو قایدانه رول په تر سره کولو سره پښتو ادب ته آفاقي ژوندون وبابښه

افسوس چې نن ورځ د همدې ژبې په املاء انشاء اولیکلو کې دیني قشر کمزوری لیدل کېږي کومه چې د دیني علماوو او پوهانو دقلموال کردار په بر کت تر او سني ځایه رسیدلې په ور ته تو ګه فارسي ژبه هم نن دديني لوري لپاره په اجنبي کیدو له پامه غورځیدلې دوخت او حالاتو غوښتنه داده چې دیني حلقات باید دوخت او زماني نزاکتونه در ک کړي، نن ورځ میډیا او عامه ابلاغ دخلکو ، ولسونو او پر ګنو په جوړولو او له ځان سره مل کولو کې اساسي رول لري، داسلام دښمنان هڅه کوي مسلمان ملتونه دمیډیا ترپوښښ لاندې بې لارې کړي، ورباندې انحرافي افکار تحمیل کړي، ددې لپاره ضروري ده چې مسلمانان پخپلو ژبو کې دديني معلوماتو زیاته پانګه خوندي کړي.

افسوس! یوشمیر خلک ددې په ځای چې هغوئ پخپلو ځانو نو کې دا توامندي او حوصله پیدا کړي چې په دې تو ګه دمسلمانانو د ملي او شرعي وجود ساتنه وکړي، سرچپه به لګیاوي کوم څو ک چې په دې اړه کار کوي او خپلې شپې روڼوي، پرې نیوکې کوي او کارو ته یې دعبث کار په بڼه ګوري، هغه خبره رښتیاده چې وایي: په افغاني ټولنه کې چې هرڅومره ډېر کار کوي هومره به خلک او ر قیبان درپسې ډېرې خبرې کوي او که لږ کار کوي نو لږې او که هیڅ هم نکوي هیڅو ک به در پسې څه نه وایي، نن ورځ یوه ستونزه داپیښه ده چې په لوی شمیر ځوان ډېر دیو ژبو د یادلو سره زیاته علاقمندي ښیي لکه دانګریزي ژبې یادلو ته لور ته میلان مخ په ډېر یدودی، دانګریزي ژبې اهمیت پخپل ځای سهي دی، یادول یې یو مخ ناروا عمل ندی، ستم دادی چې انګریزې لوستي ښاغلي دپښتواو فارسي په ویلو اولیکلو شرم احساسوي !حال داچې دازادو ولسونو نښه دانده دا دغلامانه ذهنیت عکاسي ده ، په نوره نړۍ کې خلک په پردیو ژبو غږېدل شرم ګڼي، هم هغه لوېدیځ چې داسلامي نړۍ دجدت پالوته دریا منار ښکاري ،هلته هر ولس یواځې دخپلې ژبې په ویلو ویاړي اوپه بله غږېدونکو نه نفرت کوي، مشهور عرب اومسلمان لیکوال او عالم علامه " شکیب ارسلان" (رحمه الله) دمسلمانانو دزوال په اسبابو او لاملونو کې دیته په اشاره لیکلي:

ملحدان دپخوانیو رسمونو او عقایدو په بیخ کنې او له منځه په وړلو لګیادي، هغوئ هڅه کوي چې اسلام اومسلمانانو ته له دې لارې نه زیانونه ورسوي، په ور ته تو ګه متعصب او تنګ نظري خلک هم دهیڅ مصلحانه ګام اوخوځښت منلو ته تیار ندي، هغوئ ته دهرې نوې خبرې منل موجب کفر عمل بریښي او اسلام ته یې په زیان او تاوان تعبیروي، حقیقت دادی چې دادواړه ډلې داسلام او مسلمانانو په خیر ندي او دمسلمانانو په زوال کې دواړه مهم نقش لري، ملحدان اوماده پرستان مسلمانان له غرب سره دومره نژدې اویوځای ول غواړي، چې وروسته داتوپیر او تمیز ګران وي چې اوس په دوئ کې غربي کوم دی او مسلمان کوم؟ غربي تمدن او تهذیب کې دکیمیاوي مادې پشان داسې تحلیل شي، څو دغربیت پر ته بل څه پاته نشي، حال داچې دفطرت قانون دادی چې هر ولس اوقوم باید خپل ملي اقدار او عقاید په ټینګه وساتي، لار ښئ! لوېدیځ کې هر ولس اوقوم په دې مصر دی چې هغه دې پخپل پخواني اصلیت پاته وي، انګریزان کوښښ کوي چې انګریزان پاته وي، فرانسویان غواړي یواځې فرانسویان وي، جرمن په جرمني قناعت لري، دهر ولس کوښښ دادی چې خپل ملي خصوصیات پر ښېږدي، ددې ذهنیت په وجه نړۍ کې ډېر ووړو، ورو قومونو هم له ډېرو لویو قومونونه ازادي ترلاسه کړه اوپه همدې هغوئ ژوندي پاته دي .

له لیکوال او سیاسي تحلیلګر بشاغلي

خبیر احمد مجاهد سره

د روانو تولنیزو کنو په اړه مرکه

پوښتنه :

ښاغلی مجاهد ! له هر څه وړاندې در ته هر کلی وایو ، تاسو شاهد یاست چې امریکایان او نور یرغلګر څواکونه له افغانستانه په تیښته دي ، تجربې ښیي چې اشغالګر څواکونه همیشه هڅه کوي له تیښتې وروسته هم په پرې ایښي هیواد کې خپل نفوذ په یوه شکل وساتي ، دې ته په پام سره به د تښتیدونکو اشغالګرو معامله له افغانستان سره څه او څنګه وي ؟

ځواب

وروره ، هر څوک په دې خبره پوهیږي چې امریکایانو د تیرو ۱۳ کلونو په اوږدو کې هم په پوځي اوهم په نورو ډګرونو کې څومره یې چې په وس پوره وه خپله زورازمایی اووحشت وکاراوه ، په زرګونو افغانان یې له تیغه تیر کړل اوپه لکونو یې شکنجه کړل ،همدارنګه دوی په دغه جګړه کې نیږدې ۷ سوه ملیارده ډالرو لګول ، دافغانستان د تجزیې دسیسې یې په کار واچولې ، دډالرواونورو شیطاني امتیازاتو په بدل کې یې افغانان وهڅول چې له دین ،غیرت اوافغاني فرهنګ څخه مخ واړوي ، خوبیاهم ناکام اوشرمنده وګرځیدل. ماته خو داسې کوم فشار او جبر نه ترسترګو کیږي چې امریکایانو هغه پرې ایښي وي اوپاترې هیرشوي وي ، بلکې هریوه یې دلته تمرین کړ ، ولې نتیجه یې برعکس اومنفي وه.

تاسي وګورئ امریکایان په هغې اردو هم دیوې لحظې لپاره باور نلري چې ملیاردونه ډالرېې پرې ولګول اوخاص دهمدې لپاره یې وروزله چې څنګه دامریکایی ګټو اومنافعو لپاره جګړه وکړي اوافغانان ووژني اودجنګ لمبې بلې وساتي ، خواوس امریکایان حتی دې ته ندي تیارچې خپل هغه خپل فرسوده اواستعمال شوي پوځي تجهیزات هم ورکړي.زماپه اند امریکایان اوس صرف دامریکیانو ناولي پروژه ترمخ لري چې که امریکایان ووځي نودوی به له افغانانو سره جنګ کوي ، خو هغه هم الله تعالی دافغان ولس په همت د ۲۰۱۴ کال له اختتام وړاندې رسوااوله شکست سره مخ کړل اوهرځای مجاهدین په بریالي ډول لګیادي دملت په مرسته اودمخوروپه همکاری دامریکیانوجرړي له بیخه وباسي ، نوزه فکر کوم چې امریکانو په دې هیواد کې بشپړ مایوسه شوي او حوصله یې بایللې ده که امریکایان وځي په افغانستان کې کومه داسې بنیادي سرمایه ګزاری نه لیدل کیږي چې دوی به پرې شخوندووهي اودهغودګټو لپاره به بنسټیز رول ولوبوي ، ځکه امریکایانو له خپلوهغو اجیرانو سره هم کومه وفاداري ترسره نکړه چې هغوی له دین ،ایمان ،غیرت اودهیواد له لوروګټو هم ورته تیر شول.

يوه خبره چې ډيره مهمه ده داده چې امريکايانو داسې تبليغ کړی وو چې په افغانستان کې ددوی په مقابل کې تنها په جنوب کې مقاومت روان دی، خو داسلامي امارت پراخې جهادي ستراتيژۍ دغه زهرجن تبليغات هغه وخت شنډ اوبې بنياده وګرځول چې دجهاداوقربانۍ لړۍ له څو کلونوراهيسې په ټول هيواد کې که هغه جنوب دی که شمال په شدت اوګډه هم اهنګۍ پرمخ روانه وساتل شوه، په دې معنا چې اوس تنها په هلمند، کونړ اوپکتيا کې اشغالګر اوددوی په مزدورانوبريدونه نکيږي، بلکې په بدخشان، مزار، فارياب اونورو سيمو کې هم دښمن درانه زيانونه ويني اوترينه کډه په شابربښي.

پوښتنه

داډيره موده په رسنيو کې د مسؤليتونو دانتقال په اړه تبليغات کيدل، دغه راز دکابل چارواکو هم له څه مودې راهيسې داسې اکتونه پيل کړي، چې غواړي ځانونه خپلواک اوله سپينې ماڼۍ سره په تقابل کې وښيي، ستاسو په باور آيا دارګ واکمن په خپلو پريکړو کې خپلواک دي؟

ځواب

امريکايان له تيرو ۲ کلونوراهيسي هلې ځلې پيل کړي چې په افغانستان کې په خپلوټولوناکاميواوفجايعوباندې پرده واچوي اوځان ولس ته په اصطلاح سپين بازاوغيرمسؤل وښيي، اوټوله پړه په خپلو اجيرانوروغورځوي چې دادوی وو چې سم مديريت يې ونشو کړای، دافغان ولس ملاتړيې ترلاسه نکړ اويايې دافغانستان دبنيادي بيارغونې په برخه کې له خارجي مرستو ځخه مناسبه ګټه پورته نکړه، همدارنګه امريکايان په دې لټه کې دي چې دکابل دارګ واکمن له صحنې وباسي اوپرځای يې نور امريکايي اجيران رامخې ته کړي اوافغانانو اونړۍ ته ديوتحول اوبدلون فکرور تبليغ کړي، خوله بل لوري بيادارګ اوسني واکمن هم په دې خبره پوه دی چې نوريې کډه په شاده اودامريکايانو په دردنه خوری، هغوی هم دخپلوورستيوشپو اوورځوپه درشل کې (ستاپه خبره څه اکتونه شروع کړي)، داستقلال اوخپلواکۍ شعارونه ورکوي اود افغان ولس په حق کې دخواخوږي يوڅو توري وايي :زماپه فکر دامريکااودارګ دواکمنو دغه ټول حرکات مصنوعي بڼه لري، دافغان ولس په حق کې يې دښمني اوکرکه هماغسې موجوده ده، دواړه جهتونوپه ګډ تفاهم دافغان ولس په زخمونومالګې دوروي ،دتيرو۱۳ کلونوپه اوږدو کې چې څومره جفاوې اوغدارۍ دافغانوپه حق کې ترسره شوي امريکااوګوډاګيان يې ټول سره شريک دي افغانان بايد دغو مسايلو ته سطحي ونه ګوري بلکې دامريکااودارګ داجيرانو دتيرو ۱۳ کلونو جنايتونه اوجفاوې يوه يوه په يادولرلو کې ولري.

همدا اوس چې دارګ ميشتو مياشتني تنخوااو جيب خرڅ دامريکالخوا ورکول کيږي، نو څرنګه به دوی خپلواک وبلل شي، زما په فکر امريکايان غواړي د شورويانو تجربه تکرار کړي هغوی هم کله چې دتيښتې اراده وکړه نو خپل ګوډاګي ډاکټر نجيب ته يې واک وسپاره او وروسته په داسې حال چې دهغه مرسته او ملاتړ يې کاوو، ظاهرا يې داسې ښودله چې هغه خپلواک وښيي ترڅويې په افغانانو ومني، اوس هم امريکايانو هماغه لوبه پيل کړې مګر افغانان چې دامريکا اجيران پيژني شايد په داسې تزويرونو ونه غوليږي.

پوښتنه

ستاسوپه نظر په افغانستان کې د انتخاباتو پروسه به تر کومې کچې يوه واقعي او ربښتينې پروسه وي، آيا دا انتخابات به په خپلواکه توګه ترسره شي او که به د سپينې ماڼۍ د ګټو لپاره استعمال شي؟

ځواب

تاسې وګورئ چې دغو جعلي انتخاباتوته څه ډول ځيرې غوره شوې، هغوی چاتمويل کړل اود کمپاين چلولولګښتونه څوک ورکوي اوبيا څوک دچالپاره له خپلې کانديدۍ څخه لاس په سر کيږي، بهرحال.

مهمه خبره داده لکه څه ډول چې دافغانستان اسلامي امارت په ورستي اعلامیې کې هم ورته اشاره شوې، چې ټاکنې وار له مخه په سپینه ماڼۍ اوپادامریکادملي امنیت په ودانیو کې ترسره شوي چې دکرزي بدیل به څوک وي اوکوم نوعه کاري ټیم به ورسره کار کوي. په افغانستان کې دغه کمپاینونه ټول نمایشي دي، دامریکاددفاع دمخکیني وزیر (رابرت گیتس) په خپل تازه چاپ کړي کتاب کې ورته په ښکاره ډول اشاره کړې چې په ۲۰۰۹ کال کې چې کوم انتخابات ترسره شول دنړۍ په سطحه کثیف اوله دوکو ډک وو، تر دې چې سم په بیمه درایوصندوقونه له جعلي اوتقلبي رایو ډک شوي وو، دهغه په وینا داکار داسې نه وچې امریکایان ورته متوجه نه وو، بلکې دوی داهرڅه لیدل اوبیامو ددې لپاره تحمل کړل چې هسې دانتخاباتوپروسه تریوځایه ورسیږي، اونړۍ ته ثابته کړوچې مونږ یودیپلوماتیک عمل که څه هم شفاف نه وو ترسره کړ.

نوچې په ۲۰۰۹ کال ټاکنې چې په سلوکې کې اتیافیصده جعلي اوتقلبي وې اوامریکایانو دخپلو خاصو کټوپیاره ترسره اونتایج یې ومنل، اوس خو ۲۰۱۴ کال دی. دکابل اداري دفساداودرغلی خبرو ټوله نړۍ په سراخیستي اوله بل لوري، دمجاهدینو دقوت اندازه خوهم هرچا ته ظاهره ده چې دکابل ارگ اونورې حساسې سیمې هم ترینه خوندي ندي، نوپوښتنه داده چې په دغسې یوحالت کې به څه ډول ټاکنې کیږي. ساحه به یې چیرته وي، امنیت به یې څنگه وي اودتقلب اوجعل کچه به یې د۲۰۰۹ کال په پرتله څومره اوچته وي اوپه نتیجه کې به یې څه ډول کثیفې اوحلقه بگوشې څیرې منځته راځي، هرڅوک پوهیږي چې دایوه دروغجنه او تیرایستونکې پروسه ده چې امریکایان غواړي له تیښتې وروسته داسې حکومت په واک پریږدي چې ددوی کردار وپالي.

پوښتنه

اسلامي امارت دیوې اعلامیې په خپرولو سره له ولس څخه غوښتنه کړې ترڅوپه ټاکنو کې شرکت ونه کړي دغه رازیې دټاکنو کارکوونکو ته گواښ کړی چې تربرید لاندې به یې ونیسي، تاسو د چارو دیوه څارونکي په حیث داسلامي امارت دغه موقف څرنگه ارزوئ؟

ځواب

مادغه اعلامیه ولوستله، ډیرمهم اوجامع ټکي پکې موجودوو، اسلامي امارت په منطقي ډول دانتخاباتو ضررونو په گوته کړي، انتخابات یې د کفارو یوه دسیسه بللې او دهغوی اتباع یې یو ناروا عمل بللی ددښمن دسیسواودټاکنوغیرعملي بڼه ته یې په واضح ډول اشاره کړې، اوامریکایي حلقې هم اعتراف کوي چې راروانې ټاکنې به له تیروهغو زیاتې له تقلب څخه ډکې وي، نوچې یوځل ټاکنې دغسې ناولتیاوې اوکثافتونه ولري اودعدل طمعه اوامیدهم ترې قطع وي اوله بل لوري امریکایان گام په گام دټاکنوگرانې هم کوي اوتوپ اوطیاري یې په سرگرځي، نوپه دغسې ټاکنو کې برخه اخیستل پرته لدې چې له امریکایانو سره مستقیمه همکاري وبلل شي اویوه اسلام دښمنه پروژې ته خدمت وشي، بل څه تعبیریدلای شي؟ اوبل مونږ الهي اوقراني امرپه مخ کې لروچې مسلمانان به کفاروته میلان نکوي، زمایه فکر په انتخاباتوکې برخه اخیستل هم کفرته دمیلان معناورکوي اوهم له کفرسره مرسته اوتعاون اوله دې سره خامخا دین ته نقصان پښیږي نوبایدمخه ترې واړول شي اومخالفت یې وشي.

پوښتنه

ټاکنې داسې مهال ترسره کیږي چې په همدې مهال دهوا له تودیدو سره دمجاهدینو بریدونه هم زور نیسي، دمجاهدینو د ځمکنۍ سلطې وسعت ته په پام سره آیا دا امکان شته چې دافغانستان په ټولو برخو کې ټاکنې ترسره شي؟

ځواب:

وروره، زه به دخپلې کلي حالت درته ووایم، مونږ دولایت له مرکز سره په ۸ کلومترۍ کې واقع یو، اوکلی موتقریبا

۴زره کورونه لري، تیرځل چې دولسمشرۍ ټاکنې ترسره کیدلې، دوه ورځې مخکې کمپاین چلونکو، دکلي خلک په پټه اودډالرو په زور دولایت مرکز ته په موټرونوکې وړې وو اوپه کومې دولتې ودانۍ کې یې ترې رایې اخیستې وې چې باوروکړئ دهغوخلکو شمیر ټول ځلوروسووته هم نه رسیده ، یعني ۴ زره کوره وګوره او۴سوه رایې وګوره، په دې مانا چې نه زمونږ په کلي کې چې دیوې ولسوالۍ حیثیت لري کوم صندوق چاراوړل شو اونه هم دغې لږیې شمیرې اود ګڼ نفوسولرونکې سیمې خلکو یکې شرکت وکړ، نو تاسې خپله قضاوت وکړئ چې په ۲۰۱۴ کال به دغه انډول څنګه وي ، څکه مجاهدین خو دالله په فضل د۲۰۰۹ کال په پرتله څوبرابره زیات واکمن اوله ولسي محبوبیت څخه برخمن دي ، مجاهدین زیاتې برخې په ولکه کې لري دغه رازیې دحکومت ترقبضه لاندې سیمو باندې هم اغیز پروت دی .

پوښتنه

په پای کې دافغانســـــتان دڅـــارو دیـــوه تحلیلګر په حیث کـه دافغانســتان خلکو یـا نړیوالو ته څه خبره لرئ هیلــه ده راســره شریکه یې کړئ!

ځواب

نړیوال اشغالګر چې افغانستان ته راغلي او دلته غواړي دخپلو ګټو د تضمین لپاره دانتخاباتي ډرامې غونډې د جبر او تزویر پروسې عملي کړي باید په دې پوه شي ، چې دعملي اشغال په مهال او دزر ګونو قواوو په شتون کې یې چې خپل شوم اهداف ترلاسه نه کړل په دغسې جعلي پروسو به یې هیڅکله ترلاسه نه کړای شي .

په افغانستان کې اضافه بوختیا دوی ته له زیان او رسوایي پرته شاید بله نتیجه ونلري ، کومې څیرې چې دلته ورباندې دوی حساب کوي او غواړي نصب یې کړي په اولس کې ریښه او ملاتړ نه لري ، نوځکه باید دپوځي اشغال دپای ته رسولو غونډې نامرئي سیاسي اشغال او بې ځایه مداخلې هم پای ته ورسوي .

افغان اولس لکه څرنګه چې په وضعیت پوه دی ، باید متوجه وي ، چې انتخابات یوه امریکایي ډرامه ده چې درسنیو په زور غواړي په خلکو یې ومني ، داشغال په صورت کې انتخابات هیڅ معنی نلري ، په داسې حال کې چې دکابل چارواکي له تمویلي اړخه تر امریکا پورې تړلي او حتی زیاتره یې غربي تابعیتونه لري ، څرنګه به دخپلواک حاکمیت طمعه ترې وشي .

هیوادوال باید پوه وي چې غربـي اشـغالګر او ملګـري يـې ظالمــان دي چې دافغانـانو حقـه حقوق یې غصب کړي دي ، کـه چیــرې څــو ک لــه دوی ســره دشیطاني پروسو په تعمیل کې مرسته او شرکت کوي نو بې له شـکه بــه دهغــوی پــه ګنــاهونو ورګډیږي او پــه دې توګـه بـه یې داخرت بار درنیږي .

دحـــل یـــوازینی لاره داده چې له خپل اسلامي هیواد څخه په بشپړه توګه دکفري یرغل لمنه ټوله کړو ترڅو افغانانو ته دیوه رښتیني اسلامي نظام دجوړولو زمینه برابره شي .

ددعوت و ارشاد کمیسیون په ۲۰۱۳ ز کال کې لاسته راوړنې

دعوت وارشاد او جلب وجذب کمېسیون چې د اسلامي امارت د تشکیلاتو یوه برخه او مهمه څانګه ده خپله مستقله لایحه لري چې د اداري تشکیلاتو ترتیب، طرز العمل او مقاصد پکې درج دي د هېواد د ولایتونو، ولسوالیو او له هېواد څخه بهر د مهاجر مېشتو کمپونو په کچه پراخ تشکیلات په کار پوه، بااحساسه او ور شخصیتونه پکې توظیف دي، کوم کارونه چې ورته حواله دي هغه په نوموړې لایحه کې تفصیلا ذکر دي د کمسیون منسوبین مکلف دي چې خپلې ټولې چارې د ترتیب شوې لایحې له مخې په منظمه توګه پر مخ بوځي د تېرو کلونو له کاري ګذارشاتو څخه دا جوتېږي چې د دعوت وارشاد منسوبینو الحمد لله خپلې ورسپارل شوې دندې په اخلاص او ښه احساس تر سره کړي چې د تېر یو کال د پام ور فعالیتونو لنډیز یې په لاندې ډول دی

- **مجاهدینو او ولایتي چارواکو ته اصلاحي تربیتي پروګرامونو ترتیب**

د اوړي په مهال د دعوت وارشاد ولایتي رئیسان د باکفایته وفد په شکل کې د خپل مربوطه ولایت په تقریبا ټولو ولسوالیو وګرځېدل د اسلامي امارت له نظامي او ملکي چارواکو، له باتورو مجاهدینو او اتلو طالبانو سره یې له نژدې لیدنې کتنې وکړې هغه پانې چې د اسلامی امارت دسپېڅلو مقاصدو، روښانه تګلارې او لازمه هدایاتو یادونه پکې شوې وه پر هغوی وویشلې، مجاهدینو ته یې پخپل منځ کې د ایثار. ښه نظم او له ولس سره د ښه چلند سپارښتنې وکړې، د جلب وجذب اهمیت، ګټې، طریقې او په دې هکله یې د اړونده مسئولیتونو یادونه ورته وکړه او تسلیم شویو اشخاصو سره پر شویو تعهداتو د وفا او د هغوی د سرونو او مالونو د تحفظ په هکله یې ټینګار وکړ.

همدا راز د دعوت وارشاد په بلنه او هلو ځلو د ژمي په موسم کې د مرکزي نظامي کميسيون او ولاياتو د محترمو واليانو په مرسته يوه ورځني تربيوي او اصلاحي سيمينارونه جوړ شول چې د هېواد د جيدو شيوخو او علماوو په توسط شپاړلس اړينې او ګټورې موضوع ګانې بيان شوې ټولو مسئولينو او د سيمينار ګډونوالو ته سپارښتنه وشوه چې زموږ ټولو رښتينی کاميابي د بيان شويو خبرو له عملی کولو سره تړاو لري پخپله به هم وربانديې عمل کوو او خپلو مربوطه ملګرو ته به هم په دې باندې د عمل بلنه ورکوو چې په همدې منظور د يادابښت په توګه د علماء کرامو د موعظو لنډيز وربانديې ووېشل شو.

۞ علماء کرام او په ځانګړي توګه نوي فارغان خپلو اساسي دندو ته متوجه کول

د ديني مدارسو د تعليمي کال د اختتام په مهال د دعوت وارشاد او جلب وجذب د مرکزي کميسيون له لوري د ټولو هغو مدارسو له پاره چې فارغان يې درلودل د علماء کرامو وفدونه ترتيب او ورټاکل شول. مؤظفو وفدونو له فارغانو سره له نژدې ليدنه کتنه وکړه هغوی يې په ځانګړي توګه دوو خبرو ته ځير کړل يو دا چې د دښمن ځينو مرموز پروګرامونو ته بايد په جدي توګه متوجه وي تر څو خدای مکړه د عمل په ډګر کې ښخ او د دښمن له لوري يې سپينه جامه داغداره نشي او بل دا چې تر فراغت وروسته د ايمان او علميت په مقتضا کوم مسئوليتونه ورته راجع دي او مسلمان ملت ورځخه د څه طمع او اميد لري.

۞ ولسي خلکو او مسلمان ملت کې جهادي جذبه برحال ساتل

د دعوت وارشاد مسئولينو د خپلې لايحې له مخې سږ کال هم د خپلو مربوطه ولاياتو په سيمو کې تر ممکنه بريده له خپلو هېواد والو او عامو ولسي وګړو سره په پراخه پيمانه ناستې پاستې کړي دي د هېواد پر روانو حالاتو يې تفصيلي خبرې اترې ورسره کړي او د خپلو موعظو په ترځ کې يې د جهاد د اهميت. اړتيا او ګټو په باب هر اړخيزه او ارزښتناکې بيانونه کړي دي د جمعې، اختر او په نورو محافلو کې يې هېواد وال جهاد او اسلامي امارت سره مرستې ته هڅولي دي.

۞ د اسلامي امارت د فرامينو، لوايحو او پاليسيو څخه خارنه او خلک خبرول

د دعوت وارشاد کارکنانو هغه پاڼې چې د اختر په مناسبت د عالي قدر امير المومنين په ارزښتناکه وينا مشتملې او د اسلامي امارت د فرهنګي کميسيون له لوري چاپ شوې وي او يا هم په عامو احوالو کې دعوت وارشاد ترتيب کړې دي د خپلو مربوطه علاقو مجاهدينو، طالبانو د مکاتبو شاګردانو علماء کرامو او عامو خلکو ته ورسولې او ورته يې تشريح کړې او همدا ډول يې خلکو سره د خپلو مجالسو په ترځ کې هغوی ته د ډاډ په لړ کې څرګنده کړې چې د امارت کارکنان په مجموع کې د خپل مشرتابه فرامينو او ترتيب شويو لايحو ته ژمن دي او هم يې پخپل نوبت امارتي کارکنانو سره د لايحو د عملي کېدو اهميت او ګټې بيان کړي دي

۞ له عامو خلکو څخه د جهاد او اسلامي امارت د کړنو په باب مشورې، انتقادونه او نظريات را جمع کول

د دعوت وارشاد مؤظفينو د مشرتابه له هداياتو سره سم له علماوو، استادانو، قومي مشرانو، متدينو قوماندانانو او عامو خلکو څخه د مجالسو په مهال د

هغوی انتقادونه اوریدلي هغه انتقادونه چې پر حقیقت بنا نه وه معقول ځوابونه ویلي او د هغوی قناعت یې تر لاسه کړی او کوم اعتراضونه چې تعمیري بڼه یې درلودلې له نورو مشورو او سالمو نظریاتو سره یو ځای ځان سره نوټ کړي، او عند الموقع یې له اړونده مقاماتو سره شریک کړي دي

❁ د یرغلګرو له دسیسو او مکرونو څخه خلک خبرول او د مخنیوي په خاطر یې جدي اقدامات تر سره کول

کله چې یرغلګرو پخپله او یا هم د اجیر حکومت په توسط د عوامو د غولولو په خاطر کومه دسیسه په کار اچولې د دعوت وارشاد کمېسیون د هغه د شنډولو په خاطر بر وقت بیړني اقدامات ترسره کړي او د اسلامي امارت د مشرتابه له هدایاتو سره سم یې د خلکو د خبرولو او د دسیسې د خنثی کولو هڅه کړې دی د بېلګې په توګه د ۲۰۱۳ کال د جدي په میاشت کېچې کله حامد کرزي اعلان وکړ چې په کابل کې به د علماوو یوه ستره غونډه جوړوي د استشهادي عملیاتو او نورو جهادي فعالیتونو د حرمت فتوا به ورڅخه اخلي نو د دعوت وارشاد کمېسیون د خپل مشرتابه له هدایاتو سره سم د هېواد له مخورو علماوو سره خبره شریکه کړه چې هېڅوک باید د هغوی په دې جرګه کې چې له جعل وتزویر څخه ډکه او تاریخي شرموونکی منفي پایلي لرونکې ګډون ونکړي نه په اګاهانه ډول او نه هم په غیراګاهانه ډول، همدا راز یې د علماوو او مشایخو تاریخي غونډه راوبلله چې سوونو جیدو علماوو په دې هکله قطعه نامه صادر کړه د هغوی نوموړې غونډه یې تحریم اعلان کړه او د یرغلګرو او د هغوی د لاسپوڅو په خلاف یې د جهاد فتوا بیا تازه کړه

او همدا راز له ټولو هغو غیر ملکي علماوو او مذهبي مشرانو سره ناسته او یا لا اقل تماسونه ونیول شول چې د کرزی له لوري ورته په دې غونډه کې د شرکت بلنه ورکړې وه او یا ورکول کېده هماغه وه چې د الله تعالی په فضل کرزی او ملګري یې ونه توانېدل چې په ټاکلي نېټه نوموړې غونډه جوړه کړي بلکې پخپلې دې بې وسی یې اعتراف هم وکړ چې دې سره د هغوی ملي او مذهبي لازیاته انزوا او یتیم توب جوت شو

❁ په کمپونو او مهاجر مېشتو سیمو کې فعالیتونه

دعوت وارشاد د مهاجرینو په کمپونو کې هم خپل نماینده ګان لري د هغوی لپاره علیحده طرز العمل ترتیب شوی چې د هغې له مخې هغوی خپل فعالیتونه پرمخ بیایي د مثال په توګه خلکو ته د اسلامي امارت اهداف بیانولد اسلامي امارت اړوندپیغامونه ،اعلامیې ، هدایات او د مختلفو مسائلو په اړه وضاحتونه ترعوامو رسول او د اسلامي امارت د پالیسیو په اړه د خلکو افکار تنویرول، علماء کرامو ، جهادي مسلح قومندانانو او قومي مشرانو سره په جلا جلا ډول مشوره کول، او په اعتماد کې اخیستل ، علماء ، پخواني مسلح جهادي قومندانان او د قوم مشران دېته متوجه کول چې د خپلو کشرانو اذهان د دین ، اسلام او د هېواد د استقلال په حمایت باندې تربیه او جوړ کړي کړي که د افغانانو کوم مشکل وي او حل یې د امارت تر توان لاندي وي دامارت مسؤولینو ته یې رسول تر څو د امارت لخوا تر وسه د مهاجرو ورونو سره همکا ري وکړل سي

علماء کرام دې ته متوجه کول چې په خپلو درسونو او خطبو کې دنورو موضوعاتو تر څنګ د اخلاقو، له علماؤ، مشرانو او ملګرو سره دېښه برخورد او د

امیرانو داطاعت، د قوم پرستي او ظلم مذمت هم په موثر انداز بیان کړي

د مختلفو غونډو او جلسو څخه د اسلامي امارت په نفعه استفاده کول او له دې لارې د جهاد او اسلامي نظام داعیه تبلیغول او د دښمن د تبلیغاتو مخه نیول

د کابل ګوډاګی اداري لخوا که په کمپونو کې کوم ناوړه پلان او دسیسې په کار اچول کیږي د نماینده او د کیمپ دعلماؤ او بارسوخه مشرانو له لوري په ګډه مخه نیول او د ضرورت وخت کې د کمیسون دمشر تابه څخه همکاري غوښتل او داسې نور.....

چې الحمد لله په دې موادو تر ډېره حده عمل شوی او دا طریقه ښه د پرمختګ په حال کې دی چې موږ یې د مثبتو نتایجو شاهدان یو

۞ **د یرغلګرو له چوپړ او دکابل له اجیرې اداري څخه د غولېدلو هېوادوالو را جلا کول**

د شمال ختیځ د زون په شلو ولایاتو کې په ۲۰۱۳ کال کې په لاندې تعداد اشخاص له ګوډاګی اداري او د امریکا له چوپړ څخه را جلا شوي دي او کوم چې د خپلو اسلحو په راوړلو توانیدلي نو خپلې وسایل هم له ځان سره راوړي دي.

ټول تسلیم شوي اشخاص: (۲۸۷۴)
ټوله راوړل شوي مختلف النوع وسله: (۵۲۲)
موټرسائکلان: (۷)
مخابرې: (۴)
ټانک: (۱)
کرولاموټر: (۱)

۞ **د هېواد په سطحه د لویو سیاسي، اجتماعي او ملي مسئلو په هکله مدلل او شرعي فتوا جاري کول**

د اسلامي امارت له لوري د هېواد په سطحه د لویو سیاسي، ټولنیزو او ملي مسائلو د حل په منظور د دعوت وارشاد په چوکاټ کې دار الافتاء تاسیس شوې چې په ټاکلیو غړیو مشتمله ده د ملت اړینو مسائلو ته د حل لار لټوي او دمجاهدینو دمسائلو حل ته دلومړیتوب حق ورکوي

دار الافتاء ته ټول مسائل د دعوت، ارشاد، جلب ،او جذب د کمیسیون د اداري شعبې لخوا سپارل کیږي، او له همدې لارې له حل کیدو وروسته بیرته تر لاسه کیږي.

دار الافتاء کوښښ کوي چې په لنډه موده کې مسائل د قران مجید، اوسنت نبوی صلی الله علیه وسلم، او حنفي فقهې په رڼا کې حل کړي. مسئله به د مفتیانو له اتفاق اوفیصلې وروسته د دارالافتاء د مشر تر کتنې وروسته مهر شوې او امضاء شده اړونده تن او یا مرجع ته سپارل کیږي .

نوموړې دار الافتاء مدلل شرعي دریځ لري په دې برخه کې تر وسه وسه دسترو علماء کرامو او افتایې مراکزو نظر متحداو حمایت حاصل کړی دی غړي یې د خپل علمي وړتیا او سپیڅلي احساس له مخې هڅه کوي ترڅو ولس اوجهادي صفوف دشکونو او شبهاتو په کندو کې ونه لویږي .

نوموړې دار الافتاء سره له دې چې جدید التاسیس دی او شرایط تر ډېره حده برابر نه دي بیا هم ځیني مهمې او د پام وړ فتواوې صادرې کړي دي.

د کاناډایي پر غلګرو ویشته

۲۰۱۴/۳/۱۲ میلادي د کاناډا د بېشرمۍ ورځ

قاري حبیب

د روان میلادي کال د مارچ په ۱۲ نیټه دافغانستان په پلازمینه کې کابل کې د بهرنیو پرغلګرو ځواکونو په مرکزي قرارګاه کې ستر مراسم راغوښتل شوي وو. په مراسمو کې دیرغلګرو قواوو عمومي قومندان جنرال جوزف ډنفورډ او ګڼ شمیر نورو داخلي او بهرنیو لوړپوړو چارواکو ګډون کړی وو. مراسم ددې لپاره رابلل شوي وو ترڅو په افغانستان کې د کاناډایي ځواکونو دشتون وروستۍ ورځ ولمانځل شي. په همدې اړوند له خبرو وروسته د پوځي سرود په بدرګه د کاناډا بیرغ د ځوتنو پوځیانو لخوا رسما دافغانستان له اسمان څخه راکوز کړای شو، چې په دې ډول دامریکا دنورو لنډمهالو اشربانو په څېر د یرغل مهم لوبغاړي هیواد کاناډا هم رسما په افغانستان کې خپل شکست ومانه او دتیښتې لوري یې خپل کړ.

په هغو انځورونو کې چې له همدې مراسمو څخه رسنیو خپاره کړي دي. کاناډایي پوځیان چې خپل بیرغ رابښکته کوي خورا، غمجن، ځړیدلي او پښیمانه معلومیږي. چې په افغانستان کې ددې هیواد د ۱۲ کلنې بوختیا ښه انځور ګرځي کوي.

کاناډا د ۲۰۱۴ م کال په مارچ کې له افغانستان پښې سپکوي. مارچ هغه میاشت ده چې پوره ۱۲ کاله وړاندې یعنې په ۲۰۰۲ م کال کې په همدې میاشت کې کاناډایي ځواکونو په افغانستان کې په لومړنیو جنګي عملیاتو کې برخه واخیسته داجګړه د پکتیا په غرونو کې د ښامار عملیات وو چې دامریکایي او نورو یرغلګرو ترڅنګ په لومړي ځل زرګونه کاناډایي عسکر له افغانانو سره په جګړه کې ښکیل شول.

کاناډایي پوځ په افغانستان کې

کاناډا د شمالي امریکا یو پراخ هیواد دی، چې پخوا دبریتانیې مستعمره وو او اوس دبرتانیې دنورو مستعمراتو غوندې دهمګټو هیوادونو غړیتوب لري، دا هیواد چې دامریکا سره ژورې

د اصول فقه د علم تدوین

خلورمه برخه

مفتي شاهد (حقاني)

دعلم فقه دتاريخي قدامت دپيژندلو اودخلفاء راشدينو (رضی الله عنهم) له وخته ترصغارو صحابو رضوان الله تعالى عليهم اجمعين پورې .اوبيا دحجازاو عراق دفقهي مدرسو منځته راتلل اوډول ډول اطوار يامختلف پړاوونه يې دځه تفصيل سره په تير بحث کې وشنل شو، اوس به دعلم اصول فقه دتدوين او منځته راتلو په هکله څه وضاحت وکړو!

داصول فقه علم دکره معلوماتو له مخې په دوهمه هجري پیړۍ کې رامنځته شوی دی ،خوددې څخه بايد داونه فهمول شي ،چې ګوندې داجتهاد پر وخت مجتهدينو داصول فقه دقواعدو التزام ندی کړی ،بلکې په پوره وثوق سره ويلای شو،چې دصحابه کرامو مجتهدينو (رضی الله تعالى عنهم) څخه راواخله بيا تر وروستيو امامانورح پورې ټولو داجتهاد پر وخت دقواعدو التزام کاوه، خو په دومره تفاوت چې تر دې وخته پورې ددې قواعدومنظم تدوين نه و شوی ،چې تفصيل به يې وروسته راشي.

ددې فن دتدوين په هکله دوه خبرې مشهورې دي .چې يوه کې يې داصول فقه دخپلواک تدوين او مستقل تصنيف نسبت حضرت امام شافعي رح ته شوی ،اوبله کې ددې فن دتدوين او ړومبي مستقل تصنيف نسبت دحنفي مذهب دوهم امام اوقاضی القضات حضرت امام ابويوسف رح ته شوی ، لکه په (التقرير والتخيير لمحمد الحنبلی /ج١/ص١٨٧)او همداسې په (تيسير الحرير لمحمد امين /ج١/ص۴٨)کې داسې ليکل شوي چې ((وَيُقَالُ إِنَّ أَوَّلَ مَنْ دَوَّنَ فِي أُصُولِ الْفِقْهِ عَلَى سَبِيلِ الاسْتِقْلَالِ الْإِمَامُ الشَّافِعِي صَنَّفَ فِيهِ كِتَابَ الرِّسَالَةِ بِالْتِمَاسِ ابْنِ الْمَهْدِيِّ))يعنې ددې حوالې له مخې ويل کيږي ،چې ړومبی تدوين چې چا ددې فن مستقلا او په خپلواکه بڼه کړی، هغه امام شافعي رح دی ،چې د(کتاب الرسالة بالتماس ابن المهدی)کتاب يې پکې ړومبی ځل تصنيف او دتدوين چاره يې پيل شوه.

خو(ابن النديم) په (الفهرست) کې داسې ليکلي چې: وَذَهَبَ ابْنُ النَّدِيمِ فِي "الْفِهْرِسْتِ" أَنَّ أَوَّلَ مَنْ أَلَّفَ فِيهِ هُوَ أَبُو يُوسُفَ صَاحِبُ أَبِي حَنِيفَةَ))يعنې (ابن نديم) په(الفهرست) کې داسې چې ليکلي، چې اصول فقه کې لومړنی تاليف امام ابو يوسف رح کړی ،او دابه يې ړومبی مدون شي ،خو داچې هر څه وي وي به،دواړه اهل مذهب دي .قاضی القضات امام ابويوسف رح دحنفي مذهب دويم امام ،دعلم او فقاهت ديوه سمندر په حيث امت کې شهرت لري ، او

چې تراوسه پټ پاته یا پټ ساتل شوي دي او په نړیوالو مطبوعاتو کې یې به اړه ډیر لږ راپورونه راغلي دي.

دجګړې په ډګر کې په مظالمو سربیره د کاناډایي عسکرو بل جنایت دافغان بندیانو په وړاندې ناوړه چلند وو، د۲۰۰۹ م کال په نومبر او د ۲۰۱۰ م کال په مارچ کې یو شمیر کاناډایي رسنیو افشاء کړه چې د کاناډا استخباراتي اداره له افغان بندیانو څخه پلټنې او تحقیقات کوي چې مګر رایې افغان بندیانو ته شکنجې ور کړې او څورولي هم دي.

خو له دې ټولو جنګي جنایاتو، بمباریو او وحشتونو سره سره کاناډایي عسکرو دامریکایي ملګرو غونډې په دې ونه توانیدل چې په افغانستان کې خپل ماموریت دبریا تر منزله ورسوي، دجګړې زیادت پرلپسې د د کاناډایانو تلفات او مالي مصارف زیاتول، چې په پایله کې یې د کاناډایي ولس نارضایت زیاتېده، په پای کې د کاناډا ولسمشر په دې مجبور شو چې د وروستي حل په توګه د ۲۰۱۱ م کال په جولای کې یې اعلان وکړ چې له دې وروسته کاناډایي پوځیان په افغانستان کې خپل جنګي ماموریت پای ته رسوي او کوښښ کوي چې هرڅوزر په بشپړه توګه له دې هیواده پښې سپکې کړي.

دادی دهماغه ورځې نه چې کاناډایانو دجګړې له میدانه پښې سپکې کړې نږدې دری کاله وروسته ددغه هیواد یرغلګر عسکر په بشپړه توګه له افغانستان څخه ووتل. دوی دروان کال دمارچ په ۱۲ په کابل کې هغه بیرغ د شکست دشرم له منلو سره یوځای په خپله راکوز کړ چې ۱۲ کاله وړاندې یې دافغانستان په پاکه خاوره پورته کړی وو. په دې توګه کاناډایي پوځ دافغان مجاهدینو په لاس شکست وخوړ او دافغانستان دویاړمن تاریخ په صفحو کې دیوې بل یرغلګر دماتولو او دیوه بل مغرور لښکر دځغلولو ویاړ هم ثبت شو.

کاناډا دافغانستان په جګړه کې څه ترلاسه کړل؟

د کاناډایي عسکرو د تیښتې په ورځ ددې هیواد چارواکو وویل چې دافغانستان په څوکلنه جګړه کې یې ۱۵۸ پوځیان وژل شوي او زرګونه نور ټپیان دي دغه راز په دې هیواد کې د کاناډا تابعیت لرونکي دوه مشاورین، یو لوړپوړی ډیپلومات او یوه خبریال هم وژل شوي دي. مګر بې پرې احصایې ښیي چې په افغانستان کې د کاناډایانو تلفات تر دې څوبرابره زیات دي.

نظامي کتونکي په دې نظر دي چې کاناډایانو دڅو کلنو پوځي هڅو په نتیجه کې هیڅ داسې کومه ښکاره لاسته راوړنه نه ده درلودلې چې ددې هیواد سیاسیون ورباندې حساب وکړي، پر ته له دې چې خپل ملیاردونه ډالر یې بې هدفه خرچ کړي او په سلهاوو پوځیان یې له لاسه ور کړي دي.

کاناډایان دافغانستان له جګړې څخه پوځیان په داسې حال کې باسي، چې یوشمیر نور کړلي جنجالونه یې لاهم ترلمن نیسي، داسې ویل کیږي چې د کندهار په بهرنیو پوځې قرارګاوو کې مصروف ملکي کارکوونکي په تیره ترجمانان زیاتره کناډایي تابعیت لري. او کاناډایانو دډیرو امتیازاتو او بیمې په بدل کې تر کندهاره راوستي، دغه راز دکندهار دوالي توریالي ویسا په شمول یوشمیر حکومتي چارواکي هم دکناډایي اعتبار په مټ تر دې ځایه رارسیدلي وه. اوس چې کاناډایان له افغانستانه وزي، همدا کسان هم ترې پالل غواړي، او باید ورسره کړې ژمنې عملي کړي.

دغه راز په افغانستان کې د کاناډا دپوځ تر نیمایي زیات قریب ۴۰ زره پوځیانو دنده اجراء کړې چې ددغو جنګیدلیو پوځیانو زیاتره یامعیوب شوي او یا هم په ذهني ناروغیو مبتلاء دي چې له دې اړخه هم کاناډا نه شي کولای تر ډیرې مودې دجګړې له اغیزو ځان خلاص او خوندي کړي.

لوړو حقایقو ته په پام سره ویلی شو چې کاناډایانو دافغانستان له جګړې څخه دشکست له شرم او درنو ځاني او مالي زیانونو پرته بل هیڅ هم نه دي ترلاسه کړي، له همدې امله خو له تښتیدلیو پوځیانو سره په خپل هیواد کې هم دقهرمانانو غوندې نه بلکې د شکست خوړلیو په شان چلند کیږي.

امام شافعي رح هم دفقاهت یوه روڼ ستوری او دشافعي فقه امام دی . دواړه داهل سنت والجماعت پیژندل شوي امامان دي . خودا خبره دهیرولو نه ده ، چې دعلم فقه څخه دعلم اصول فقه مستقل تدوین وروسته شوی او علم فقه پر علم اصول فقه تقدم او وړاندې والی لري ، ړومبی فقه تدوین شوي او بیا علم اصول فقه تدوین شوي ده ، ځکه لومړی هغه شخص چې علم فقه یې تدوین کړه او په کتابونواو بابونو کې یې تر تیب کړه ، هغه امام الایمه حضرت امام ابو حنیفه رح و ، دهمدې ځایه ده چې ، دحضرت امام صیب دفضیلت په اړه دامام شافعي رح هغه مقوله چې په (طبقات الفقهاء) کې (الفیروزآبادي الشافعي) رانقل کړي ، ډیره مشهوره ده ، چې پکې داحضرت فرمایي :((مَنْ أَرَادَ الفِقْهَ فَهُوَ عِيَالٌ عَلَى أَبِي حَنِيفَةَ))یعنې څوک چې دفقهې احکامو سره مینه او علاقه لري ، نو په حقیقت کې دامام ابوحنیفه رح په عیال کې راځي او دابه دده دهڅو او جدو جهد پورورې وي .

که هریو امام ددې علم مدون وي ، په نفس الامر کې دواړه داسلامي امت لوړې هستۍ دي او دواړه مقتدایان دي ، خو هغه چې دې علم کې پرې وضاحت شوی ، هغه دادی چې دې علم اصول فقه کې داسې قواعد اوضوابط بیان شوي ، چې باید مجتهد یې دقرآن ،سنت او قیاس څخه دشرعي احکامو داستنباط پر وخت التزام وکړي اوددې ضوابطو مراعاتول پرې واجب دي ، داسې ګمان هم بې ځایه دی ، چې داصول فقه له تدوین څخه مخکې ګوندې اجتهاد په قواعدو مبتني او ملتزم نه و ، ځکه دصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم څخه راواخله ددې اصول فقه علم تر تدوین پورې ، ټولو مجتهدینو دثابتو قواعدو التزام داستنباط پر وخت کړی ، هو داخبره هم ربنتیونې ده ، چې په ځینو قواعدو کې به دیوه فقیه رایه له بل فقیه څخه خلاف وه ، خو په حقیقت کې ددوی اختلاف دامکان تر بریده په تحری الصواب باندې بناء وه او ددې نه په غیر بل څه نه و .

هو!

دا قواعد که څه هم ملتزم وو او داجتهاد پر وخت تري مجتهدینو استفاده کوله ، خو لا هم تدوین شوي نه وو ، دبیلګې په ډول په علم نحو کې چې داعلم او اصطلاحات علمیه یې لا هم تدوین شوي نه وو ، خو عربانو به دفاعل درفع اودمفعول دنصب التزام له مخکې څخه کاوه ، چې وروسته یې علمي تدوین وشو ، نو ددې څخه په ډاګه شوه ، چې که څه هم اصول فقه او علم فقه دواړه من حیث الوجود ، متعاصرین او متلازمین دي ، مګر په دومره تفاوت چې دعلم اصول فقه تدوین دعلم فقه څخه متاخر او وروسته شوی دی .

په همدې زمانه کې فقه افتراضي یا فقه تقدیري هم ظهور وکړ ، او دفقه دارنګ دعراق په فقهي مدرسه کې دامام ابوحنیفه رح اودده داصحابوله ظهور څخه مخکې عظمت ته رسیدلی و ، خو د دوئ په وخت کې پدې فن بوختیا او اشتغال کې زیاتوالی راغی ، چې دعلم فقه دمسایلو دې افتراضي رنګ فقهاء دامهال په دوو ډلو وویشل ، یوې ډلې دارنګ بد باله ، او بلې ډلې یې ددې امله تایید وکړ ، چې په آندیې مونږ باید دپیښې دوقوع څخه مخکې ورته شرعي حکم معلوم او متعین کړی وي ، چې کله پیښه وشي ، نو شرعي ځواب به یې راسره لا له مخکې موجود وي . دادواړه رآیې په خپل خپل ځای کې وجاهت لري ، البته په دې فقهي رنګ کې داسې اسراف کول ، چې په هغو افتراضي مسایلو مصروفیت چې عادةً مستحیلة الوقوع وي ، ډیر اشتغال به بنایي دځینو علماوو له نظره محمود نه وي ، خو په هغو مسایلو کې مصروفیت هیڅ باک نلري ، چې ممکنة الوقوع وي ، خو لا نه وي پیښ شوي ، ځکه مونږ دمتقدمینو علماوو په کتابونو کې ډیر داسې مسایل وکتل ، چې هغه وخت مستحیلة الوقوع وو ، خو اوس پیښ شول ، لکه دجنس انقلاب د ذکورت څخه انوثت ته ، یا له انوثت څخه ذکورت ته ، همداسې د (تلقیح صناعي) مسئلې غوندې نور داسې مسایل ، لکه دیوه مړه انسان دبدن اعضاء یا غړي بل ژوندي انسان ته ور کول ، یا دیوه ژوندي انسان دبدن غړي بل ژوندي انسان ته ور کول .... ځکه افتراضي فقه مونږ ته پدې ډول مسایلو کې داسې ډیرې بندې دروازې خلاصې کړي او مخکینو کرامو فقهاوو رح راته مستقیمه لاره وښوده ، الله جل جلاله دې پرې رحم وکړي

دولسمه برخه

داسلاميت او مغربيت ترمنځ کشمکش

هندوستان کې دمغربيت...

ليکوال داسلامي نړۍ مفکر عالم مولانا سيد ابوالحسن علی ندوي رح ژباړه ابوطهير

سر سيد احمد خان اودهغه اندونه:

سرسيد احمد خان له فرانسې او انګلستانه هغه مهال ليده کاته وکړل چې دهغوئ تمدن يو ځوان اونوی تمدن وه، نوي علوم اونوي صنعتونه مخ پر عروج وو، په غربي ټولنه کې دزوال او انحطاط هغه نښې نه وې برسيره شوې، کومې چې دلومړي نړيوال جنګ وروسته دنظر څښتنانو وليدلې، غربي تمدن ترهغه زمانې دژوندا و تخليقي ورتياوو نه برخمن وه، دهغه په سينه کې دټولې نړۍ دنيولو او دخپلواکو هېوادو او ولسونو دغلامولو ارزو په ټوپو وه

او په رانه اوځليدونکي اړخ يې د غربي تمدن تور کرغيړن او له کمزورتياوو ډک اړخ دنړيوالو له پامه پټ کړی وه خو دېر ژر داخلاقو او دروحانيت نشتوالي، دهېوادونو لاندې کولو هوس، تکبر او قومي انانيت انګريزان ديوه نړيوال مجرم ولس په حيث معرفي کړل پخپله هندکې چې هغوئ څنګه ظهور وکړ؟ دا هرڅه دسر سيد احمد او دهغه ملګرو له ستر ګو پټ وو، هغه خپله له غربي تهذيب نه دومره متاثر شو چې خپل زړه، ماغزه او ټول فکري صلاحيتونه يې په هغه پورې وتړل داکتوبر

په ۱۲مه نيټه په کال ۱۸۷۰زکې نوموړي د دې تهذيب دميني جال کې په نښتو دهندوستان په مسلمانه ټولنه کې دغربي تمدن داقدارو او اصولو پرليکو داصلاحاتو اوتغيراتو راوستو سرګرم داعي او مبلغ شو کله چې خپل هېوادته ستون شو، په ډېر خلوص او توده جذبه يې دغربي تهذيب د دعوت بيرغ لوړ کړ، هم يې خپل ګرد صلاحيتونه دهغه پراختيا ته وقف کړل، دنظر له پلوه خالص ماده پرست او د مادي اوکايناتي قوتونو پر ورانديې سرټيټ کړ، آن چې خپله عقيده او دقرآن مجيد ترجمه او تفسيريې هم دمادې له مخې پيل کړ، په دې کې يې دومره غلو وکړه چې دعربي ژبې د منل شويو اصولو، قواعدو، اجماع او تواترپر خلاف يې هم له څه ويلونه ډډه نه کوله، دهغه دغسي تفسير په ديني حلقو کې سخته غوسه وپاروله ډاکټر "محمد البهي" پخپل کتاب "الفکر الاسلامي الحديث" کې دهغه په دې رجحان نيو کې کړي، وايي:

دسيد احمد خان تحريک له طبعي علومو او دلوېديځ مادي تهذيب په عشق او مينه جوړدی، بلکل هغسي څنګه چې ددې زمانې ځيني مفکران دساينس او دهغه له

ایجاداتو او برياوونه له ضرورت زيات مرعوب شوي، په کوم ساينس چې غربي تهذيب ولاړ دی، دطبعي علومو يا طبعياتو سره زيات تړون او عشق د روحاني او مثالي اقدار و ارزښت ته زيان رسوي، حالنکي دا هغه اقدار دي، چې پرې داسماني اديانو اساس ايښي دی ، دکومو استازيتوب چې اسلام تر بل هر چا زيات کړی ، دطبعي علومو سره غير معمولي تړاو، يو وخت انسان له هر هغه څه نه د انکار تربريده بوځي، کوم چې د بشر په حس او مشاهده کې نه راځي ،هم دا وجه ده چې سيد جمال الدين افغاني دسرسيد احمد خان رشته او دوستې له الحاد سره تړلې بولي، ددې باوجود چې بيا بيا وايي: زه له اسلام دفاع کوم ! ليکن هغه ورباندې دالحاد تورپورې کړی، د سرسيد دا وينا : چې دی کوښښ کوی چې اوسنيو مسلمانانو ته يوه داسې طريقه را وباسي څو په هغه باندې په تلو سره دوئ پخپل اسلام هم ولاړ پاته وي او نوی ژوند خپل کړي، کوم چې د طبعي علومو په پرمختګ ترلاسه شوی دی.

دغه افراطي اومادي رجحان، دبشرد عقل تقديس او هغه دحدودو او عمل له اړيتاوو نه زيات پراخول، دخدای (جلاله) قدرت او مشيت دفطري قوانينو او دظاهري اسبابو پابند ګڼل، په ډېر جسارت دقرآن تاويل اوتشريح کول هغه څه وو چې ديو نوي فکري ګډوډی، بې لاری او بې باکۍ دروازه يې پرانيسته اووروستنو خلکو ترې دومره ناوړه ګټه پورته کړه چې د قرآن تفسير او ترجمه آن دکوچنيانو لوبه شوه..

دسرسيد داند کمزوری اړخ:

دسرسيد د تعليمي او اصلاحي پلان دوه برخې داسې وي چې داسلامي نړۍ لپاره دداسې ايجابي او تعميري انقلاب آنګېز بنسټونکي ثابتې نشوې، چې دايمان اومحمدي نبوت له جوړې ټولنې دحالاتو سره يې سمون درلودای څو داسلامي نړۍ هغه خلا يې ډکه کړې وای، کومه چې مغربي تهذيب او د طبعي علومو ترقي له امله په ذهنونو کې پيدا وه.

لومړی : دا چې نوموړي هغه تعليمي نظام (کوم ته چې په لوېديځ کې د وروستی شکل حتمي بڼه ورکړل شوي وه) دهندوستان مسلماني ټولنې دحالاتو اوغوښتنو پابند او تابع نکړ ،ددې لپاره يې له نوي سره د کتنې او داسلامي بڼې ورکولو په اړتياوو غور ونکړ، نه يې د هغه نه دغربې تمدن او دهغه دمادي روح درنګ پ کولو لورته ته توجه ورکړه ، دکوم چې هيڅ ختيځ وال هېواد ته اړتيا نه وه ، د لوېديځ له ټولو ځانګړتيا وو سره يوځای، دهغه ځی دروح ،مزاج او چاپيريال دودونو سره يوځای يې هند ته راوړو هغوئ نه يوا ځې په غربي تعليمي نظام اصرار ونکړ، آن دغربي تمدن او روح د قبلو لو په اړه هم په شدت مصرو، دهغه په اصولو يې ټينګار وکړ اوپرېکړه يې وکړه چې په ليسه اوپوهنتون کې به خامخا رئس ، مدير، پروفيسراو سرښوونکی انګريز وي او که هر کله په عايد کې زياتوالی راغی دانګريزانو شمير به نور هم سيوا کوي.

په دې توګه دليسې اوپوهنتون په استادانو کې خامخا څلور پنځه انګريزان وو، هغوئ به د مختلفو ځانګو دچارو تنظيمونکو اوسلاکارانو په نوم فرايض سرته رسول، دليسي په نظام او دشاګردانو په اخلاقو هغوئ ژور اغيزکاوه ،هغوئ له خپل دغه اغيز نه په کار اخيستلو دهند په سياست کې تل لوی رول ترسره کاوه، لکه ديوې ليسي رئس "مستربک" مشهور سياستوال او دهندوستان داسلامي سياست لومړی انګريز مشروه، دهغه دمشرتوب سياسي پايلې بيا وروسته دمسلمانانو په حق کې له زيات افسوس نه ډکې ثابتې شوې (دتفصيل لپاره مطالعه کړئ دليکوال کتاب هندوستاني مسلمان)

غرض دا چې د سرسید دعوت او د هغه تعلیمي نظریه له مغربي تهذیب سره لازم او ملزوم وه، هم دا جه وه چې د هغه په اړه د خلکو په زړونو کې مختلف شکونه او شبهات پیدا شول په دیني حلقو کې ورنه د نفرت او کرکې څپه پورته شوه او د تحریک سره یې د خلکو لخوا تړیکون او مقاطعې پورې نوبت ورسید، چې په دې سره ور ته ګڼ مشکلات او خنډونه پیښ شول، دیني عالمان له پیله د انګریزي ژبې د زده کړې او ګټورو علومو سره مخالف نه وو (د تفصیل لپاره د شاه عبد العزیز دهلوي رحمه الله فتوا درباب حلت تعلیم انګریزي فتاوی عزیزیه) خو د سرسید حالت په لیدلو او د هغه د تحریک د ناسم لوري په غوره کولو هغوئ اندېښمن شول ولې په لوی شمیر نور ناوړه عناصر هم پکې ګډ شول، مثلاً: د غربي تهذیب نه ښکاره مرعوبیت او په اخلاقو او عقایدو یې ناوړه اغیز او د انګریزي پروپیسرانو او چارواکو لامحدود نفوذ په وجه د مسلمانانو ذهین ځوانان چې د سرسید په لیسه کې په زده کړه بوخت ول، له انګریزي زده کړه او برتانوي سیاست نه متاثر او مسحور شول هغوئ (علماوو) په دې کار سره مخالفت ته پورته شول، بل پلو هغو اغیزو او غربي چاپیریال چې د سرسید په لیسه کې ازادانه خور وه له امله یې داسي اسلامي نسل پیدا شو چې په نوم مسلمانان وو خو د ذهن او فکر له پلوه خالص انګریزان وو، په ژوند، تمدن کې د انګریزانو د کړو وړو ملاتړې، په عقایدو کې کمزوري او متزلزل وو. بل د کمزورۍ اړخ یې دا و چې د هغوئ ټول زور د انګرزي ژبې او ادب تر لاسه کولو ته ځانګړی وو، د عملي او صنعتي علومو لور (چې د ترقۍ پوړۍ، او د غربي ولسونو د ترقۍ او برترۍ راز پکې پټ وو د کومو انقلابي پایلې او اغېزې چې نوموړي لندن کې د خپلې استوګنې پر مهال لیدلې وي) ته سرسید احمد خان ډېره پاملرنه نه وه حالنکي د لوېديځ نه که د کوم څه اخیستلو ته اړتیا وه او په هغه کې کمال مو ندل اړین وو، هغه عملي او صنعتي علوم او فنون وو، خو سرسید د دې سره به کلک مخالفت کاوه، نوموړی د صنعتي تحریک او پلان د ومره قوي مخالف و چې د هغه په رد کې ګڼ مضامین ولیکل، د دې لړ کې وروستی مضمون یې هغه و چې په کال ۱۸۹۷ از د فروري میاشتې په ۱۹ مه نیټه د علي ګړ مهالنۍ کې خپور شو، چې موخه یې د مولانا "حالي" په ژبه دا وه چې: "هندوستان د موجوده حالت له مخې صنعتي علومو ته اړتیا نه لري، بلکې تر ټولو مقدم او ډېره اعلی درجه اړتیا یې د دماغي تعلیمي ودې ده، کومه چې تر اوسه نده پوره (حیات جاوید دویمه برخه ۱۰۶ مخ)

د صنعتي علومو د زده کړې پر ضد د سرسید د هلوځلو او کوښښونو یادولو په ضمن کې مولانا "حالي" لیکي:

له ټولو کلو راهیسي زیاتره لوړپوړي چارواکي پخپلو څرګندونو او وېناوو کې د صنعتي علومو د زده کړې اړتیا وې بیانولي، په دې به له سرسید سره اندېښنه وه، چې هسې نه د دولت اراده د ادبي او کلتوري علومو د زده کړې بهیر موقوف نکړي، له دې وجې که هرځای به یې د صنعتي علومو د اړتیا لړ کې کومه مقاله په نظر ور غله، خامخا به یې د هغې په رد کې ځواب لیکه په همدې بناء د کانفرانس (محمډن ایجو کیشنل کانفرانس) په ځلورمه غونډه کې یې د ادبي او کلتوري علومو په دفاع کې یوه اوږده مقاله وړاندې کړه، چې بیا د کانفرانس په اړه ځانګړي کتب کې هم خپره شوي.(حیات جاوید د دویمه برخه ۱۰۶ مخ)

د دې په نتیجه کې د غه اسلامي اداره د خالص علمي او ادبي رجحان سره یو ځای وړاندې لاړه او د غربي تمدنه د تقلید کولو ذوق او په انګریزي ادبیاتو کې د کمال حاصلولو شوق په حوصله مندو او ذهینو شاګرانو کې ځای ونیو، د هغه د دې کوښښونو په پایله کې د انګریزي

ځيني ښه ويناوال، قلموال او اداري کارپوهان پيدا شول، خو رياضي، طبعياتو، کيميا، ټيکنالوجي او صنعتي علوموته چې اسلامي هند سخته اړتيا درلوده، پکې ممتاز شخصيتونه او استعدادونه پيدا نشول په دې وجه دهغوئ دکاري مسوليتونو دايره لنډه او يوازې ددولت ترعادي ماموريتونو او ځانګو محدود وه.

ددې تحريک اغيز او خدمتونه:

ددې اوږده تفصيل او تنقيد باوجود دشک او شبهې پرته سرسيد احمد خان يو ځواکمن شخصيت و، تردې چې له هغه نه زيات قوي شخصيت دهغه مهال په رهبرانو کې نه ستر ګوکېږي، هغه په يوه ډېرلوی اوپراخ محاذ دوامدار جنګ وکړ، دکوم تحريک چې هغه قيادت کاوه، هغه ته يې لويه کاميابي ورکړه، دمسلمانانو نوی نسل يې له ځانه دومره زيات متاثر کړ، چې بل هيڅ تحريک هومره ندی کړی دهندوستان په اسلامي ټولنه کې دسرسيد احمد خان دځواکمن شخصيت اثر او اغېز دايره پراخه ده ، هغه په ادب، ژبه، فکري لوري، دوينا اوبيان په ټولو اساليبو ژور اغيز وارد کړ او ټول يې متاثر کړل، ديوه داسي فکري او ادبي دبستان بنسټ يې کيښود کوم چې ډېرلوی لوی شخصيتونه پيدا کړل

ددې ستر تعليمي تحريک چې مشري يې نيمه پيړه دسرسيد احمد خان په غاړه وه، دپوهې او قابليت سربيره يې ځيني انکار نامنونکي نتايج وزيږول هغه دهندوستان په اسلامي ټولنه کې تعليمي، اقتصادي، خلا تر ډېره ځايه ډکه کړه، کومه چې دانګريز واکمنۍ وروسته پيدا وه، تر يوحده هغه له مسلمانانو نه ناهيلي او دکمترۍ احساس هم لري کړ، دهغه په اداره کې ځيني لايق، ځوانان، دقوي فکر څښتنان، ژورنالستان، قلموال، او داسي رهبران پيدا شول، چې هغوئ وروسته دتحريک خلافت، او دهند دازادۍ په خوځښت کې د رهبرۍ ځای لاره، وروسته چې کله دپاکستان تحريک شروع شو، اوبيا دپاکستان اسلامي هېواد جوړ شو، هغه ته دهمدې تعليمي مرکز فاضلانو له منځه ګڼ شمير پوهان او دچارو منتظيمين په لاس ورغلل، ليکن دمسلمانانو دنويو اونازکو ثقافتي اوفکري غوښتنو دپوره کولو لپ کې دهغه د اداري کردار هغومره مثبت او موثر نه و دکوم چې تمه ترې کيده، ولې دلوېديځ دعلمي اوعملي تجربو او ذخيرو نه دمسلمانانو او مسلمه امت دحالاتو او اړتياوو سره دسمې استفادې کولو مجتهدانه صلاحيتونو ته اړتيا درلوده، ديوه داسي نوې اسلامي نسل دروزلو اړتياوه، چې هغه په اصولو او عقيدو کې سخت اوپه هغو ټولو رازونو او کردارونو آګاه او خبروي چې سرته رسول يې دنړيوال تهذيب دقيادت لپاره اړين وو، دهغه نسل په نظر او فکر کې دومره وسعت ظرفيت وای، چې دغربي ثقافت اوعلومو مغزيې اخيستی او دهغه (غربي تهذيب) له کمزوريو او ناضروري موادو يې ډډه کړي وای، ددې کار نتايج او ځيرنې پخپلو مغزو داسي بشپړې کړي وای چې داسلامي ذهانت او خپلواکۍ اصليت پکې له ورايه ځرګند اوجوت وای، هم ګام په ګام د فکر او کردار سره "دلذت کردار او زړورتيا" انګيرنه مله وای، داهغه نسل و چې اسلامي نړۍ ورته په ډېره ورخطائی او ليوالتيا له ډېرې مودې دانتظار شيبې لنډولې او ورته سترګې په لاره وه، همدې نسل (که دالله ﷻ خوښه وای) اسلامي نړۍ دهغه حيرانيتاوو او اضطراب له ګرداب بيرون کړي وه، په کوم کې چې له اوږدې مودې راهيسې ښکېل ده په دې سره به اسلامي نړۍ ته دنړيوال قيادت، اوسني تهذيب په رهبري کولو کې دمرکزي رول موقف په برخه و ... *نوربيا*

د شهید شیخ دوست محمد رحمه الله

ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

ترتیب او تلخیص: حکمت

کله چې د شوروي یرغل په وړاندې د افغانانو کفر ماتوونکی جهاد د شلمې پیړۍ انساني حماسه وبلل شوه، نو د امریکایي طاغوت په وړاندې زموږ د مسلمان ملت جهاد چې په ډېرو کمو وسائلو خو لوړه اراده پیل شو او په درنو قربانیو د فتحې تر منزله نږدې شو په داسې سره یې د یوویشتمې پیړۍ اعجوبه او حماسه بللی شو.

امریکایي یرغلګر چې د درستې کفري نړۍ جابر ځواکونه ورسره اشرباني وو په ډېر کبر او غرور یې زموږ په پاکه خاوره یرغل وکړ، زموږ مجاهد ولس ورسره په داسې حال کې مقابله شروع کړه، چې ظاهرا یې هیڅ په واک کې نه لرل او ټولو دوستانو او دښمنانو ترې مخ اړولی وو، مګر دا چې د اولس نیت صفا، ایمان محکم او عزم پوخ وو له ټولو ظاهرو ناشونتیاوو سره سره وتوانید چې امریکایي کفر په ګونډو کړي.

په تېرو دوولسو کلونو کې چې د افغان وطن په غرونو او هوارو کې د کفر او اسلام کومه معرکه تېره شوه، شاید د تاریخ یوه بې جوړې حماسه وي، د دلته د قربانیو، شهادتونو، فداکاریو او حماسو خورا نادرې بېلګې ننداري ته وړاندې شوې، تر څو د اسلام د تاریخ دا ویاړلې معرکه وګټل شوه، د دې معرکې ګټل کوم ساده کار نه وو، بلکې د اسلامي امت بې شمیر غیرتي زامنو په دې معرکه کې خپل ځانونه قربان کړل او په دې توګه یې خپل مسؤلیت سرته ورساوو د دې معرکې غازیان که څه هم په پنځلسم قرن کې او سیدل خو د دوی توکل، عزم او ایماني قوت نړۍ ته د صدر اسلام حالات وریاد کړل، راځئ دلته د همدې تاریخي معرکې دیوه وتلي او نومیالي غازي او شهید په ژوند او کارنامو سره وغږېږو، دا غازي شهید شیخ دوست محمد دی، نوموړی د امریکا په وړاندې د جهاد د پیل له نیتې بیا په ۲۰۱۳ م کال کې د شهادت ترنیتې پورې د نورستان ولایت عمومي

جهادي مسؤل وو او په دې جهادپال ولایت کې یې د ټولو مجاهدینو مشري په غاړه درلوده.

شهید شیخ دوست محمد رحمه الله

شیخ دوست محمد دحاجي سفر محمد زوی د لعل محمد لمسی په ۱۳۷۷ هـ ق کال کې دافغانستان په ختیځ کې دنورستان ولایت دکانتوا په سیمه کې دنیا ته راغی.

شیخ دوست محمد چې په یوه دینداره کورنۍ کې زیږیدلی وو د ۷ کلونو په عمر وو، چې له خپل پلار څخه یې دیني زده کړې پیل کړې څرنګه چې شهید شیخ صاحب له کوچنیوالي ډېر ذکی او ذهین وو، پلار یې غوښتل چې په خپل زوی باندې دیني علوم ووایي، نو ځکه یې د (کانتوا) سیمې له یوه عالم مولانا اختر محمد سره پاکستان ته واستاوو، شیخ صاحب له نوموړي عالم سره کابو څلور کاله په قبایلي سیمه باجوړ کې تېر کړل، هلته یې ورځخه د فقهې ابتدایي کتابونه او عصري علوم ولوستل، او پاتې لومړنۍ، منځنۍ، او لوړې زده کړې یې په نورو مختلفو مدرسو کې له جیدو دیني عالمانو څخه تر لاسه کړې، د احادیثو کتابونه(صحاح سته) یې د (۱۴۰۱ هجري قمري) کال کې د پاکستان دخیبر پښتونخوا ایالت په مشهوره دیني اداره (دار العلوم نعمانیه) چارسده کې د وخت د لوی محدث مولانا (سمیع الحق) رحمه الله څخه ولوستل، په نهایي ازموینه کې یې بریالی او ممتاز سند تر لاسه کړ او د فضیلت دستار یې په نوموړي مدرسه کې ترسر کړ.

څرنګه چې شهید شیخ صاحب دنبوي احادیثو سره بې کچه مینه درلوده، نو ځکه یې د احادیثو کتابونه یو ځل بیا په (دار القرآن) صوابي) کې د وخت له لوی عالم شیخ القرآن مولانا محمد طاهر رحمه الله او شیخ الحدیث مولانا محمد یار بادشاه رحمه الله څخه ولوستل.

د احادیثو تر څنګه یې د قرآن کریم تفسیر هم په صوابي سیمه کې د یادو شیخینو څخه اخذ کړ، دغه راز یې یو ځل دقرانکریم تفسیر له مولانا عبد السلام صاحب څخه هم ولوست.

علمي مقام او تدریسي ژوند

شهید شیخ صاحب ته الله تعالی ستر علمي شان اومقام په برخه کړی وو، چې د شاګردانو څخه پرته د هغه د سبق ملګري او د سیمې نور معاصر عالمان هم دهغوی په علمي نبوغ او تفوق باندې معترف وو.

شیخ صاحب د ټولو مروجه علومو څخه د اوو کالو په موده کې فراغت حاصل کړی وو، د فراغت په کال شیخ صاحب د عمر له لحاظه ډېر خام او کم سنه وو، چې پر مخ یې ږیره نه وه خو دښه لوړ استعداد له امله ورته دخپلو همدرسو ملګرو په منځ کې د بخاري شریف د قراءت ویاړ حاصل وو.

شیخ رحمه الله خورا ذکي او سریع الذهن و، کومه مسئله به یې چې یو ځل په کتاب کې مطالعه کړه، هغه به یې بیا تر کلونو کلونو د حافظې په ارشیف کې پرته وه، د شیخ صاحب مرحوم علمي قوت او متانت له دې څخه هم څرګندېږي، چې هغوی په خپل اوږد تدریسي ژوند کې کله هم په درس کې پر پوښتنه نه دي غوسه شوي، او نه یې له کومې پوښتنې ځان تېراوو له هغوی نه خصوصا دتفسیرشریف په درس کې مختلفې پوښتنې کیدلې او ده ورته ځواب وایه.

شیخ صاحب د کتابونو مطالعې سره بې حده شوق لاره ناشنا کتابونه به یې په بیه اخستل او مطالعه کول یې همدغه وجه وه. چې شیخ صاحب ته د کتابونو ګن عبارتونه او مشکل (ګران) لغتونه زده وو، په مطالعه کې د شیخ رحمه الله ورومبی انتخاب د احادیثو کتابونه وو او په دوهمه درجه کې ورته د (تفسیرونو) مطالعه په زړه پورې وه، په مطالعه کې به یې عجائب او غرائب هم زیات خوښېدل، او ډېرې نادرې کیسې به ورته یادې وې، کله به چې کومه تعجبي پېښه ولیده، نو ملګرو او شاګردانو ته به یې هغه په ډېره مینه اوروله.

له فراغت وروسته نوموړي د دیني علومو په تدریس پیل وکړ چې د قبایلي سیمې باجوړ ایجنسي په (ترخو) سیمه کې د مولانا عبدالجبار صاحب په مدرسه (تعلیم القرآن) کې یې کابو دوویشت (۲۲) کاله د نبوي احادیثو او نورو دیني علومو په خدمت کې بوخت وو، دغه راز کله چې نوموړی له دې سیمې څخه دیر ته لاړ او هلته د شیرینګل سیمې په ګوریال کلي کې دیره شوه هلته یې هم علم او مطالعه مشغوله وه.

په دې موده کې نوموړي طالبانو ته د لوی دورې تر څنګ د فنونو هر ډول واړه او لوی کتابونه هم تدریسول او په رخصتیو کې به یې د موطأ امام مالک، موطأ امام محمد، معاني الاثار للطحاوي رحمه الله، سنن ابن ماجه، سنن نسائي او داسې نور کتابونه چې عموما پوره نه لوستل کیږي بالاستیعاب یې تدریسول.

نوموړي یو شمیر کتابونه هم تصنیف کړي چې نومونه یې په لاندې ډول دي

العقد الفرید في اثبات الفرد الشرعي من التقلید، الدرر السنیة، الترجمان لعقائد الشبان، البرهان الساطع علی عدم اعتبار اختلاف المطالع، تنبیه الانام عن حقیقة الدین والاسلام، هدیة الکتوري في مقدمة الترمذي، نداء البراءة والجهاد، المسدسات في مباحث الجهاد، خطبات مجاهد، نداء الفرسان لاهل البصیرة والایمان، دروس الجهاد، تحفة الاحرار

دیني دعوت او د شریعت د نفاذ لپاره هڅې

شهید شیخ دوست محمد صاحب که څه هم د افغانستان د نورستان ولایت او سیدونکی وو، مګر د ډیورنډ پولې دواړو خواوو ته یې په خلکو خور پراخ نفوذ، اعتبار او شهرت درلود، نوموړی په باجوړ ایجنسۍ او شاوخوا سیمو کې دیوه پیاوړي او مخکښ دیني مشر په حیث پیژندل کیده.

جناب شیخ صاحب چې اصلي مشغولا یې دیني تدریس او امامت وو، ورسره یې همیشه د ټولنې اصلاح او شریعت د نفاذ لپاره هم هلې ځلې کولې.

نوموړي به همیشه ویل چې د مسلمانانو د اوسنی بد وضعیت عامل په اسلامي نړۍ حاکم غیرشرعي مستبد او غرب ډول نظامونه دي، د مسلمانانو عزت او سرلوړي یوازې هغه وخت اعاده کیدلای شي چې په اسلامي هیوادونو کې اسلامي واکمني د صدر اسلام په ډول راژوندی شي، په مسلمانانو باندې باید یوازې اسلامي قانون واکمني وکړي او شریعت چې د دنیوي ژوند هراړخیز او بشپړ نظام دی باید په عمل کې پیاده شي.

جناب شیخ صاحب له ډیر پخوا څخه د اسلامي امارت یا خلافت ارمان درلود، کله چې په افغانستان کې د طالبانو اسلامي تحریک راپورته شو او د خلافت راشده په نهج برابر دیوه اسلامي نظام د جوړولو لپاره یې کار پیل کړ، شیخ دوست محمد صاحب ورسره هر اړخیزه همکاري پیل کړه، نوموړی له خپلو ټولو ملګرو سره د اسلامي امارت په تشکیلاتو کې داخل شو له امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد سره یې بیعت وکړ او د شهادت ترنیټې پورې په هماغه بیعت وفادار پاته شو، کله چې د طالبانو تحریک د افغانستان ختیځ ته ورسید شهید شیخ صاحب چې دا مهال یې دیني علوم تدریسول له خپل نفوذ نه په استفاده یې خورا ستر جهادي او دعوتي خدمتونه سرته ورسول په پیل کې د کونړ او نورستان په ځینو سیمو کې د اسلامي امارت په اړه غلط تبلیغات کیدل، او ځینو خلکو غوښتل چې د اسلامي امارت په خلاف خلک وپاروي، مګر جناب شیخ صاحب د دې مناطقو خلکو ته د دعوت د لارې رهنمایي وکړه، د اسلامي نظام ګټې او ضرورت یې ورته تشریح کړ، ترڅو عام اولس په پوره اخلاص د اسلامي امارت سره ودرید، په دې لړ کې نوموړي د کونړ او نورستان ولایت بیلابیلو سیمو ته سفرونه وکړل او ډیر مخالف مشران یې د خبرو د لارې د اسلامي امارت منلو ته تیار کړل د نورستان ولایت کامدیش ولسوالي د جناب شیخ صاحب د هڅو په نتیجه کې د اسلامي امارت تر ولکه لاندې راغله او بشپړه اسلامي واکمني په کې ټینګه شوه.

د امریکا یرغل او په وړاندې یې جهاد

کله چې امریکایي اشغالګرو په افغانستان برید وکړ او په وړاندې مسلح جهاد پیل شو، شیخ دوست محمد صاحب یو له هغو کسانو څخه وو چې په ډیر جرأت او متانت سره یې په ژبه، لاس او مال سره جهاد پیل کړ، نوموړي د امریکایي یرغل په مهال په باجوړ ایجنسۍ او د افغانستان په نورو سرحدي سیمو کې په سلهاوو ولسي خلک جهاد ته تیار کړل. دغه راز یې خورا زیاتې مالي مرستې هم د مجاهدینو د کومک لپاره راټولې کړې.

د امریکایي یرغل د پیل په مهال د باجوړ، ملاکنډ او د کونړ او نورستان په ګاونډ کې له نورو سیمو څخه زرګونو ولسي مجاهدین د نفیرعام په شکل د دښمن مقابلې ته وړاندې شول او د اسلام لپاره د هره نوع قربانۍ وعده یې ورکړه، چې ځینې یې د جهاد ډګر ته هم لاړل، په دې تاریخي ولسي جهادي پاڅون او نفیرعام کې د شیخ دوست محمد صاحب ستر رول وو، وروسته چې کابل د امریکایانو تر تسلط لاندې راغی، شیخ صاحب بیا هم کرار کېناست، بلکې هره شیبه په جهادي هلوځلو بوخت وو.

د یرغل په ابتدايي کلونو کې شیخ صاحب همیشه په دې هڅه کې وو چې په اولس کې جهادي روحیه راژوندۍ کړي، د همدې لپاره یې غریږ تقریرونه ثبتول، لیکلي پیغامونه او رسالې یې تیارولې او بیا به یې په اولس کې توزیع کولې ترڅو د جهاد له فرضیت څخه خلک خبر شي او د امریکایانو په خلاف قیام وکړي.

نوموړي د خپلو ملګرو یوه جهادي جبهه جوړه کړه او د نورستان په ولایت کې یې په جهادي عملیاتو پیل وکړ.

نورستان ولایت چې د افغانستان په سطحه دامریکایانو په خلاف یو قوي او تاریخ ساز مورچل بلل کیږي ، دجهادي خوځښت مشري او ابتکار یې دشیخ دوست صاحب په واک کې وو ، شیخ دوست محمد صاحب چې د اسلامي امارت په تشکیلاتو کې دنورستان ولایت والي یا جهادي مسؤل په حیث یې دنده ترسره کوله دنورستان د ټولو مجاهدینو د استاد او رهنما حیثیت هم درلود ، ځکه ددې ولایت تقریبا ټول جهادي سرګروپان او ډلګي مشران دنوموړي شاګردان پاته شوي دي ، چې جهاد یې هم دنوموړي په هدایت او ترمشرۍ لاندې پیل کړی وو نو ځکه دنورستان جهادي بریاوې د شهید شیخ صاحب کارنامې بللی شو ، داچې دشیخ صاحب په ابتکار په نورستان ولایت کې د اسلامي امارت مجاهدینو کوم فتوحات ترلاسه کړل دلته ورته په لنډو اشاره کوو .

د شهید شیخ صاحب دمشرۍ په مهال په نورستان کې مهم فتوحات

ـ په ۲۰۰۲/۷/۲۴ م نیټه کله امریکایان نورستان ته راغلل نو د کامدیش دکوټیا دسیمې مجاهدینو په ، ،مارکونډه، کې په یو امریکائي مرکز حمله وروړه چې په نتیجه کې ۱۴ خارجیان ختم او ګڼ نور ټپیان شول او په پای کې له سیمې وتښتیدل.

ـــ په ۲۰۰۴/۲/۲ م نیټه دکامدیش ولسوالۍ دکوټیا په سیمه کې مجاهدینو پر دښمن بریالي عملیات ترسره کړل چې دغه جګړه په نورستان کې دمجاهدینو لومړي تر ټولو مهم عملیات بلل کیږي ددې جګړې په ترځ کې مجاهدینو دجنرال ، ، براون، ، په نامه یو لوړ پوړی امریکائي پوځي جنرال وواژه چې جسد او وسله یې هم دمجاهدینو لاس ته ورغلل.

ـ دوانت وایګل ولسوالي یوه تکړه جهادي مشر مولوی حضرت عمر فاروقي د ۲۰۰۷م کال داګست په میاشت کې دنیږدې ۱۵۰ تکړه ملګرو په ملتیا دارنس نومې کلي دامریکایانو په ستر بیز دخاردارو ټولو کمربندونو څخه په تیریدلو او بیز ته په ورننوتلو وتوانید دامریکایانو او داخلي عسکرو په ضد بریالي برید وکړي ددوئ جګړې ۲ ساعته دوام وکړ چې په نتیجه کې بیز دطالبانو په لاس فتح شو او دکلي دهغه کسانو په وینا چې په اردو کې یې کار کاوه په دې برید کې ۱۲ - امریکایي او ۱۴ داردو عسکر ووژل شول مولوی فاروقي او د هغه پنځه ۵ نور ملګري په همدې جنګ کې شهیدان شول خو په پایله کې یې امریکایان له سیمې وتښتیدل.

ـــ په ۵ رجب ۱۴۲۹ هـ ق کال دوانت وایګل ولسوالي دجمچګل په سیمه کې داشغالګرو عسکرو خورا ستر بیس چې دوئ ته یې خورا ستراتیژیک اهمیت درلود دمجاهدینو دمسلسلو بریدونو له امله تخلیه کړ او ګڼ شمیر غنیمتونه دمجاهدینو لاس ته ورغلل.

ـــ د ۲۰۰۸ م کال دجولائي په ۱۳ مه نیټه مجاهدینو دوانت په مرکزي بیز خورا بریالي عملیات ترسره کړل چې ترڅ کې یې لسګونه امریکایي عسکر له منځه لاړل.

ـــ په ۲۰۰۸ م کال دکامدیش ولسوالۍ دګوهردیش په ډبه بیس باندې مجاهدینو خورا بریالي عملیات ترسره کړل چې په نتیجه کې ۱۲ خارجي

او داخلي عسکر له منځه لاړل او په پایله کې یرغلګرو دغه بیس تخلیه کړ.

ـ د۱۴۳۰ هـ ق په ذوالقعدة میاشت کې ۵۰۰ تنه مجاهدینو دکامدیش پر دریو سترو بیسونو اورمرو، کمو، اوشرپیټ، باندې تهاجمي عملیات ترسره کړل چې په ترڅ کې ۲۷ خارجیان او ۹ تنه داخلي اجیران له منځه ولاړل او ۴۳ پولیس او اردو اسیران شول په اخر کې ولسوالي، قوماندانې، مرکزي بیز او نورې ټولې دفاعي پوستې په بشپړه توګه د مجاهدینو لاس ته ورغلل، دغو بریالیو عملیاتو دافغانستان په عمومي وضعیت خورا ژور اغیز وکړ او دغربي رسنیو هغه دروغجن تبلیغات په اوبو لاهو شول کوم چې دامریکایانو دکامیابۍ او پر مختګ په اړه یې کول ان تر دې چې په هغه وخت کې دامریکایانو مشر جنرال مک کرسټل وویل چې که۴۰ زره اضافي عسکر زر ترزره افغانستان ته ونه لیږل شي زرده چې دافغانستان په نورو سیمو کې هم دنورستان تجربه تکرار شي.

ـ په ۱۳/ ۱۱/ ۲۰۰۹ م نیټه دبرګمتال ولسوالۍ د بدین شاه په سیمه کې بهرنیو او کورنیو ځواکونو دشپې پرمهال یرغل وکړ چې دیرغل نه څه شیبې وروسته دمجاهدینو لخوا له کلک مقاومت سره مخ شول دغه مقاومت کابو ۲ ساعته دوام وکړ چې په ترڅ ې تـر ۸۰ تنو پوري خارجي او دهغوئ داخلي ګوډاګیانو ته مرګ ژوبله واوښته

ـ په ۲۹/ ۵/ ۲۰۱۰ م نیټه مجاهدینو دبرګمتال په ولسوالۍ بریالي عملیات ترسره کړل او په نتیجه کې یې ولسوالي فتحه کړه

ـ په۲۰۰۸ م کال داپریل په شپږمه نیټه ددوآب ولسوالي دشوک په کلي باندې خارجیانو یرغل وکړ چې دسیمې مجاهدینو لخوا کلک مقامت سره مخامخ شول په نتیجه کې ددښمن دوه څرخي الوتکې وغورځیدلې او بالاخره یرغلګر پر شاتګ مجبور شول پدغه جګړه کې ددښمن خوراکیات جنګي تجهیزات دمجاهدینو لاسونو ته ورغلل.

ـ د ۲۰۱۱ م کال مجاهدینو ته د دوآب پر ولسوالي تهاجمي برید وکړ چې وروسته له ډیر ساعت جګړې نه یاده ولسوالي په بشپړ توګه فتحه شوه او ډېر زیات غنیمت مجاهدینو تر لاسه کړل.

ـ په ۲۰۱۲/۱۱/۷ م نیټه د نورګرام ولسوالي دکله ګوش په سیمه کې اشغالګرو عسکرو خپله غټه پی آرټي چې دوئ ته یې خورا ستراتیژیک اهمیت درلود دمجاهدینو دمسلسلو بریدونو له امله تخلیه کړه.

په د ۱۸/ ۷/ ۲۰۰۸ م نیټه دغازي اباد مجاهدینو د ډب بروړه په سیمه کې پر خارجي ځواکونو عملیات ترسره کړ چې په نتیجه کې له ۱۵ عدد ټانګونو څخه ۸ ټانګونه په بشپړه توګه له منځه یوړل چې پکې سپاره ټول سرتیري داور خوراک شول، په دغه کامیاب برید کې دوه لوړ پوړي امریکایان هم تلف شول.

ـ په ۲۱ / مئ / ۲۰۰۹ م نیټه مجاهدینو دغازي اباد موجوده ولسوالي دنیشګام کلي سره جوړشوي دداخلي او خارجي ځواکونو په یو مهم مرکز او یو بله دپوسته باندې تهاجمي برید وکړ او ۱۲ تنه خارجیان او ۷ داخلي دملي اردو عسکر ووژل شول او دیو ترجمان په ګډون۱۲ تنه دملي اردو سرتیري ژوندي ونیول شول، او یاد مرکز او پوسته په کامل ډول لمنځه یوړل شول.

دغه راز په ۲۰۱۱ م کال کې دکامدیش ولسوالي دګوهردیش دسیمې پر پنځو پوستو مجاهدینو تهاجمي برید وکړچې د ګهیځ نه تر۱۱ یوولس بجو پورې یې دوام درلود په نتیجه کې یې۳۷ سرحدي عسکر ختم او یو تعداد ژوندي دمجاهدینو لاسونو ته ورغلل، همداراز پنځه واړه پوستې فتحه شوې.

په لوړو یادو شویو عملیاتو کې چې دافغانستان په معاصرو جهادي عملیاتو کې مهم او تاکونکي عملیات بلل کیږي ، شهید شیخ صاحب یا په کې مستقیم شرکت درلودلی او یا هم دنوموړي په ابتکار ، مشوره او قومنده ترسره شوي دي ، چې دهمدې یادو شویو او ګڼو نورو تاریخ سازو عملیاتو په برکت په نورستان ولایت کې دیرغلګرو پوځي زور مات شو ، او نورستان هغه لومړنی ولایت وو چې یرغلګرو ترې تیښته او شاتګ پیل کړ.

د شیخ دوست محمد صاحب شهادت

دشیخ دوست محمد صاحب دجهادي ژوند معمول دا وو ، چې زیاتره وخت به دخپل مسؤلیت په ساحه کې په جهادي سیمو ګرځیده ، کلي په کلي او جبهه په جبهه به یې دمجاهدینو او عام اولس حال اخیست ، هغوی ته یې دیني موعظې او هدایات اورول او کله ناکله خو به یې دقرانکریم ترجمه او تفسیرهم ورته کاوو ، دغه راز به یې دخلکو دیني پوښتنې او استفتاء وې ځوابولې.

شیخ صاحب له شهادت څخه وړاندې یو داسې خوب لیدلی وو چې نوموړي دشهادت بشارت باله ، چې بالاخره همداسې وشول او نوموړی په څو ورځو کې ددښمن په برید کې شهید شو ، دنوموړي یو ملګری وایي چې شیخ صاحب له شهادت څو ورځې وړاندې راته وویل چې یو شهید ملګری او دده شاګرد مولوي سلیمان د واما د کلي اوسیدونکی کوم چې د شیخ رحمه الله د شهادت څخه یو کال وړاندې شهید شوی وو ، هغه په آس باندې سپور دی او یو اس یې زما لپاره زین کړی ، له ځان سره راروان کړی دی او ماته وایي چې شیخ صیب ، راځه چې ځو دا آس مې ستالپاره راوستلی دی، شیخ صاحب وویل، چې زه ورسره په آس باندې سپور شوم او ورسره روان شوم.

سره له دې چې شیخ صاحب په پرلپسې توګه ددښمن تر تعقیب لاندې وو ، څو ځلې یې چاپې ورباندې واچولې ، او د ۲۰۱۱ م کال په وروستیو کې یې دوه ځله د بې پیلوټه طیارې حملې ورباندې وکړې او څو ځله یې دنوموړي دشهادت دروغجنه ادعاء هم وکړه خو دې ټولو خطراتو نوموړی له جهادي فعالیت څخه منع نه کړ ، او په پوره زړورتوب یې دپخوا غوندې په نورستان کې خپل جهادي فعالیت ژوندی ساته.

تردې چې په ۲/۸/۱۴۳۴ هـ ق نیټه باندې دنورستان ولایت په شملي ګل سیمه کې په داسې حال کې چې دیوه کور ترمخ ترڅپره لاندې له خپلو ملګرو سره ناست وو او دیوې شرعي مسئلې دحل لپاره یې په خپل لیپ ټاپ کمپیوټر کې کتاب مطالعه کاوو ددښمن د بې پیلوټه طیارې دبرید هدف وګرځیده او ددوو تنو نورو مجاهدینو مولوي محمد طاهر او یوه بل زلمي مجاهد سره په شهادت ورسید.

انا لله وانا الیه راجعون

داصول فقه او اجتهاد تاریخ

دریمه برخه: داسلامي نړۍ نامتو عالم ډاکټر محمد حمید الله (رح)

ژ: شهاب منصور

دریمه برخه

ما داصول فقه د پخوانیو څلورو کتابو یادونه وکړه، دامام ابوحنیفه (رحمه الله) "کتاب الرائیه" او په همدي نوم دهغه دوه شاګردانو (امام ابویوسف او امام محمدرح) دوه کتابونه او دامام شافعي (رحمه الله) "کتاب الرساله" له هغه مهال تر دې وخته شاوخوا څوارلس سوه کاله وشول چې شتون لري، مونږ ته ددې څلورو لومړنیو کتابو دشرحو پر ته بل څه په لاس نه راځي، په ټولیزډول دنورو سیمو په نسبت له دې فن سره علاقمندي په ترکستانیانو کې زیاته وه، یا په بله ژبه دې فن ته ترقي ترکانو ورکړي، هغوئ له شلو نه زیات داسې کتابونه لیکلي چې یا هغه نکراړي دي او یاد شرحو او غورچاڼ بڼه لري، مثلاً: یو ضخیم کتاب "ابو الحسین البصري" لیکلی، چې په دوه ټوکونو کې یونیم زرمخونو کې چاپ شوی، چې لوست او مطالعه یې دهر سړي دوس کار ندی، یا دهغه (کتاب) خلاصه امام بیضاوي ولیکله، هغه ټول ټال په شلو مخونو کې دیونیم زرمخونو غورچاڼ کړی، یا د "بیضاوي" په دې لنډیز او غورچاڼ دشرحو او حاشیو لیکلو یوه اوږده لړۍ غځیدلې، درسا بیضاوي لوستلی شي، خو په هغه دپوهاوي لپاره دشرحو، حاشیو او د "حاشیة الحواشي" دمطالعې ضرورت دی، په لنډو الفاظو دالړۍ تر نن روانه ده..

په نني زمانه کې که په دې موضوع یو نوي کوښښ شوی، هغه د اروا ښاد جناب عبد الرحیم صاحب لخوا دی، څوک چې دهندوستان داسامبلۍ پخواني غړی و، بیا وروسته پاکستان ته راغی، نوموړي دقانون په ډګر کې ګرانقدر خدمتونه کړي، څه مهال چې په "مدراس" کې دمرافعه محکمې رئس و، دکلکتې پوهنتون په بلنه یې پر دې موضوع (اصول فقه) یو لکچر ورکړ، کوم چې بیا دمحمدن جیو سپروډنس (CEMUHANADAN JURISPRUDAN)

په نوم دکتاب په بڼه چاپ شو، په هغه کتاب کې نوموړي دلږ څه جدت نه کار اخیستی، هغه داسې چې داصول فقه په اړه دپخوانو کتابونو دموادو راوړلو سربیره اروپا کې په فلسفه او قانون کوم کتابونه لیکل شوي دي له هغو نه یې هم استفاده کړېده او بیا د اسلامي او اروپایي قوانینو ترمنځ یې دیوې موازنې کوښښ هم کړی دی.

له دې پلوه دعبدالرحیم صاحب کتاب داصول فقه په موضوع یو داسې کتاب دی، چې په پخوانو کتابو کې یونوی باب زیات کړ، په هغه کې مونږ ته داسې څېزونه په نظر راځي چې په پخوانو کتابونو کې دهغو ذکر ندی شوی، دمثال په توګه: داصول فقه په پخوانو کتابو کې لومړۍ پوښتنه داکېږي: دقانون ماخذ څه دی؟ ځواب یې دی: "قرآن، حدیث، اجماع اوقیاس" په هغو څلور واړو کې دا ذکر نشته چې قوانین په په کومو، کومو موضوعاتو وي؟ ځیني عبادات دي، ځیني معاملات، ځیني قوانین دتعزیراتو په اړه دي او ځیني بیا دوراثت په باره کې دي، خو ددې علاوه نور هم شته، لکه نړیوال قوانین او "کانستي ټیو شنل لا" او داسې نور... زمونږ دفقهي پخوانو کتابو کې ددې ذکر نشته، قضاوت پوه عبدالرحیم دقوانینو په اصولو کې داهم تشریح او څېړلي، چې واقعاً دادنوموړي لویه علمي کارنامه ده، چې نوي او پخواني معلومات یې پخپل جامع کتاب کې یوځای راوړي.

پای کې په مختصره توګه داجتهادپه اړه به دا عرض وکړم چې: اجتهاد څه شی دی؟ څما دتیرو وینا او څخه به هم تاسو ته جوته شوې وي چې داجتهاد اجازه رسول الله (ﷺ) معاذبن جبل (رضي الله عنه) ته په دې شرط کړې وه چې کوم ځای قران اوحدیث دواړه ساکت وي!! که په قران کې صراحت شوی و، بیا اجتهاد کول ګنجایش نلري، که په قرآن کې سکوت و، لیکن په حدیث کې صراحت و، بیا هم اجتهادته

اړ تيا نشته. اجتهاد يواځي هغه وخت جايز دی چې کله دغه دواړه بنسټيز اساسات يعني په قرآن اوحديث دواړو کې زمونږ دپوښتنې په اړه سکوت په نظر راشي. دقانون جوړولو دې کوښښ ته زمونږ فقهاوو ډېره وده ور کړه اوور ته يې دلږ باريک توپير په وجه هم ګڼ نومونه ټاکلي، چې يو د اجتهاد لفظ هم دی، دقياس لفظ هم دی، داستدلال لفظ هم دی او ور ته د "استصلاح" لفظ هم کارول کېږي. داټول مترادف ندي، بلکې ترمنځ يې نهايتي باريک توپير موندل کېږي. په دې لړ کې زه به په خاص ډول د "استحسان لفظ يادونه وکړم. "استحسان" دحنفي مسلک خصوصيت دی او نورو ته خوښ ندی. د هغوئ ناخوښي ديو ې تيروتنې او ناسم فهم له امله ده، خو په هر صورت هغوئ يې نه خوښوي. تر دې چې تاسي ته دې دحيرانتيا امل نه ګرځي. امام شافعي (رحمه الله) يوه رساله ليکلې دهغې (رسالې) نوم دی "الرد على الاستحسان" په هغه کې يې داستحسان په رد کې دلايل راوړي. دهغې (رسالې) له مطالعې نه مونږ ته په نظر راځي چې هغه (امام شافعي) له استحسان څخه ديوه فرضي مفهوم په اخيستلو رد کړی دی، او د حنفي فقهي له مخې داستحسان مفهوم دادی که د کومې مسئلې دظاهري حالت په بناء څه خبره په ذهن کې ګرځيده. يواځې په هغه دبسيا پر ځای دبنه ژور غور فکر وروسته او دحقايقود عمق او تل په پام کې نيولو سره دې حکم وشي. په دې توګه له استحسانه په کار اخيستو حنفي ايمه يواځي ظاهري حالت کافي نه بولي. بلکې ديوه عميق سبب معلومولو په اساس حکم ور کوي. مثلاً: زه په تاسو کې يوه ته دامانت په ډول څه وسپارم!! چې ته! دافلاني سړي ته ور کړه! تمه او توقع مې داوې چې هغه تن، څما امانت فلاني سړي ته رسوي! نن سبا دپوست بکس نظام له لارې له يوځای نه بل ځای ته پيسې ليږل عادي کار دی، چې ور ته "مني اردر" وايي، ته ! پيسې دپوست بکس اداري ته سپاري او ور ته وايې چې دافلاني سړي ته ور سوئ! کومې پيسې چې تا دپوست بکس اداري ته وسپارلې، دامانت دعامو اصولو له مخې: بايد بعينه هم هغه پيسي چې تا سپارلې هغه سړي ته ور سوي، خو داوسنې پوستي نظام تعامل ته په پام: ستا پيسې به په دولتي خزانه کې جمعه شي او دڅا په نوم چې تا پيسې ليږلې (په مني اردر) هغه ته ددې پيسو په بدل کې نورې پيسې ور کوي. داصل امانت يا پيسو ليږلو ته اړ تيا نشته، هم دا کار اوعمل داستحسان مفهوم دی!اګر که دا طريقه دامانت قانون دلومړي يا سطحي مفهوم نه يو څه مخالفه ده، خو په دې سره دامانت حق په ادا کولو کې اسانتيا ده خو چې داصلي اومتبادلو پيسو ترمنځ دماليت له پلوه کوم توپير نه وي.

ددې لندې تشريح موخه او منشاء داوه چې مسلمانانو دقانون علم دخپل اجتهادي فکر په مرسته داسې مدون کړی، چې اسلامي قانون دهغه جوړونکي (رسول الله (ﷺ)) دوفات وروسته او دهغه په نه موجوديت کې هم ستونزه رامنځته نشوه او نن هم اسلامي قانون دهمدې اصولو په وجه پخپل حالت کې خوندي او په هره زمانه کې دعمل لپاره ور قانون دی. يوه نکته بيانوم بيا دا ليکچر پای ته رسوم هغه دا چې دايو منل شوی اصل دی چې په هر قانون کې تغير يا پخپله قانون جوړونکي راوستی شي، ياد هغه نه هم لوړ شخصيت! له هغه نه کمتر شخص ته دقانون بدلولو اجازه نشته. که الله (جل جلاله) کوم حکم کړی، نو هغه يواځې هم الله (جل جلاله) بدلولی شي! هم دا رنګه دنبي په حکم کې تغير يا پخپله نبي راوستلی شي، يا الله (جل جلاله) او ياد الله (جل جلاله) له لورې بل نوی راغلی پيغمبر: دپيغمبر نه دټيټې مرتبې سړی يې نشي راوستلی. مثلاً: يوفقيه عالم يې نشي بدلولی. له دې پلوه داسلام د قوانينو هغه احکام چې په قران کې دي، هيڅوک تغير ورلی نشي، هو! يوفقيه عالم دبل فقيه عالم رايه ر دولی شي، په ځای يې خپله رايه وړاندې کولی شي، څنګه چې ماوړاندې عرض وکړ، چې دا کار يواځې تر انفرادي قياس، رايې او استنباط پورې خاص نه بلکې داجتماعي رايې په اړه هم پرځای دی. لږ ترلږه په حنفي مذهب کې داخبره منل شوې. چې نوې اجماع پخوانۍ اجماع منسوخولی شي. فرض کړئ په يوشي اجماع شوې، مونږ داجماع منو. خو معنی دانه چې تر قيامته بل شخص يې په اړه څه ويلی نشي که يو عالم په ادب او د دلايلو په څواک ديوې اجماع خلاف نوې رايه وړاندې کړي اويا دهغه رايه نور فقهاء هم اومني. نو دا يوه نوې اجماع شوه. نوې اجماع پخوانۍ اجماع منسوخولی شي. دا اصول مشهور حنفي امام "ابو اليسر البزدوي پخپل کتاب "اصول الفقه" کې بيان کړي. امام "بزدوي" دڅلورمې او پنځمې پيړۍ په منځ کې نوميالی فقيه تير دی. په اسلامي قانون کې دنوموړي لوی کارنامې دي، دهغه ددې وينا په اساس مونږ ويلای شو چې اجماع دستونزو سبب نه ده نور بيا

آیا د اوکراین په سر د نړیوال جنګ خطر زیاتیږي؟

حسن مومند

په اوکراین کې د روانو حالاتو له امله چې دا هېواد اوس په نړیوالو مطبوعاتو کې د خبرونو او بحثونو د سر موضوع ګرځېدلې ده په ښکاره یې حالات د خرابېدو پر لور روان دي او سمدستي یې بېرته د سمېدو څه نښې نه کاري.

د اوکراین په روانو او احتمالي راتلونکو حالاتو مې دخومخونو لیکلو اراده څکه کړیده چې په مطبوعاتو کې مې واورېدل چې ورمه ورځ یاني د مارچ په ۲۰مې نېټې په بروکسل کې د اروپایي اتحادي دغړو هېوادونو دمشرانو جوړې شوې غونډې ته ددې اتحادي د پارلمان مشر مارتن شولتیس دخپلو خبرو په ترڅ کې وویل.. داوکراین دستونزې پر سر په اروپا کې دجنګ درامنځته کېدلو خطر نه ردوم. ددې خبرې احتمال شته چې ددې ستونزې پر سر اروپا کې جنګ رامنځته شي،،

په نړیوالو مطبوعاتو کې هم داروپائي اتحادې دپارلمان دمشر څرګندونو ته ور ته خبرې په عامېدو دي او ډېر خلک همدا یوه خبره کوي چې شاید داوکراین روانه ستونزه ددریم نړیوال جنګ درامنځته کېدو سبب شي.

دلته دنړیوال جنګ یا لږ تر لږه ددوه سترو قدر تونو ترمنځ دجنګ درامنځته کېدو خطر څومره دی؟ لیکنه مې دهمدې یوې خبرې

دروښانه کولو لپاره ده خو ترې وړاندې په داوکراین او کریمیا تېر سیاسي او جغرافیایي حالات لږ وغړیږو .

د جغرافیایي موقعیت له مخې اوکراین خورا مهم هېواد دی، په شرقي اروپا کې واقع ددې ختیځ او شمال ختیځ ته روسیه پر ته ده شمال لویدیځ ته یې بیلاروس دی، لویدیځ ته یې پولینډ، سلواکیا او هنګري پرا ته دي او لویدیځې پولې یې درومانیا او مالدوا سره لګېدلې دي، ۶ لکه ۳ زره ۶۲۸ کیلو متره مربع مساحت لري چې دهمدې پراخه مساحت درلودلو له امله دا هېواد داروپا تر ټولو ستر هېواد ګڼل کېږي او که دروسي اروپائي برخې ته اعتبار ور کړو نو بیا داد اروپا دوهم ستر هېواد دی ۴۵ میلیونه نفوس لري چې ۷۷سلنه یکې ددې سیمې خپل وګړي دي ۱۷ سلنه یې دبیلاروس سره تړ اولرونکي وګړي دي اوباقي پاتې یکې دتتاري مسلمانانو په شمول نور اقلیتونه ژوند کوي؛ ددې هېواد دولتي ژبه اوکرایني ده خو روسي ژبه هم یکې عامه ده.

داچې ډېرې پراخې زراعتي ځمکې لري نو نړۍ ته دخوراکي موادو په سترو صادرونکو هېوادونو کې شمېرل کېدلو : په ۲۰۱۱ کال دغنمو شوېو ارقامو له مخې اوکراین په نړۍ کې داجناسو دریم تر ټولو ستر صادرونکی هېواد و.

کیف او سواستوپل ددې هېواد ستر او مشهور ښارونه دي، چې دبحر اسود لپاره د روسې دسمندري جازونو اډه هم په سواستوپل ښار کې ده ؛ دا هېواد ۲۵ ولایتونه لري.

په دشلمې پېړۍ په اوائلو کې چې اوکراین دپخواني شوروي اتحاد برخه ګرځېدلې وه نو تر ۱۹۹۱ پورې یې برخه وه، خوتاپو وزمه کریمیا یو مستقل هېواد و چې دخروشوف دواکمنۍ پر مهال روسې دا داوکراین برخه ګرځولې وه.

کله چې د۹۰ یمې لسیزې په سر کې شوروي اتحاد ټوټې کېدلو نو دا۱۹۹۱ کال ددسمبر په لومړۍ نېټې په اوکراین کې هم دشوروي اتحاد نه دجدا کېدلو لپاره ټولپوښتنه او دهېواد لپاره دنوي ولسمشر دټاکلو په موخه انتخابات ترسره شول چې یکې دهېواد ۹۰ سلنې وګړو ګډون وکړ دهېواد دازادۍ په حق کې دقاطع اکثریت رایو درامخې ته کېدوله امله دې هېواد ازادي واخسته اولومړی ولسمشر ور ته وټاکل شو : دازادۍ

اخستلو پر مهال اوکراین دنړۍ په سطحه داتومي وسلو تر ټولو ستره دریمه ذخیره درلوده چې دامریکا اونورلویدیځ دسخت فشار له امله اوکراین ددې وسلو زیاتره برخه ضایع کړه ؛ څه برخه یې په ۱۹۹۲ کې روسې ته دیو رامنځته شوي تړون په نتیجه کې انتقال شوهاو یورانیم خوېې ټول دډېرو کمو مادیاتو په مقابل کې لویدیځ ته ورسپدل .

اوکراین داتومي اونورو عصري وسلو نه بې برخې وځکه خو ترې روسانو ټوله کریمیا ونیوله خو اوکراین پرې یوډز هم ونه شو کړای .

له ازادۍ اخستلو وروسته دشوروي اتحاد دنورو ازادو شویو هېوادونو برعکس اوکراین دډېر زیات اقتصادي زوال ښکار شو. د۱۹۹۱ نه تر ۱۹۹۹ پورې اوکراین دخپلو ملي حاصلاتو ۶۰ سلنه له لاسه ورکړه چې له امله یې بدامني او اداري فساد ډېر زیات او په هېواد کې په ۱۹۹۶ کې ددولت پرضد دولس له لورې لاریونونه پیل شول تر دې چې ولسمشر استعفا ورکړه او لونید کوچما دهېواد دوهم ولسمشر شو. چې یې نوی اساسي قانون نافذ کړ او هېواد ته یې نیم ولسمشریز نظام راوړ ؛ بیا په ۲۰۰۴ کې په ترسره شویو انتخاباتو کې وکټریانو کوویچ بریالی اعلان شو خو داچې هغه دوخت صدراعظم هم و نو خلکو پرې په انتخاباتو کې ددرغلۍ تور ولګولو ولس دانتخاباتو دنتایجو نه دانکار کونکي اپوزیسیون مشر وکټریوش چنکو په ملتیا لاریونونه پیل کړل ؛ سترې محکمې انتخابات لغوه اعلان کړل، وکټریوش چنکو ولسمشر او مېرمن یولیاتیموشنکو لومړۍ وزیره شوه چې د۲۰۰۵ ددسمبر پورې په همدې منصب پاتې وه ؛ په ۲۰۰۶ کې یو ځل بیا وکټریانو کوویچ لومړی وزیر شو، په ۲۰۰۷ کې ناڅاپي انتخاباتو رامنځته کېدو ته لار برابره شوه چې یکې مېرمن یولیاتیموشنکو لومړۍ وزیره شوه چې د۲۰۱۰ دمارچ تر ۱۱ پورې دخپل دې منصب په ساتلو توانېدله. داقتدار نه دمحرومولي نه پس پرهغې دواک نه دناوړه ګټې اخستلو او دملي شتمنیو دلوټولو تورونه ولګېدل. په عمري حبس او ۱۸۸ ملیونو ډالرو جریمې محکومه شوه.

د۲۰۱۰ کال دفرورۍ په ۲۵ مې نېټې وکټریانو کوویچ ولسمشر شو چې د۲۰۱۴م کال دفرورۍ تر ۲۲ مې نېټې پورې په خپل همدې تر ټولو لوړ دولتي منصب پاتې شو. داوسني ولسي پاڅون په نتیجه کې هغه روسې ته په تېښتې بریالی او پرځای دپارلمان نوی ویانډ الیګزانډر ترچاینوف دهېواد عبوري ولسمشر شو.

نو که په دقت وګورو داسې ښکاري چې دازادۍ اخستلو داعلان نه ترننه په تېرو کابو ۲ لسیزو کې په اوکراین کې سیاسي ګډوډي وه خو اوسني سیاسي بحران یې دتېرو کابو ۲ لسیزو دسیاسي ګډوډیو په پرتله ځکه ډېر خطرناک دی چې یکې دنړۍ دسترو ځواکونو مفادات متصادم شوي او حالت دهرې نه بلې ورځې ته خرابیږي.

په کومو هېوادونو کې چې انقلابونه رامنځته کېږي نو کله نا کله یکې داسې ولسي اقدامات رامنځته شي چې ځمکني حقایق ډېر وروسته پرې پردي ؛ اوکراین کې همداسې وشول ؛ هورې چې په ډېرې تېزۍ پېښې په مظاهرو او مظاهرې په انقلاب بدلې شوې نړۍ یې حیرانه کړه. دادراماتیکي ټولې پېښې په یوې اوونۍ یانې دفرورۍ د ۱۸ مې نه تر ۲۵ مې نېټې پورې رامنځته شوې.

داوکراین په اړه دروسي او لویدیځ ترمنځ تېر کال دنومبر په ۲۲ مې نېټې له دې امله کشمکش پیل شو چې اروپائي اتحادې اوکراین ته دتجارتي تړون وراندیز وکړ چې تر مخه به یې اوکراین ددې اتحادې پرمخ دسوداګرۍ لپاره دکیف دروازې پرانستلې. اوکراینې ولسمشر وکټریانو کوویچ چې روسې سره یې نېږدې اړیکې درلودلې داروپا دا وراندیز رد کړ چې ور سره سم اپوزیسیون داروپایي اتحاد سره دتړون په حق کې پر خلکو دازادۍ څلور لارې ته دراوتلو غږ وکړ، دې میدان ته په لوی شمېر خلک راووتل؛ لاریون دهرې نه بلې ورځې ته ستر شو خو ولسمشر یې نه یواځې داچې څه پروا ونکړه بلکې ددسمبر په وروستیو کې یې دروسې سره د۱۵ ملیارډو ډالرو مرستو دتر لاسه کولو تړون هم لاسلیک کړ دې دمظاهرینو غصه نوره هم زیاته کړه چې زیاترو مبصرینو همدا دروسي مشر پوتین فتح وګڼله.

په جنورۍ کې مظاهرې راکمې شوې خو په فرورۍ کې یې بیا زور واخست او په ولسمشر یانو کوویچ دلویدیځ له لورې فشار هم زیات شو ځکه چې دلویدیځ یقین ته پریوتې وه چې که دروسې مخه ونه نیول شي شاید بیا دسوړ جنګ یاد تازه شي ؛ دمظاهرو او دفشار دزیاتوالي له امله اوکراینې ولسمشر اپوزیسیون ته پدې تمه په حکومت کې دګډون دعوت ورکړ چې مظاهرې به ختمې او واک به یې تر ۲۰۱۶ پورې وغځېږي خو چې ګټه یې ونکړه نو اپوزیسیون ته یې اخطار ورکړ چې دولت ته دې دګوابنونو لړۍ بنده کړي ؛ په همدې ورځو کې داوکراین ولسمشر داولمپیک ژمنیو لوبو په لړ کې سوچي ته

ولاړ چې هورې يې دخپل روسي سيال سره هم ليده وشول او چې دروسې نه راستون شو نو دازادۍ څلور لارې کې دراټولو شويو مظاهرينو دخپرولو حکم يې صادر کړ، امنيتي ځواکونو مظاهره چيانو ته ۱۲ ساعته وخت ور کړ خو چې دمهلت په پوره کېدو مظاهره چيان پانځېدل نو پوليسو او نورو امنيتي ځواکونو يې په زور دپاځولو کوښښ وکړ چې پرې مظاهره چيانو پترولي بمونه او تيګې وار کړې امنيتي ځواکونو په مظاهره چيانو دزې پيل کړې چې په نتيجه کې نږدې ۱۰۰ تنانو خپل ژوند له لاسه ور کړ.

ددې پېښې در امنځته کېدو نه پس امريکا دالمان نه دستونزې دحل لپاره دمنځګړيتوب غوښتنه وکړه: دالمان، فرانسې او پولينډ دباندنيو چارو وزيران دامريکا دهمدې غوښتنې نه پس کيف ته ورسېدل چې داوکرايني ولسمشر او اپوزيسيون ترمنځ د، قومي دولت په تشکيل، دولسمشر او پارلمان تر منځ دواک په توازن، په ۲۰۰۴ کې دجوړ شوي اساسي قانون په نفاذ ،دوژل شويو تنانو دپېښې په اړه دڅېړنو او ستمبر کې دانتخاباتو په کېدلو ديو تړون په رامنځته کولو بريالي شول: امريکا ددې تړون هر کلی وکړ او روسې يې په نفاذ کې دمرستې ژمنه وکړه خو مظاهره چيانو دا تړون رد کړ او دولسمشر داستعفا او ژر تر ژره دانتخاباتو په غوښتنه کلک پاتې شول :په همدې وخت کې پارلمان غونډه راوبلله چې دپارلمان ۴۸۷ غړو يکې ګډون وکړ دګډونوالو په قاطع اکثريت دپارلمان نوی رياند وټاکل شو: وياند ددپارلمان دغړو په اتفاق دتورچينوف په عبوري ولسمشر جوړولو، دکورنيو چارو دوزير دبرطرفی، داساسي قانون دنفاذ دانتخاباتو په قوانينو کې دترميم او دزندان پخواني ولسمشرې يولياتيماشنکو دازادۍ پرېکړې يې وکړې.

دپارلمان دپرېکړو نه څو ساعته وړاندې اوکرايني ولسمشر په خپلې تلويزيوني وينا کې په کيف کې رامنځته شوې پېښې په بغاوت تعبير کړې او زياته يې کړه چې يواځې هماغه قانوني ولسمشر دی خو چې وضعيت يې په ګټه نه و نو دهېواد ختيځې سيمې خر کيف ته په تېښتې کې ور ته عافيت ښکاره شو: خر کيف سيمه کې دروسي ژبو اکثريت دی : خر کيف ته دولسمشر وکتريانو کوويچ دتېښتې نه پس دحالاتو دمخ پر ښه کېدو تمه کېدله خو چې دوکتريانو کووچ په غوښتنې روسې داوکراين کريميا نومې سيمې ته خپل فوځونه داخل

او دا ټوله سيمه يې اشغال کړه نو حالت له بدو بدتر شول: دروسې دا اقدام داوکراين عبوري ولسمشر په خپل هېواد بهرني فوځي يرغل وګڼلو: فوځ ته يې دتيارسی حکم وکړ او پدې اړه يې دامريکا او برتانې نه دمرستې غوښتنه وکړه.

دمارچ په ۲ مې نېټې په برسلز کې دناټو دغړو هېوادونو دمشرانو غونډه راوبلل شوه چې پکې دروسې دااقدام وغندل شو، دادارو پا امنيت ته خطر وبلل شو او دروسې نه وغوښتل شول چې دکريميانه خپل فوځونه شاته کړي خو نه يواځې داچې دلوېديځ داغوښتنه له پامه وغورځول شوه بلکې دکريميا ددولت له لورې په ترسره شوې ټول پوښتنې کې دکريميا ۹۰ فيصد وګړو دروسې سره دالحاق په حق کې رايې ور کړې، دروسې دپارلمان نه دمنظورۍ نه پس ولسمشر ولادي ميرپوتين په روسې کې کريميا دشامليدو تړون لاسليک کړ او پدې توګه په يوې اوونۍ کې کريميا دروسې برخه وګرځېده.

دمارچ په ۶مې نېټې امريکا پر روسې او کريميا دويزې بنديز اعلان کړ همدا راز په برسلز کې د۲۸ غړو هېوادونو په بهرنی غونډه کې هم پر روسې دمحدودو بنديزونو پرېکړه وشوه او دستونزې دسوله ايز نه حل په صورت کې پکې دلازياتوالي ګوابن هم وشو:ددې تر څنګ اروپائی اتحاد دروسې په ۱۲ او امريکا په ۲۰ فوځي او سياسي مشرانو بنديزونه لګولي دي: همدا راز امريکا او متحدينو يې په G8 کې دروسې رکنيت معطل کړيدی. دامريکا ولسمشر بارک اوباما ويلي : کريميا ته دروسې دفوځونو داخلېدل داوکراين خپلواکي ترپوښتنې لاندې لاندې راوستې ده نو بايد روسيه له کريميا خپل فوځونه وباسي، خو دروسې ولسمشر پوتين وايي دکريميا ټول پوښتنه دجمهوري اصولو سره سمه ترسره شويده، لوېديځ بايد سوړ جنګ ته لمن وهل پرېږدي؛ دروسې دګټو پر ضد دځه ويلو نه نوره ډډه وکړي: په اوکراين دروسې ژبو وګړو ژوند ته خطرونه متوجې دي چې روسيه يې دساتنې حق لري،،

خو لنډه داچې دسوړ جنګ دپای ته رسېدو نه پس په ړومبي ځل روسيه او دامريکا په مشرۍ کې لوېديځ سره دمقابلې ميدان کې ښکاري : اوکراين چې لوېديځ يې دخپلې برخې ګرځولو په تکل کې و روسې يې يوه برخه ترخپل کنترول لاندې راوسته : پرنور اوکراين يې هم دبريد کولو امکان نه شي رديدای څکه چې دپخواني شوروي

اتحاد غړي هېوادونه بیا د روسې سره یو ځای کېدل یا لږ تر لږه د روسې تر اغېزې لاندې راوستل یې د پوتین ډېره ستره هیله ده.

نو پوښتنه اوس داده چې د روسې او لویدیځ ګټې چې داوکراین په ځمکه کې په ډېر سخت ټکر کې سره واقع شویدي نو لکه نړیوالې رسنۍ چې په ډېر زور شور لګیا دي رښتیا هم ددې دواړو اړخونو ترمنځ د جنګ د رامنځته کېدلو او بیا په دریم نړیوال جنګ د بدلیدلو ډېر ستر خطر شتون لري؟

که حالات په دقت وڅارل شي نو داسې ښکاري چې د خپل بازار ګرم ساتلو لپاره هسې نړیوالو مطبوعاتو ته ستره موضوع په لاس ورغلې ده. حالات هیڅکله هغه لور ته ندي روان د کومو چې وړاندې وینې کېږي؛ داسمه ده چې دلویدیځ او روسې د ګټو دلته سخت ټکر راغلی دی؛ یو هم دلته دېل بر لاسی نه غواړي خو دا هم یو حقیقت دی چې یو هم دبل سره په جنګ کې اخته کېدل نه غواړي، داول او دوهم نړیوال جنګونو ستر تلفات او تاوانونه ددواړو مخو ته دي؛ دافغانستان جنګ ورماته کړې ملالا روسې پوره نده نیغه کړې او امریکا خولا د خپل تاریخ په تر ټولو اوږد او تاواني جنګ کې راښکیل ده او سره د ټولو کوښښونو تر اوسه هم په وتلو نده بریالی. شوې نوولې به دوۍ دواړه په مالي او ځاني لحاظ یو ستر تباه کونکي جنګ کې ځانونه اخته کوي ؟

امریکا به په جنګ کې داخته کېدونه د ځان ساتنې ډېر کوښښ کوي خو روسیه هم داسې نده چې ګینې خامخا ځان دامریکاسره په جګړه کې ځان اخته کول غواړي : روسیه نه په خپل زور مغروره ده او نه رښتیا هم دومره ځواکمنه ده لکه څنې محلي رسنۍ یې چې ډېره طاقتوره ښکاره کوي؛ دارښتیاده چې روسیه د ۹۰ یمې لسیزې په پر تله ډېره ښه شویده ؛ په هر لحاظ یې پر مختګ کړیدی او په نړۍ کې بیا مطرح ده خو روسیه تر هغه حده هم وړاندې نده تللې چې په یواځې ځان دلویدیځ مقابلې ته راووځي ؛ د کریمیا دلاندې کولو نه پس چې امریکا او اروپا د روسې سره تجارتي اړیکې پرې کړې او دجولائي میاشت کې د ۸ G غړو هېوادونو کېدونکي کانفرانس سره یې مقاطعه اعلان کړه نو د روسې کرنسي په نړیوال مارکیټ کې د ډالر په مقابل کې دومره راپرېوته چې د خپل ارزښت بیا تر لاسه کولو یا لږ تر لږه د نور پرېوتو نه دساتنې لپاره روسیه مجبوره شوه چې مارکیټ ته لس بلیونه ډالر عرضه کړي.

نو ښکاري داسې چې د کریمیا داشغال نه پس به روسیه انتظار وباسي که لویدیځ سره داړیکو خرابېدلو او وربانديې دبندیزونو دلګېدلو له امله یې اقتصاد مخ په خرابېدو شو نو نرمي به غوره کړي او شاید چې د کریمیا نه یو قدم هم وړاندې لاړ نه شي او که یې اقتصاد خراب نه شو نو شاید چې داوکراین په نورو برخو دقبضې لپاره هم یو لړ نظامي اقدامات وکړي چې پدې سره به یې دامریکا او نور لویدیځ سره روابط نور هم ترینګلي شي خو بیا به هم دامریکا او روسې ترمنځ تصادم رامنځته نه شي ځکه چې اوکراین دناټو غړیتوب نه لري چې همدا به امریکا ته دروسې مقابلې ته دننه راوتلو ښه پلمه وي ؛ موږ اوتاسو ولیدل چې دااروپائي اتحادیې پارلمان اعلان وکړ چې دروسې سره دمخامخ جګړې احتمال مخ په زیاتېدو دی خو ددې په سبا دهالینډ په هاګ ښار کې داتومي سر مشریزې غونډې په څنډه کې دامریکا ولسمشر بارک اوباما خبریالانو ته ښه په روښانه ټکو وویل چې امریکا به هیڅکله دروسې پر خلاف له فوځي طاقت نه کار وانخلي او دلیل یې دا وړاندې کړ چې ګنې اوکراین دناټو تړون غړی هېواد ندی په داسې حال کې چې امریکا یواځې له ځان او دخپلو ناټو متحدینو څخه ددفاع لپاره دفوځي ځواک کارول مکلفیت لري؛ هغه په خپل فوځي کمزورۍ داعتراف کولو په لړ کې دا هم وویل چې دا شوني نده چې روسې فوځیان په زور له کریمیا څخه وویستل شي

داوکراین څنې ګاونډي هېوادونه لکه پولینډ، رومانیه سلواکیا او هنګري دناټو غړیتوب لري نو که پدې هېوادونو کې په کوم یو روسې حمله وکړه او یا دوۍ کې کوم داوکراین دمرستې په موخه دروسې مخې ته ودرېدلو نو بیا دامریکا او روسې ترمنځ تصادم یقیني کېږي خو نه به روسیه پدې هېوادونو دحملې اشتباه وکړي او نه به دا کمزوري هېوادونه دخپل ځان نه دخوراډېرې ځواکمنې روسې سره دښکر اړمولو حماقت وکړي. هو! دبالواسطه تصادم خطر شتون لري ؛ هغه داسې چې دروسې په مقابل کې داوکراین دځواکمن کولو په موخه کېدای شي امریکا اودناټو څنې ستر غړي هېوادونه په پټه داوکراین سره فوځې مرستې وکړي چې ورسره به روسیه هم په اوکراین کې خپل طرفداران په پټه مسلح کړي. اوکراین به دجنګ ډګر وګرځي چې دابه دروسې لپاره ښه خبر نه وي.

سید سعید

دګوانتانامو

بدنام زندان او دنړیوالو چوپتیا

په یو یشتمه پیړۍ کي هم چي زیاتره روڼ اندي یې دتېروقرنونوڅخه په هره او کاملا معنی متفاوته ګڼي هماغه دزور بالا زور پالیسي حاکمه اوپه درز پکي روانه ده. په معاصره نړۍ کي هم په اصطلاح داختناق او استبداد او دختونو غونډي دزوروزورهري شپې او بدي ته چکچکي کیږي، وحشت اوبربریت ته یې خواخوږي ویل کیږي، دله ییزي وژني یې بشردوستي ګڼل کیږي، پرازادو او مظلومو ولسونو تاړاکونه یې ازادي، بخښونکي خوځښتونه بلل کیږي، دپورته ذکرشوو خبروتر ټولو جوت او روڼ مثال په نننۍ نړۍ کي امریکا او دهغې دجبر او ظلم روانه پالیسي ده.

